# آریانا

## مجلهٔ علمی - تحقیقی

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونيت
د ټولنيزو علومو مرکز

پہ دې ګڼه کې:


- اهمیت راه لاجورد در توسعه تجارت
- خوشحال خان خټک او تاریخ لیکنه
- تاملی در وضعیت طبقات اجتماعی
- د هویت په تثبیت کې د نوې تکنالوژی
- جرایم رئیس جمهور و چگونگی
- په افغانستان کې د اوبو سرچینې او پرملې
...



- دوره پنجم
- ربع: سوم
- سال: ۱۳۹۷ هـ.ش.
- شماره مسلسل: ۴۳۰
- سال تأسیس: ۱۳۲۱ هـ.ش
- کابل - افغانستان

۳

مجلهٔ علمی - تحقیقی آریانا

شماره ۳، سال ۱۳۹۷ هـ.ش


# ARYANA

## Quarterly Journal

**Establishment 1942**
**Academic Publication of**
**Afghanistan Academy of Science**
**Serial No: 430**

Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

مجلۀ علمی- تحقیقی

اقتصاد، تاریخ و اتنوگرافی، حقوق و علوم سیاسی، روانشناسی و تعلیم و تربیه، ژورنالیزم، فلسفه و جامعه شناسی

مؤسس احمد علی کهزاد

سال تأسیس ۱۳۲۱ هـ . ش.

شماره مسلسل ۴۳۰

دوره پنجم

## یادداشت:

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به اداره اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نشده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصۀ حد اقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، و گویای پرسشی اصلی باشد که مقاله در پی پاسخ دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان-های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان، تسلسل منطقی موضوعات در صفحۀ یک رویه کاغذ A4 در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵صفحه معیاری بوده، با فونت ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را با در نظر داشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل ها و اندیشه های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی گردد.

بسم الله الرحمن الرحيم

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان

**مدیر مسؤول:** سر محقق شاه محمد میهن ورد

**مهتمم:** معاون محقق رفیع الله عرفان

**هیأت تحریر:**

- سر محقق شیر علی تزری
- سر محقق عبدالجبار عابد
- سر محقق محمد موسی رحیمی
- معاون سر محقق داکتر فاروق انصاری
- معاون سر محقق وجیه الله  شپون

**دیزاین:** رفیع الله عرفان

**مطبعه:** مطبعه صنعتی چهاردهی

**تیراژ:** ۵۰۰ نسخه

**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، طره باز خان واټ،

کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل

**شمارۀ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** informationasakabul@gmail.com

**ایمیل مدیریت مجله:** aryanajournal777@gmail.com

**اشتراک سالانه:**

کابل: ۳۰۰  افغانی

ولایات: ۵۰۰ افغانی

کشورهای خارجی: ۱۰۰ دالر امریکایی

- قیمت یک شماره در کابل: ۸۰ افغانی
- برای استادان و دانشمندان اکادمی علوم: ۷۰ افغانی
- برای محصلین و شاگردان مکاتب: ۴۰ افغانی
- برای سایر ادارات: ۸۰ افغانی

# فهرست موضوعات


| شماره | عنوان | نویسنده | صفحه |
|---|---|---|---|
| ۱. | اهمیت راه لاجورد در توسعه… | سرمحقق شیرعلی تزری | ۱ |
| ۲. | خوشحال خان خټک او تاریخ… | سرمحقق محمد شریف ځدران | ۱۲ |
| ۳. | تاملی در وضعیت طبقات … | معاون سر محقق فاروق انصاری | ۳۷ |
| ۴. | د هویت په تثبیت کې د نوې… | پوهاند نقیب الله ثاقب | ۴۸ |
| ۵. | جرایم رئیس جمهور و چگونگی… | محقق محمد موسی حاجی‌زاده | ٦٦ |
| ٦. | د دعوې ډولونه | څېړنیار عبدالخالق فردوس | ۹۴ |
| ۷. | د افغانستان په اقتصادي… | څېړنیار خوشحال تسل | ۱۱۰ |
| ۸. | آموزش و پرورش در… | پوهندوی شاه صنم عمری… | ۱۲۳ |
| ۹. | په افغانستان کې د اوبو … | پوهنمل محمدرحیم (خاکسار) | ۱۳۸ |
| ۱۰. | د افغانستان د مدني قانون… | نوماند څېړنیار عبدالصبور مبارز | ۱۵۹ |
| ۱۱. | قدرت د برتراند آرتور ویلیام… | څېړنوال سلطانی منگل | ۱٦۹ |

**سرمحقق شیرعلی تزری**

# اهمیت راه لاجورد در توسعه تجارت افغانستان

**خلاصه**

افغانستان برای رهایی ازجنجال های ترانزیتی با کشورهای همسایه و رسیدن به آبهای آزاد به تاریخ ۲۴ عقرب۱۳۹۴ طرح احیای مجدد راه تاریخی لاجورد را به کشورهای ذیدخل ارایه کرد که خوشبختانه پذیرفته شد. زیرا درکشورهای محاط به خشکه احداث چنین راه ها یکی ازنیاز مندی های مبرم و اولیهٔ آنها میباشد. این راه تاریخی علاوه بر اینکه نقش مهمی در ترقی و پیشرفت اقتصادی و تجارتی کشورهاییکه در مسیر آن قراردارند خواهد داشت، همچنان وسیلهٔ مؤثری برای اتصال آسیای جنوبی به اروپا بوده وسبب توسعه و گسترش روابط نیک سیاسی، فرهنگی، امنیتی و نظامی بین کشورها خواهد شد و زمینه های سیاحت را برای سیاحان و جهان گردان مساعد خواهد ساخت و در نهایت انتظار میرود که زمینه ساز خوبی برای حل منازعات و کشمکش های منطقوی نیز گردد.

موافقتنامهٔ راه لاجورد تسهیلات گمرکی وسایر سهولت ها را به تاجران وسرمایه گذاران کشور ما بوجود خواهد آورد. با بهره برداری از این راه، افغانستان بار دیگربه چهار راه ترانزیتی منطقه یی و بین المللی بدل خواهد شد. با وجود همه خوشبینی هاییکه دراحیای دوبارهٔ راه لاجورد وجود دارد چالش ها را نیز نباید نادیده گرفت که درین مقاله به طور اجمال به آن پرداخته خواهد شد.

**مقدمه**

راه ها و شاهراه ها در طول تاریخ بشریت یکی از نیاز های اساسی بوده و انسان ها به هر نحوی ممکن تلاش نموده اند تا با یکدیگر روابط برقرار نموده ازهم دیگر بیاموزند، از دست آورد های یکدیگر استفاده نمایند، محصولات تولیدی و پیداوار

منطقۀ خویش را به مناطق دیگر عرضه نموده و به قیمت بلند تر به فروش برسانند، تا باشد که وضع زنده گی خویش را بهبود بخشند. همین تلاش انسان به خاطربهزیستی سبب شده تا ابتدائی ترین وسایل ترانسپورتی (حیوانات) و راه های دشوار گذرگذشته را، با پیشرفته ترین وسایل ترانسپورتی (موتر، ریل، کشتی و هواپیما) و راه های مدرن مبدل سازند تا به زود ترین زمان محصولات تولیدی را از یک نقطه  به نقطۀ دیگر انتقال دهند.

در زمانیکه نه وسایل مخابراتی وجود داشت و نه هم از امنیت کامل راه ها خبری بود، انسان ها با عزم و اراده قوی و با قبول خطر و تحمل خسته گی طاقت فرسا با استفاده از مرکب، اسپ و اشتر از یک نقطه به نقطۀ دیگر سفر نموده و راه را  برای نسل های بعدی هموارنمودند. زیرا به این امرمتیقن بودند که ارتقای سطح زنده گی جوامع ازطریق رشد اقتصاد ملی و تسریع آهنگ رشد آن بدون توسعۀ شبکۀ مواصلاتی نه تنها مشکل بلکه ناممکن خواهد بود.عدم موجودیت شاهراه ها و وسایل کافی حمل ونقل باعث میشود تا مواد تولید شدۀ یک محل یا حوزۀ جغرافیایی به حوزۀ دیگرانتقال نشده وبه فروش نرسد. لذا جدی ترین نیازمندی احداث شاهراه ها وترانسپورت درتجارت است. نبود  راه های مواصلاتی استندرد درکشورما باعث شده تا مناسبات تجارتی ما با جهان طورشاید و باید تأمین نشود، درحالیکه شاهراه ها به حیث زیربنای مهم اقتصادی میتواند نقش با ارزش را در رشد و انکشاف تجارت، صنعت، زراعت وپیوند و اتصال شهرها، آمیزش اجتماعات، بهبود وضع اداری، سیاسی  و فرهنگی داشته باشد. درکشور ما این مشکل بیشتر از دیگر کشورها به مشاهده میرسد. زیرا همیشه کشورهای همسایه که افغانستان ازطریق آنها اموال تجارتی خود را به خارج صادر میکند در برابر تجارت ما مشکل تراشی میکنند، همین امر سبب شد تا دولت افغانستان درصدد حل ریشۀ این مشکل برآید. بعد از مطالعات وتحقیقات این نتیجه بدست آمد که بهترین راه حل این مشکل احیای دوبارۀ راه تاریخی لاجورد میباشد. بنا برآن دولت افغانستان طرح آنرا به کشور های ذیدخل ارایه کرد که به کمال میل پذیرفته شد. درین مقاله نخست اهمیت راه های مواصلاتی و تاریخچۀ راه لاجورد بررسی شده سپس اهمیت راه لاجورد در تجارت توضیح گردیده وهمچنان روی چالش هایی که دربرابر آن قراردارد نظر انداخته خواهد شد.

مبرمیت: درشرایط موجود کشور ما، احیای راه لاجورد از اهمیت ومبرمیت خاص برخورداربوده، تحقیق در مورد آن ما را کمک می کند تا اهمیت آنرا برای عامۀ مرم توضیح نماییم.

**هدف:** هدف این نبشته نیز اینست تا اقتصادی بودن و یا عدم اقتصادی بودن استفاده از این راه توضیح شود.

**روش تحقیق:** تحقیق وتکمیل این مقاله به شیوۀ تحلیلی با استفده از کتب وسایت های انترنیتی انجام پذیرفته است.

## اهمیت راه های مواصلاتی

دانشمندان اقتصاد ارزش خطوط مواصلات را از لحاظ اهمیت چون شرایین در وجود تعریف کرده اند. همان گونه که بقای موجود زنده بدون سلامت شریانها و فعالیتهای ثابت آن مفهومی ندارد، ارتقای سطح زنده گی جوامع بدون تکمیل و توسعۀ شبکه های مواصلاتی ممکن و مقدور نیست.(۲: ص۴۳) درکشورهای محاط به خشکه ضرورت به اعمار و احداث شاهراه های زمینی وخط آهن بیشترازدیگر کشورها احساس میشود، لاکن دربعضی کشورها انکشاف خطوط مواصلاتی وقت زیاد، مصارف گزاف، پرسونل کافی و وسایل پیشرفته را ایجاب میکند. مگرموقعیت جغرافیایی کشورما به مثابۀ نقطۀ وصل آسیا واروپا ایجاب میکند که به هروسیلۀ ممکن باید به اعمارسرک ها و راه های آهن پرداخته شود. زیرا افغانستان به حیث کوتاه ترین، ارزان ترین، مناسب ترین حلقۀ اتصال آسیا واروپا و منجمله حوزۀ همکاری های اقتصادی منطقوی، سازمانهای ایکو، سارک وشانگهای نقش ارزنده را ایفا مینماید. طرح ایجاد یک مارکیت تجارتی بین المللی دریکی ازولایات کشورما نه تنها برای افغانستان بلکه برای کشورهای منطقه ازمؤثریت ومثمریت فوق العادۀ برخوردار بوده وپیاده ساختن این طرح بدون موجودیت راه ها وسرک های مناسب ممکن نیست. لذا تکمیل راه های حلقوی و اعمار راه آهن درزمینه بهترین وسیلۀ پیاده ساختن این طرح خواهد بود. زیرا همان طور که تذکر داده شد افغانستان درطول تاریخ نقطۀ و صل تمدن های قدیمی چین، هند، آسیای میانه، ایران و اروپا بوده ومحل عبور و مرورکاروان های انتقال اموال تجارتی شناخته شده است. نمونۀ روشن

آن موجودیت راه ابریشم و راه لاجورد می باشد. گرچه امروز وسایل ترانسپورتی مدرن و سریع السیر بوجود آمده و تکنالوژی اطلاعاتی فاصله ها را کوتاه ساخته است، لاکن اهمیت راه ها و شاهراه ها نه تنها با همان پیمانهٔ گذشته، بلکه بیشتر از پیش باقیست. به همین خاطر کشور ها می کوشند تا به راه های دست پیدا کنند که کوتاه تربوده و ارزانتر، امتعه را از یک بازار به بازار دیگر انتقال دهند، زیرا در تجارت پیروزی از آن کسی است که هر کالا را به وقت معین آن به بازارمورد نظر عرضه نماید.

یک نکته راقابل تذکر میدانم اینکه با وجود اهمیت فوق العادهٔ که راه ها و شاه راه ها دارند ساختن سرک های مدرن و عصری در افغانستان بسیارجوان بوده و بیشتر از نود سال عمر ندارد. چنان چه تاریخچهٔ سرک سازی کشورنشان میدهد که اولین سرک از راه کویته چمن در سال ۱۳۰۵ به قندهار وصل گردید و بعداً سرک پشاور تورخم - تورخم جلال آباد، گندمک، جگدلک، خاک جبار، خوردکابل وبت خاک احداث شد.(۱: ص۱۹۵)

همین اکنون افغانستان درمسیرعبورچندین دهلیزنفت وگاز قراردارد که پروژهٔ تاپی نقش پل ارتباطی را درزمینه بازی میکند. میتوان گفت که افغانستان با اتخاذ سیاست انکشاف زیربنا های اقتصادی میتواند نقش مؤثرومهمی را درزمینهٔ همکاری های اقتصادی، سیاسی وهمگرایی منطقه یی بازی کند. زیرا ازیک طرف کشورهای آسیای میانه میخواهند ازاین طریق به بحرراه یابند وازسوی دیگرکشورهای آسیای جنوبی تلاش دارند به بازارهای آسیای میانه راه پیدا کنند.(۴: ص۳۳) افغانستان با تطبیق طرح احیای راه لاجورد میتواند زمینه را برای کشورهای متذکره فراهم کند. خوشبختانه احیای این راه آغازشده است، نمونهٔ روشن آن احداث خط آهن حیرتان مزارشریف میباشد. این خط تحول بزرگ درزمینهٔ بهبود مواصلات و توسعهٔ روابط اقتصادی افغانستان و ازبکستان میباشد.

## تاریخچهٔ راه لاجورد

با توضیح مختصراهمیت راه های مواصلاتی لازم است تا به تاریخچه واهمیت راه لاجورد پرداخته شود. راه لاجورد بخش از راه ابریشم بوده و قدامت دوهزار ساله دارد که با گذشت قرون متمادی هنوزهم ازاهمیت ویژه برخوردارمیباشد و از اینطریق

بصورت عمده، لاجورد و سایر سنگ های قیمتی کشور ما به خارج، به خصوص کشور های قفقاز، روسیه، اروپا و شمال افریقا انتقال داده می شده است. امروزیکبار دیگرکشورهایی که به وسیلۀ این راه باستانی وتاریخی با هم درارتباط بوده اند به پیشنهاد و ابتکار افغانستان درصدد احیای مجدد آن با وسایل مدرن وعصری مطابق به نیاز زمان برآمده اند. (٦: انترنت)

چنانچه به پیشینۀ تاریخی این راه نظرانداخته شود به صراحت دیده میشود که به دوره های باستان ارتباط دارد و این راه نقش مهمی را در ترقی و پیشرفت اقتصادی و پیوند تمدن های کشور هاییکه درمسیر این راه موقعیت داشته اند، بازی کرده است. زمانیکه برای تجارت از راه های بحری استفاده نمی شد ویا آنکه بعضی کشورها به راه های بحری دسترسی نداشتند و یا هم راه های بحری به مقایسۀ راه های زمینی ازمصئونیت کمتربر خوردار بود، آن زمان استفاده ازراه خشکه برای کشورها اهمیت خاص داشت، به اساس همین ارزشمندی بود که بعضی از راه های خشکه، منجمله راه لاجورد شهرت جهانی کسب نموده و کشورهای را که در مسیر این راه ها قرار داشتند به پله های بلند شهرت رسانیده است.(۵: ص۲۷۹)

**اهمیت تجارتی راه لاجورد**

درحقیقت راه لاجورد وسیلۀ تأمین ارتباط آسیا، اروپا وافریقا میباشد. این راه از مسیر ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان گذشته و به بحیرۀ سیاه میرسد و با عبور از بحیرۀ سیاه و رسیدن به ترکیه، افغانستان را به آب های آزاد وصل می *نماید*. این مسیر ترانزیتی مناسب ترین راه تجارتی میان افغانستان، آسیای میانه، قفقاز و اروپای مرکزی بوده و وسیلۀ مؤثری برای اتصال آسیای جنوبی به اروپا می باشد.دهلیز تجارتی راه لاجورد مکمل برنامۀ یک کمربند یک راه است. لذا ضرور است تا جهت وصل راه لاجورد با برنامۀ یک کمر بند یک راه کشور چین همکاری صورت گیرد.(۸: انترنت)

اهمیت این راه به خاطر قابل ذکر است که به گفتۀ حکومت افغانستان کوتاه ترین، مطمئن ترین و ساده ترین راه برای افغانستان می باشد، زیرا امروز از ترکمنستان تا مرز افغانستان هم سرک و هم خط آهن وجود دارد، همچنان در سایر

کشور هایی که این راه از آن میگذرد سرک وجود داشته و آمادهٔ استفاده می باشد. این کار در حقیقت با زود ترین زمان و کمترین هزینه میتواندافغانستان را با خطوط آهن وصل کند که یکی از مزایای تجارت نیز سرعت زمانی و هزینهٔ کم می باشد. به اساس ارزیابی های تخنیکی که تا کنون صورت گرفته است انتقال یک لاری اموال از مرز تورغندی تا قارس ترکیه (راه لاجوارد) ده تا یازده روز را در برگرفته و حدود ۳۲۰۰ دالر هزینه خواهد داشت. درحالیکه عین اموال از بندر کراچی پاکستان تا شهر مرزی جلال آباد چهارده روز و پنج هزاردالر هزینه خواهد داشت.(٦: انترنت) بنابرآن دیده میشود که مصارف این راه چه از نظر زمان و چه از نظرمالی مناسب بوده و میتواند کمک بزرگ برای تجار افغانی باشد به همین خاطر دولت افغانستان همانطوریکه افتخار ابتکار این طرح را دارد باید گام های عملی را درراه تطبیق این طرح نیزبردارد که نخستین اقدام درین راستا احداث خط آهن ازتورغندی به هرات وازهرات به اسلام قلعه میباشد تا با خط آهن ایران وصل گردد. همچنان لازم است ازحیرتان تا آقینه - مزار شریف وشبرغان هم خط آهن احداث شود تا به شکل مستقیم با قزاغستان، اوکرایین، روسیه و اروپا وصل شویم. به همین ترتیب قرارداد تمدید خط آهن ایران به افغانستان، افغانستان را به بندر چاه بهارایران ازطریق هرات به کشورهای آسیای میانه وصل میکند. تکمیل این راه نه تنها دشواری های اقتصادی، سیاسی و ترانزیتی افغانستان را حل خواهد کرد، بلکه برای کشورهای همسایه نیز سهولتهای تجارتی را به ارمغان می آورد. زیرا شاهراه های افغانستان را به طول یکهزار کیلو متربه بندر چاه بهارنزدیک ساخته ودرضمن ازوابسته گی های اقتصادی به پاکستان رها می سازد وبالمقابل ایران وهند نیز می توانند ازطریق این شاهراه به بازارهای آسیای میانه راه یابند. درنتیجه افغانستان وهند ازقید بهانه گیریهای ترانزیتی پاکستان دربندرکراچی رهایی میابند وافغانستان نه تنها بیشترازپیش موقف استراتیژیک خود را درتجارت بین المللی حاصل کرده، بلکه یک وسیلهٔ ارتباط تجارتی وترانزیتی مهم برای کشورهای آسیای میانه، آسیای جنوبی و شرق آسیاخواهد شد.

همچنان کشور چین در قسمت استخراج معادن برای کشورما با اهمیت است که درقدم اول باید سرک بدخشان به چین وصل شود. زیرا افغانستان با احداث تأسیسات معاصردربنادر و خدمات گمرکی شفاف وسهولت های ترانزیتی میتواند

ازآن در راه شگوفایی اقتصادی، توسعه و پیشرفت افغانستان و منطقه بهره برداری بهترنماید. تعهد چین برای سرمایه گذاری حدود چهل ملیارد دالردراین بخش یک فرصتی خوبی برای عملی شدن طرح راه لاجورد میباشد. (۱۰: انترنت)

مشکل اساسی که همیشه بر سر راه تجارت در افغانستان وجود داشته و به اهمیت راه لاجورد می افزاید همان طورکه گفته شد مشکل ترانزیتی با کشور های همسایه می باشد که از طریق موافقتنامۀ راه لاجورد تسهیلات گمرکی و سایر سهولت ها به تاجران و سرمایه گذاران بوجود خواهد آمد؛ بطور مثال:

- موتر های افغانستان می توانند برای بارگیری و تخلیه اموال بدون موانع گمرکی، داخل خاک هر یک از این کشور ها شوند؛
- تجارت، ترانزیت و ترانسپورت دوجانبه و چند جانبه میان کشور های امضأ کنندۀ راه لاجورد گسترش می یابد؛
- با عضویت کشورهای بیشتر، امکان دسترسی افغانستان به بحر، بیشتر از گذشته می شود؛
- کشور های ذیدخل، هیچ نوع تعرفه و یا محدودیتی بالای کالاهای افغانی وضع نمی کنند و حتی برای ترانزیت کارگو های افغانستان، سهولت بیشتر ایجاد می نمایند؛
- قیمت ترانزیت و تجارت با این کشورها پائین می آید؛
- افغانستان می تواند از خطوط آهن و کشتی های این کشور ها استفاده کند.(۹: انترنیت)

به همین ترتیب یکی دیگر از مشکلات اساسی که امروز برای اموال تجارتی کشور ها وجود دارد نبود بازار مناسب است که خوشبختانه عبور از مسیر راه لاجورد بازار های مناسب و جدید را در کشور های عضو و سایر کشور ها برای کالا ها و محصولات تولیدی افغانستان بوجود می آورد. همچنان سبب می شود تا محصولات ارزان و با کیفیت از این طریق وارد افغانستان شود.

با بهره برداری از راه لاجورد، افغانستان به چهار راه ترانزیتی منطقه یی و بین المللی مبدل خواهد شد و از این طریق عواید قابل توجهی را نصیب خواهد شد.

همچنان راه لاجورد نه تنها باعث رونق اقتصادی میان کشور های منطقه می شود، بلکه باعث رونق تجارت و فعالیتهای تجارتی با کشور های اروپایی نیز خواهد شد.

استفاده از این مسیر، اهمیت بسزایی در جهت رونق تجارت و اقتصاد کشور ما داشته، زمینه های مساعد را در عرصهٔ سرمایه گذاری، انتقال اموال، کاهش بیکاری و رشد تولیدات مهیا خواهد ساخت و افغانستان بطور گسترده از این راه مستفید خواهد شد. زیرا کشور های عضو تعهد سپرده اند که هیچ نوع تعرفه یا محدودیتی بر اموال و امتعهٔ تجارتی افغانستان وضع نخواهند کرد. درکل چند نکته را درمورد اهمیت اقتصادی راه لاجورد میتوان نام برد:

- انتقال اموال تجارتی به وقت وهزینهٔ کمتر ؛
- رفع موانع گمرکی براموال تجارتی افغانستان؛
- پیدا کردن بازاربرای تولیدات داخلی کشور؛
- پیدا کردن محصولات تولیدی جدید، با کیفیت و ارزان برای واردات؛
- ایجاد رقابت بین کشورهای صادرکنندهٔ کالا به افغانستان؛
- افزایش عواید ترانزیتی؛
- تعدد شرکای ترانزیتی وتجارتی افغانستان.(۹: انترنت)

نقطهٔ قابل تذکر دیگر اینکه افغانستان درپهلوی اینکه حیثیت نقطهٔ وصل میان کشورهای ذیدخل را دارا میباشد، اموال معینی منجمله احجارکریمه، جواهرات، صنایع دستی، میوهٔ تازه و خشک، قالین وامثالهم را نیز دارد که ازگذشته تا کنون به خارج صادرمینماید. چنانچه باستان شناس جاپانی (ماوریزیوتوزی) در مقالهٔ نوشته است که: "درمصر، باستان شناسان از قبر های مختلف فراعنه سنگ های را به دست آوردند که سه هزارسال قبل ازمیلاد به شکل اموال تجارتی ازافغانستان آورده شده بود."(۳: ص۲۴) این امرگویای اینست که افغانستان نه تنها نقش عبورگاه ویا بندر تجارتی را به عهده داشته، بلکه خود به مثابهٔ صادر و وارد کنندهٔ اموال تجارتی نقش مهم داشته است و امید میرود تا درآینده بتواند حدود ۸۰ درصد صادرات و واردات را از همین راه به اروپا داشته باشد.

علاوه از بُعد اقتصادی ازبُعد سیاسی وامنیتی نیز بهره برداری از راه لاجورد به افغانستان کمک می کند تا با قوت وارد تعاملات منطقه یی و بین المللی شده و

زمینهٔ  تأمین امنیت و ثبات را مهیا سازد و از وابستگی های گذشته به بعضی از کشور های مغرض همسایه رهایی یابد.(6: انترنت) زیرا اقتصاد و سیاست با هم گره خورده و نمی توان هیچ مشکل سیاسی ویا اقتصادی را بدون در نظرداشت رابطهٔ متقابل این دو حل کرد.

پس می توان گفت که اهمیت راه لاجورد تنها درددادوستد و رشد تجارت نبوده، بلکه سبب توسعه وگسترش روابط نیک سیاسی، فرهنگی، اقتصادی، امنیتی ونظامی بین کشورها میشود و زمینه های سیاحتی را برای سیاحان وجهان گردان مساعد میسازد. لذا هیچ تردیدی درمورد نقش سیاسی و اقتصادی راه لاجورد وجود ندارد. بخصوص اکنون که کمترکشوری  یافت میشود که خود کفا بوده ونیاز به بازار های مناسب برای محصولات تولیدی خود نداشته باشد.  با استفاده از وسایل مدرن وعصری به ساده گی میتوان این محصولات را ازیک جا به جای دیگر انتقال داد، تا از این طریق ازداشته ها و تولیدات مادی ومعنوی یکدیگربهرهٔ متقابل گرفته شود وهمه کشورهای بزرگ و کوچک ذینفع درمسیر این راه به طور عادلانه بتوانند ازمزایای احیای مجدد این راه مستفید گردند.

می توان گفت که نظربه مقتضای زمان یکباردیگربرای تأمین وتحکیم روابط گسترده بین ممالک مختلف ضرورت احساس میگردد. به خصوص کشورهای محاط به خشکه که از مسیر دریا ها و راه های بحری به دورمانده اند بیشتر از دیگران میتوانند از مزایای این راه بهره مند شوند و از این طریق بتوانند به بحر وآب های آزاد راه یابند. باید متذکر شد که در احیای راه لاجورد  درپهلوی فرصت ها، چالش های عدیدهٔ نیز قراردارد ایجاب مینماید تا به طور مقایسوی این چالها وفرصت هابرجسته شوند تازمینهٔ تصمیم گیری را آسانتر سازد.

**اول - فرصت ها**

۱-  کاهش درهزینهٔ انتقال اموال ازاین راه نسبت به بندرکراچی پاکستان؛
۲-  اتصال کشورهای آسیای جنوبی با چین و اروپا از طریق افغانستان؛
۳-  بهبود وضع تجارت وکارو بارتجارتی افغانستان به اروپا؛
۴-  کاهش وابسته گی افغانستان با کشورهای مغرض همسایه؛

۵- سرمایه گذاری چهل میلیارد دالری چین دراین مسیر؛

**دوم - چالش ها**

۱- نبود امنیت مطمئن، جاده و خط آهن درافغانستان؛

۲- مواجه شدن افغانستان با گیج های متعدد خط آهن (واحد فاصلهٔ ریل های خط آهن) که از کشورهای پاکستان، ایران و کشورهای آسیای مرکزی وارد میشود.

**نتیجه**

ازاین تحقیق چنین نتیجه بدست می آید که افغانستان به عنوان طراح احیای راه لاجورد از دیر زمانی با چالش های ترنزیتی مواجه بوده است. امید میرود که این طرح بتواند افغانستان را از مشکلات ترانزیت اموال رهایی بخشد. همکاریهای ترانزیت تجارتی وحمل و نقل راه لاجورد بین افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه جهت کاهش موانع ترانزیتی، تجارتی و انکشاف عملیات مشترک گمرکی منحیث راه بدیل ترانزیتی برای دسترسی به بنادر بحری ایجاد خواهد شد. قابل تذکر اینکه احیای این راه نه تنها برای افغانستان بلکه برای تمام کشورهای ذیدخل از اهمیت ویژه برخوردار بوده وفرصت های را برای شان مهیا خواهد ساخت تا بتوانند از این راه با کشورهای اروپایی همکاری نمایند. به یک سخن احیا وفعال سازی راه لاجورد یکی ازنیازمندی های اساسی مرحلهٔ کنونی رشد و انکشاف اقتصادی کشورما بوده و باید تا به ثمررسیدن نهایی همان طورکه دراولویت کاری دولت قراردارد باقی بماند ودولت درجلب وجذب سرمایه گذاری های داخلی وخارجی درزمینه از هیچ گونه سعی وتلاش دریغ نورزند. زیراهیچ راهی بهتراز سرمایه گذاری درمواصلات ومناقلات برای انکشاف بعدی اقتصادی کشورما وجود نخواهد داشت. با این اقدام افغانستان خواهد توانست ازدرگیری های دوامدار به سوی همگرایی وهمکاری هایی همه جانبه قدم گذاشته ومحل مناسب برای سرمایه گذاری های اقتصادی، سیاسی وفرهنگی گردد.

مآخذ


۱- احمدزی، شاه جان غنی، ترانسپورت در افغانستان اسلامی، فردای افغانستان اسلامی، سمینار چهارم،۸-۱۱قوس ۱۳۶۹

۲- ایولکست، جهان سوم و پدیدهٔ کم رشدی، مترجم: منیر،جزنی(مهران)، تهران:۱۳۵۳

۳- باوری، محمدرسول." په لرغوني افغانستان کې دوربېنمولار"،پانگه وال، ، دری میاشتنی، لمړی کال،لمړی شمیره، دلو- حوت- حمل ۱۳۹۴-۱۳۹۵، دافغانستان دپانگې اچونې د ملاتړاداری ص۲۴.

۴- تزری،شیرعلی."اهمیت اقتصادی راه آهن درافغانستان"آریانا،دوره سوم، شماره۴/ ۱۳۹۰و ۱۳۹۱/۱ ،شماره مسلسل۳۰۷، ریاست نشرات اکادمی علوم: کابل، ۱۳۹۱.

۵- تزری، شیرعلی. بازسازی عرصه های اقتصادی افغانستان (اولویتها و محدودیتها)، مجموعهٔ مقاله های اقتصادی واجتماعی، انتشارات سعید: کابل، ۱۳۹۷.

٦- اتاق تجارت وصنایع افغانستان. راه لاجورد،کوتاه ترین، ارزان ترین ومطمئن ترین مسیر تجارت برای افغانستان، WWW.acci.af.com مراجعه۱۳۹۷/۱۱/۲۰

۷- دانش، ضیا. راه لاجورد، اهمیت و مزایای آن برای افغانستان، روزنامهٔ افغانستان، پنجشنبه،۲۲قوس،۱۳۹۷، https//www.pajhwok.com.dec.12.2018 ،مراجعه ۲۲دلو ۱۳۹۷.

۸- دهلیز تجارتی راه لاجورد مکمل کنندهٔ برنامهٔ یک کمربند یک راه. ۲۵www.aop.gov.af قوس ۱۳۹۷. تاریخ مراجعه: ۱۳۹۷/۱۲/۱

۹- خاوری، حسن. اهمیت راه ترانسپورتی بین المللی لاجورد برای افغانستان، روزنامهٔ افغانستان، شنبه، ۴. حمل ۱۳۹۷.www.dailyafghanistan.comمراجعه ۱۳۹۷/۱۱/۲۷

۱۰- مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی. راه لاجورد واهمیت آن برای افغانستان ومنطقه، www.zalaand.afمراجعه ۲۰۱۹/۰۲/۱۷.

سرمحقق محمد شریف ځدران

# خوشحال خان خټک او تاریخ لیکنه

دولت د خلکـــو په اتفــاق کې دی
هغه به خوارشي چې په نفاق کې دی
((خوشحال خټک))

**لنډیز**

خوشحال خان خټک (۱۶۱۳- ۱۶۹۱م.) د هند د دریو کورګاني واکمنو هر یو نورالدین محمد جهانګیر (۱۶۰۵- ۱۶۲۷م.)، شهاب الدین محمد شاه جهان ( ۱۶۲۷- ۱۶۵۹م.) او محی الدین اورنګزیب عالمګیر (۱۶۵۹- ۱۷۰۷م.) د واکمنیو پر مهال ژوند او مبارزه کړې ده.

خوشحال خان که له یوې خوا د مغولو پر ضد د هېواد د خپلواکۍ ګټلو لپاره مبارزه کوله، خو ورسره جوخت یې په ټولنه کې د پوهې، فلسفې، ښوونې او روزنې، ادب او تاریخ لیکنې په برخه کې تلپاتې خدمتونه کړي. د خوشحال په نثر او نظم کې د هغه مهال د تاریخ ډېر سم او ژور انځور وړاندې شوی دی. بیاض د خوشحال خان هغه یاد داشتونه دي چې پر مختلفو تاریخي پېښو یې لیکلي دي او افضل خان خټک د تاریخ مرصع په لیکنه کې ګټه ترې اوچته کړې ده. که څه هم د خوشحال خان څخه د تاریخ په برخه کې کوم ځانګړی اثر پاتې نه دی، خو ده د دستارنامې د لیکلو پر مهال ژمنه کړې وه چې له زندان څخه تر وتلو وروسته به د تاریخ کتاب لیکي او دغه ژمنه یې پوره کړه او په خپل تاریخ یې د مرصع نوم کېښود چې بیا د ده تر مړینې وروسته د هغه لمسی افضل خان خټک تر دغه سرلیک لاندې د تاریخ مرصع یو پنډ اثر وکاږه.

**غوره اصطلاحات:**

تاريخ، تاريخ ليکنه، خټک، کورګانيان، بياض، نثر، نظم.

**سريزه**

تاريخ ليکنه يو داسې علم دی چې د هغه په وسيله د تېرو زمانو واقعات د وخت او ځای په قيد سره تر بحث او څېړنې لاندې نيول کېږي. تر ټولو ښه تاريخ ليکنه هغه ده چې د تاريخي پېښو په ليکنه کې د مؤرخ نظر بې طرفانه، علمي او مستندوی او ليکنه يې د تاريخي علمي متود پر بنسټ ولاړه وي.

په افغانستان کې په نثر او نظم کې تاريخ ليکنه رواج لري. که څه هم په افغانستان کې په نثر باندې ډېر زيات تاريخي آثار کښل شوي دي، خو منظوم تاريخونه هم د پام وړ دي. او د بېلګې په توګه د ريدي خان مومند (محمد نامه) د هوتکو د دورې يو معتبر منظوم تاريخ دی. همدارنګه د عبدالقادر خان اثر (هوتکنامه)، د عبدالرحمن هوتک (مهاجرت نامه)، د صاحبدين خټک (فيروزنامه)، د مېرمنې سپينې (هراتي جګړه)، د دلاور عمرخېل د (مغل خان جنګنامه)، د عبدالرحمن خان (شهنامه)، د اخلاص (استقلال امانيه)، د نعمت الله (د چترال شهنامه) د محمد انور سلطاني اثر(( تاريخ د نظم په څپو کې يا د افغانستان معاصر تاريخ په نظم کې)) او نور ګڼ تاريخونه دي چې په نظم ليکل شوي دي. (۱: الف- ب مخونه).

اولسي شعر او سندرې د يوه ملت د تاريخ په روښانولو کې ډېره مرسته کوي، د بېلګې په توګه د يونان تاريخ د هومر په هغو سرودونو او سندرو کې پروت دی چې مجموعې يې د (ايلياد) او (اوډيسي) په نامه يادېږي او په تاريخ کې د هومرکار تر هرودوت کم نه دی.

د (ويرژل) سندرې چې مجموعه يې د (اينډ) په نامه شهرت لري د روم د تاريخ په باب موږ ته د تاريخ پېښې د يوې هنري تابلو په چوکاټ کې تر سيموي. په هر اولس کې دغه ډول سندرې د تاريخ په منابعو کې د اهميت وړ ځای لري. (راماين او مهابهارت) او بېلابېلې (شاهنامې) د سندرو مهمې مجموعې دي چې په هغو کې د آسيا د خلکو پرونی ژوند او پېښې بيان شوي او له هېرېدو ژغورل شوي دي. (۲۵: ۶۹- ۷۰)

فرانسوي ختيځ پېژندونکی دارمستتر په ۱۸۸٦- ۱۸۸۷م. کلونو کې پېښور ته سفر درلود او د دغه سفر په ترڅ کې د پښتو سندرې راټولې کړې او په تاريخ کې يې د اهميت وړ ګڼلې. دی وايي: ((که دغه سندرې بې اهميته تلقي شي نو داسې به وي، لکه د فرانسې د لوی انقلاب د تاريخ په ليکلو کې چې د (ماسيه ايز) د يوې سندرې نوم وانخلي)). بې له شکه د خوشحال خټک په څېر ډېرو محلي شاعرانو زموږ د تاريخ ډېر واقعات د نظم په چوکاټ کې بيان کړي او زموږ د تاريخ دغوره منابعو په توګه ګټه ترې اخيستل کېږي.

دارمستتر همدارنګه د افغان- انګليس د دوهمې جګړې په اړه دوې منظومې را پېژندلي دي. لومړی منظومه (جنګ د کابل) ده چې ناظم يې د جلال آباد يو شاعر ګڼي. دا منظومه په ۱۸۷۹م. کال هغه وخت ويل شوې چې انګرېزانو کابل ونيو او امير محمد يعقوب خان يې هند ته تبعيد کړ. په منظومه کې د محمد جان وردک او ملامشک عالم په مشرۍ ملي پاڅون او په بالاحصار کې د کيوناري وژل بيانوي. لومړی بيتونه يې دا دي:

قادره ذوالجلال بې شريکه بې مثاله
ايمان مې خطامه کړې پرنګ ورک کړې له کابله

دويمه منظومه د (کابل د جنګ چاربيته) ده چې په هغه کې هم د کيوناري راتګ کابل ته، ورپسې د ده وژل او د جنرال رابرتس پوځي سوقيات بيانوي او هم د ملي مبارزينو محمدجان وردک او سردار محمد ايوب خان دملي مبارزو يادونه او لمانځنه کوي. دغه منظومې نه يوازې د افغان- انګليس د جګړې، بلکې د افغانانو د مقاومت او سرښندنو ژوندی تاريخ دی او د غوره تاريخي منابعو په توګه ګټه ورڅخه اخيستی شو (۲۵: ۷۱- ۷۲)

خوشحال خټک هم يو له هغو اديبانو، شاعرانو او مؤرخينو څخه دی چې درې نيم سوه آثار يې د نثر او نظم په ژبې افغان ټولنې ته وړاندې کړي دي.(۲۳: ۲۸۰ مخ). د هغه په دستارنامه، سوات نامه، سفرنامو، بياضونو، قصيدو او نظمونو کې ډېرې تاريخي پېښې بيان شوي دي چې له موږ سره د افغان تاريخ په لوستلو او ليکلو کې پراخه مرسته کوي.

**مبرمیت او اړتیا:**

د خوشحال خان د تاریخ لیکنې په اړه د مقالې مبرمیت او اړتیا په دې کې لیدل کېږي چې په افغانستان کې تر اوسه د دې موضوع په اړه هېڅ څېړنه، نه ده کړې او خوشحال یوازې د یوه ادیب، شاعر، فیلوسوف او ملي مشر په توګه پېژني. په داسې حال کې چې هغه یو وتلی مؤرخ و او د افغانستان د تاریخ په اړه یې خپل قیمتي معلومات په خپلو زیاتو نثري او منظومو آثارو کې وړاندې کړي دي. ډېره لویه اړتیا ده چې زموږ راتلونکی نسل د خوشحال خان په تاریخ لیکنه باندې پوه شي.

**هدف:** د دې څېړنیزې مقالې هدف دا دی چې د خوشحال او د خوشحال پېژندونکو د لیکنو او څېړنو په رڼا کې جوته کړو چې خوشحال یوازې ادیب او شاعر نه و، بلکې یو ښه تاریخ پوه او تاریخ لیکونکی و. نوموړی د خټکو د یوه سردار او سپه سالار په توګه د وخت  په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي حالت او د افغاني ټولنې پر تاریخي ستونزو او اړتیاوو باندې پوهېده او نو ځکه یې په خپلو لس ګونو آثارو کې انعکاس ورکړی دی.

د مقالې د لیکنې میتود د تاریخ پر علمي اصولو ولاړ میتود دی چې له مطالعې وروسته د لیکنې، تحلیل او مثبتې نتیجې وړاندې شوي دي.

**تاریخ لیکنه**

د خوشحال خان پلار، نیکه او غور نیکه په خپله سیمه کې د قوم مشران وو او ملک اکوړه د خټکو د سرداری سر مشر و. جلال الدین اکبر په ۱۵۸۱م. کې ملک اکوړه ته د یوه فرمان په وسیله د خیر آباد او نوښار ترمنځ ځمکې په جاګیر ورکړې او هم یې د دې سیمې او لویې لارې د مالیې او محصول اخیستلو صلاحیت او امتیاز ورکړ.

خوشحال خان په یوه قصیده کې د خپلې کورنۍ تاریخ داسې بیانوي:

| | |
|---|---|
| زه خوشحال د شهبازخان یم | چې تورزن یم کان په کان |
| شهبازخان د یحـــیی خان و | چې بل نه وهسې ځـــوان |
| یحیي خان د اکـــــوړي و | چې په توره شـــو سلطان |
| د اکبر پادشـــــاه په دور | شو د خپل ولس ترخـــان (۲: ۹۷- ۹۸ مخونه). |

د خوشحال په پورتنۍ قصیده کې نه یوازې د ده د کورنۍ تاریخ بیانیږي، بلکې سرې ورڅخه پوهیږي چې د خان د کورنۍ سرداري او خاني د اکبر د واکمنۍ پر مهال پیلیږي.

خوشحال دغه راز د خپل غور نیکه ملک اکوړه هغه خدمت ستایي چې د خپلې سردارۍ لپاره یې په اوسنۍ اکوړه خټک کې سرای جوړ کړ او د ستر سیاسي او اقتصادي اهمیت لرونکی و.

او لکه چې خوشحال وایي:

رحمت په اکوړي شه چې یې ونیو ځای سرای
چې ښه فهم یې وکړې باور وکړه ځای دی ځای

*****

تور غر یې د هوډې دی تر تیرا پورې سم تللی
نیلاب ولنډي دواړو عجب سر اینښـــی په پای

*****

پـــرې ســازه لویـه لار د هندوستان و خراسان ده
گـــذرېې د اټک دی چې تـــرې ترس کا شـــاه گدای (۳: ۳۳۰ مخ).

دغه راز خوشحال د خپل پیدایښت تاریخ په لاندې ډول راپېژني:

د هجرت زر دوه ویشت سن وو
چـــې زه راغـــلـــم په جـــهـــان (۴: ۳ مخ).

خوشحال د خپل پلار د شهادت تاریخ او سردارۍ ته د ده د رسیدو واقعه د یوې قصیدې په ترڅ کې داسې بیانوي:

هغه کال پوره پنځـــوس و | چې شهید شو شهبازخان
د هغه دور بادشــــــاه و | قدردان شاه جهان
د پلار ځای یې وما ته راکړ | په ولس شوم حکمران
که د تورې که د ورکـــــړې | هیڅ مې پرې نه یښ ارمان
لکه خـــــرڅ مې د بابا و | زما لاو د وچنــــــــدان
واړه دبرش زره خټـــک دي | درست زما وو په فـــرمان
په لښکـــر به زما خـــرڅ و | یا مې خرڅ په مهمـــــان

درست ختښک زمـــا په دور نامور شـــــو په دوران
که ختښک په ځمکه پروت و پاس مې ویوړ په اسمـــان (۵:۵۷)

خوشحال د خپل نسب شجره تر کرلاڼي رسوي او داسې وايي:

سـل سړبـنـي دې تر دا يـو غزل ځاربـړه
نن چې دا پښتو ده کرلاڼی خوشحال ویلـي (۴: ۱)

ورپسې د ټول پښتون پېژندنه په دې ډول وړاندې کوي:

پښتون له اصـــل سړه بني دي یا غورغښتي دی، یا بیټنـي دي
لودي، غلجي دي د بیټني له لوره په سړه بن پورې بیا کرلاڼي دي (٦: ۳۳ مخ).

خوشحال د دستارنامې په اوولسم هنرکې لیکي: (( تاریخونه، ښه د نسب رسالې، نسب نامې مې په نظر کښیوتې. په یوه کتاب کې پښتانه دیافث بن نوح په اولاد شمارلي وو، په بل کې قبطي چې د فرعون قوم دی کښلی وو. په بل کې د مهتر یعقوب د یهودا په ذريات منسوب کړي ؤ چا د کردانو سره حساب کړي وو. اما تحقیق چې بلا اختلاف وشو، واړه پښتون د ابراهیم پیغمبر د ورور د اولاد دی. په دې کې شبه نشته، تر ما نه به چا په تحقیق د دې کار سعي زیاته چا کړې نه وي. (۸: ۸۳ مخ). داسې ښکاري چې خوشحال د پښتنو د اصل او نسب په اړه د نعمت الله هروي له اثر (( مخزن افغاني)) څخه متاثر شوی او پښتانه د یعقوب له قوم او ټبر څخه گڼي او داسې وايي:

په ښایست باندې یې ختمه دا وینا ده
چې په اصل د یعقوب قام و تبار دی (۱۲: ۱۲ مخ).

خو تاریخي واقعیت دا دي چې پښتانه اسرأییل نه، بلکې آریایي قوم دی چې ذکر یې په ویدي ادبیاتو او په تواریخ هرودوت کې راغلی دی. حتی په ۲۰۱۵م. کې روسي او تاجیکي پوهانو د پښتنو د وینو د معایناتو پر بنسټ علمي څېړنه کړې او په نتیجه کې یې دا ثابته کړې ده چې پښتانه اسرأییل نه، بلکې آریایي نسله دي. (۱۳: ۲۵ مخ).

په دې ډول وينو چې خوشحال په ډېرو لنډو ټکو کې د پښتنو شجره او تاريخ بيان کړی دی او سړی پوهېږي چې خوشحال د خپل قوم د لرغوني تاريخ په اړه مطالعه درلوده او نو ځکه يې دا تاريخ په نظم کې راوړی دی.

خوشحال خان پر خپل ملي هويت وياړي او نو ځکه د هغه په دفاع کې ودرېږي او داسې وايي:

کرلانې سړبن څــو پښتانه دي | زه د ننگ په کار له واړو مشترک يم
د افغان په ننگ مې وتړله توره | ننگيالی د زمانې خوشحال خټک يم

(۵: ۱۸٦ مخ).

يا دا چې افغانان د خپلې ملي ژبې زده کړې ته را دعوتوي او وايي:

چې پخپله افغاني ژبه نادان دی | په ترکي خبرې څه وايي افغان ته

بل ځای وايي:

د وطن مينه اې جانه | را پيدا ده له ايمانه

بل ځای وايي:

چې څوک يادکاندي کابل | په گوگل مې شي غلغل

خوشحال د لوی افغانستان پر تاريخ او اهميت پوهېږي، نو ځکه افغانان يووالي ته راغواړي او دوی ته په خطاب کې داسې وايي:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو د ننگ په کار پټ او اشکار (۷: ۳۵۵ مخ).

خوشحال په خپل نثري کتاب (دستارنامه) کې د ملي مشرانو او د دستار د سړيو لپاره شل هنرونه او شل خصلتونه ټاکلي دي او وايي:

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي. (۸: ۱ مخ).

د خوشحال وينا د کاڼي کرښه ده او هم زموږ ملي تجربو دا ثابته کړې ده چې پگړۍ پرسرکوي د هغو سړيو شمېر زيات دی، خو هر سړی د پگړۍ او دستار د په سر کولو شرايط نه شي پوره کولی. خوشحال دغه شل هنرونه او خصلتونه په دستارنامه کې بيان کړي دي او د دستار سړي لپاره يې ضروري گڼي.

دی وایي چې د دستار په سرکول د ښیوې او د نمای دپاره نه دی. دستار د مرد شرم او عزت دی، تمام شرم د مرد په دستار کې دی. د دستار په باب په حدیث او عرف کې هم حکم شته او کله چې یو بادشاه یا امیر د واک پر تخت کېناوي، نو دوی ته د سر تاج او یا دستار ور پرسرکوي او د دستار شرم په دواړه لوریه لازم شي.که قابل وي ثنا تعریف یې شي که نا قابل وي پورې ریشخند کېږي. پس د دستار کار سهل او آسان نه دی. (۸: ۲مخ).

خوشحال وړاندې د دستار پر تاریخي پس منظر خبرې کوي او وایي: د بدر په جنګ کې د دستار شمله په مومنانو حکم شوه، شمله د دستار د هغه جنګ راهیسې سنت مؤکد شوه. د هجرت په دریم کال د بدر په جنګ کې پنځه زره ملایکې د مومنانو مرستې ته راغلې وې او سپین دستارونه او شملې یې تړلې وې. ملایکو ځکه دغه دستارونه او شملې تړلې وې چې نور اصحاب هم د جنګ په ورځ دغه روش واخلي. (۸: ۳ مخ).

خوشحال وړاندې زیاتوي چې څلورو خلفاوو او بیا هغو امیرانو او سلاطینو چې د دوی په سیرت وو د دستار حق یې ادا کړی دی، لکه په خلفای بني امیه کې عمر عبدالعزیز، په بني عباس کې هارون رشید او امامان. دغه راز د اسلام په بادشاهانو کې ځینې ښه کسان تېر شوي، لکه سلطان سنجر، سلطان محمود غزنوي، سلطان سکندر لودي او بابر چې د دستار حق یې ادا کړی دی. امیر چوپان چې د دستار استعداد او قابلیت یې درلود او ددین په کار استور و، بهتر تر چنګیزخان و. (۸: ۴ مخ). امیر چوپان په ایران کې د سلطان ابوسعید ( ۱۳۱۷- ۱۳۳۴م.) د امیرانو امیر و او تر (۱۳۱۷- ۱۳۲۷م.) پورې په واقعیت کې د ایران واک د ده په لاس کې و او په پوره ځواک سره یې د مملکت اداره کوله. وروسته یې د سلطان ابوسعید پر ضد بغاوت وکړ، خو ناکام شو او خپل قدیمي دوست غیاث الدین کرت ته یې په هرات کې پناه وروړه او د هغه له خوا په ۱۳۲۷م. کې ووژل شو او یوه ګوته یې ترې پرې کړه او سلطان ابوسعید ته یې ور ولېږله. د امیر چوپان په وژلو سره د ایران مغولي خانات له سقوط سره مخ شول. (۹: ٦۳۴- ٦۳۵ مخونه).

د خوشحال پورتنۍ ویناوې حقیقي او تاریخي دي، ځکه د اسلام تاریخ هم دا تائیدوي او د بشر تاریخ هم پردې ګویا دی چې نوموړي خلفأ، امیران او سلاطین هغه

څوک وو چې نه یوازې د دستار وړتیا او صلاحیت یې درلود، بلکې ډېر خدمتګاره مشران وو. د خوشحال په خبرو کې یو بل مهم ټکی دا دی چې دی د اسلام او د افغانانو له تاریخ سره اشنا و او کوم نظریات چې ده وړاندې کړي د تاریخ یو مهم څپرکی جوړوي. حتی دغه نظریات نقادانه هم دي، ځکه دی امیر چوپان او چنګیز خان سره مقایسه کوي.

خوشحال د یوه ملي، سیاسي او علمي شخصیت په توګه افغانان خپلواکۍ ګټلو او ملي دولت جوړولو ته هڅول او نو ځکه یې په دستارنامه کې څوارلسم خصلت د ملک انتظام ته ځانګړی کړی دی. دی لیکي: ((که د ملک قوام دی په دا دی که انتظام نه وی قوام هم نه دی)). (۸: ۱۱٦). معنا دا چې د ملک مشري پرته له انتظام څخه ناممکنه ده او که څوک غواړي چې د خپل هېواد مختلفو قشرونو اوطبقو ته خدمت وکړي، نو مجبور دي چې سالم انتظام په وجود راوړي.

د خوشحال په وینا دغه لوی کار په یوازې ځان سرته نه رسېږي او لازم دي چې دغه لوی کار د پوهو او با تجربه کسانو ترمنځ وویشي. پس ملوک دې اول د خپل جانشین فکر وکا او داسې نه چې د کومې واقعې په نتیجه کې مشر ووژل شي او په ملک کې خلل او فقر واقع شي، په فقر کې د ملک د دولت زوال دی. دغه راز جانشین او ولیعهد ته باید پوره استقلال او اعتبار ورکړ شي او ده ته دې د ولایت کولو علم، هنر او سیاست ور زده شي څو ولیعهدی د عدل پر بنسټ سرته ورسوي او په دولت کې اتحاد او استحکام وساتي.

خوشحال د ((روضة الصفا)) د تاریخي اثر په قول لیکي، ((چې چنګیز خان لا بادشاه نه و، اولسي و، خو اولس د ده حکم مانه. چنګیز خان کافر، خوګ خور و، خو په کام، قبیله او خیلخانه کې یې اتفاق و، په ربع مسکون یې حکم وچلاوه، د قوم واړه اولادېې د دولت څښتن شو)). (۸: ۱۱٦- ۱۱۷ مخونه).

خوشحال د ملک د انتظام تر سرلیک لاندې د یوه ملي دولت جوړښت موږ ته را معرفي کوي. بادشاه، ولیعهد، وزیر، وکیل، ملکي او پوځي مامورین دا ټول د دولت غړي دي او پرته له یو داسې انتظام څخه دولت جوړول او چلول ناممکن دي. د ده په وینا بادشاه د زړه، وزیر دغوږ او سترګې، وکیل د لاس او پښې، ملکي او پوځي مامورین په دولت کې د غړو حیثیت لري. دغه هر یو باید خپلې چارې پرمخ بوزي،

ځکه دغه ټول د یو وجود متعلق دي او د وجود کار پرې جوړېدای شي. (۸: ۱۱۸ مخ).

بې له شکه د خوشحال خان دغه تاریخي او سیاسي نظریات له موږ سره د ښې حکومتدارۍ په کار کې مرسته کولای شي او د ښه درس په توګه استفاده ترې کولی شو. همدارنګه ویلی شو چې خوشحال د دولتونو د جوړښت او د ښې حکومتدارۍ له هنر او تاریخي تجربو سره آشنا و او غوښتل یې چې افغانان پر دغې ملي وجیبه باندې وپوهوي.

خوشحال د خپل هېواد له لرغونو او تاریخي سرحدونو سره آشنا و او نو ځکه د مغولو په وړاندې اټک د پولې او سرحد په توګه ټاکي او داسې وایي:

ومغل و ته به نن کړم، اټک پوله

ملک به خلاص کړم د مغل له غاله غوله (۱۰: ۱٦ مخ).

خوشحال په ۱٦٦۴م. کې د کابل د والي امیر خان او د هغه د مرستیال میرزا عبدالرحیم، د خوشحال د ترونو- بهادر خان او فیروزخان د سازش په نتیجه کې اورنګزیب ونیو او په ډهلي کې یې بندي کړ، (۱۱: ۱۱۸مخ.) خو بې ګناه یې د ډهلي بند ته ولېږه او په خپله خوشحال دغه تاریخي واقعه داسې بیانوي:

په ناحق د اورنګزیب په بند بندي یم خدای خبر دی په تهمت او بهتان

زه په ځان کې ګناه نه وینم په خداېږو ولې نور خلک خبرې کا شان شان

د ګناه مې سرشتـــه نه ده معلـــومه مګر خپل هنر د ځان وینـــم تاوان (۵: ۱۱۳ مخ).

خوشحال د ځان په بندیتوب کې د امیر خان او خپلو ترونو ګډ سازش داسې بیانوي:

اقربا راته عقرب شول راضي من مې په لقب شول

دواړه ترونه مې نا اهله ابوجهل وبولهب شول (۵: ۱۲۰ مخ)

خوشحال چې پر خپل ځان او پر افغان ملت د هند د کورګانیانو د امپراتور اورنګزیب استعمار او استبداد په خپلو سترګو لیدلی و په څرګندو اوصافه ټکو یې داسې نقدوي:

پلار تړلی بادشاهي کا | سل ناحقه گمـــراهي کا
د داد خواهو زر اهونه | لور په لور اوجاړ ملکونه
سکه وروڼه يې قتل کړي | دا بادشاه نه دی بالادی
چې راغلی په دنيا دی (۵: ۱۲۲- ۱۲۳ مخ).

مغولي واکمنو د خوشحال پر ضد يو ځل د ده ترونه او له زندان وروسته د ده زامن ورسره مخالف کړل، دليل يې دا و چې خوشحال له زندان نه تر خلاصيدو وروسته د يوسفزيو پر ضد د صوبه دار مهابت خان مرسته ونه کړه، ځکه يوسفزيو د ده سره د بند پر مهال دومره لويه مرسته کړې وه چې ان د ده کورنۍ يې له مغولو وژغورله او سوات ته يې بوتلله. مهابت خان چې د خوشحال خان پر دريغ باندې پوه شو او د يوسفزيو پر ضد د ده له مرستې او همکارۍ نهيلی شو، نو سملاسي يې د ده پر ضد خپل زامن اشرف خان او بهرام خان راوپارول. لومړی يې اشرف خان ته سرداري ورکړه، ځو د پلار پر ضد يې وکاروي، خو اشرف خان د ده غوښتنې پوره نه کړای شوې. نو بيا يې د ده کشر ورور بهرام خان را وړاندې کړ او سرداري يې ورته وسپارله او د خوشحال پر ضد يې وجنگوه. په ۱۶۷۳م. کې د خوشحال او بهرام ترمنځ ځو جګړې وشې، خو بهرام د پلار په وړاندې ناکام شو. د همدغو پېښو په بهير کې خان يوه قصيده وکښله او د هغې په يوه برخه کې کورني اختلافات داسې غندي:

په بل غشي ټوپک هېڅ ويشتلی نه يم
که ويشتلی يم خو بيا په خپل ټوپک يم (۵: ۱۴۱- ۱۴۴ مخونه).

دا تاريخي او رښتيا خبره ده، چې افغانانو تل په خپلو کې مخالفت، لانجې او جګړې کړي دي او په خپلو کې يې سره ويشتلي دي. خوشحال د خپل زوی بهرام د مخالفت په وجه تر دې سر ليک لاندې ((بهرام ته!)) داسې ليکي:

له پرديو نه به څه گيله مانه کـړم
چې خپل هم راباندې باسي اړمونه

ناخلف زويه د چاکره لوی مه شه چې وپلار وته گندي کا قسمونه (۵: ۱۸۶ مخ).
پښتنو چې ځومره جنګونه د هند دکورگاني دولت پر ضد د خوشحال خان، ايمل خان او درياخان په مشرۍ کړي، خوشحال د ((بهار قصيده)) کې د هغوی نومونه راوړي دي، لکه چې وايي:

ایمل خان دریاخان دواړه مرگ يې مـه وای
هيـــخ تقصـــير دواړو ونه کـــړ وار په وار

* * *

د خېبر دره يې سره کـــړله په وينـــو
په کړپه يې هم روان کـــړ دندوکار

* * *

تر کړپه تر باجوړه سمې غـــــــرونه
په لرزه په زلزله شـــــول په بار بار

* * *

اول جنگ د لوړی شا د تهـــــــترو وه
چې څلويښت زره مغل شول تار په تار
خويندې لوڼه يې په بند د پښتنو شـــــوې
اس اوښان هاتيان اولجه قطار قطـــار
دوهم جنگ ميرحسينـــــــی په دوابه کې
چې يې وټکيـــده سر لکه د مـــار
بيا له پسه د نوښهر د کوټ جنــــگ و
چې وکيښ تر مغلـــو خپل خمـــار
بيا له پسه جسونت سنگهـ شجاعت خان و
چې ايمل يې په گنداب ويوست د مـار
شپږم جنگ مکرم خان شمشير خان دواړه
چې ايمل کړل په خـاپښ کې تار په تار
چې ځما په يا دي لوی جنگونه دا دي (کليات: ۵۲۸- ۵۲۶ مخونه).

د خوشحال په پورتنۍ قصيده کې د پښتنو او کورگانيانو د جگړو تاريخ بيان شوی او د جنگونو نومونه او ځايونه يې په گوته کړي دي. دغه راز خوشحال د پښتنو مېړانه او د کورگانيانو د لښکرو تلفات بيانوي.

خوشحال خان د بېلابېلو تاريخي پېښو په اړه ياداښتونه کښلي وو چې د ده د آثارو په شمېر کې د بياض په نامه را پېژندل شوی او افضل خان خټک د تاريخ مرصع په

لیکنه کې ګټه ترې اخیستې ده، انګرېز ختیځ پوه راورټي او نور بهرني او کورني خوشحال پېژندونکي دا تائیدوي چې بیاض د خوشحال یو ځانګړی اثر و. خوشحال بابا پخپله وایي:

دا تازه تازه مضمون چې په بیاض کښم

خبر نه یم چې له کـــومه را نزول کا

همدارنګه د خوشحال خان زوی ګوهر خان خټک د خپل پلار د بیاضونو (یاداښتونو) په باب لیکلي چې د ده بیاضونه د ده لمسی افضل خان خټک را غونډ کړل، کوم چې ده په نظم او نثر کښلي وو. (۱۴: ۹- ۱۳ مخونه).

خوشحال خان خټک په زندان کې د دستارنامې د لیکلو پر مهال د تاریخ لیکلو لپاره مواد راغونډول او له دستارنامې ښکاري او ژمنه کوي چې تر بند وروسته به دا کتاب لیکي، هغه پر خپله ژمنه وفا کړې او په خپل تاریخ یې د مرصع نوم ایښی، چې بیا د ده تر مړینې وروسته افضل خان پر همدې بنسټ نور کار وکړ او د تاریخ په نامه یې یو پنډ کتاب وکاږه. ( ۱۴: ۱۳ مخ).

خوشحال خټک دغه راز یو شمېر سفرنامې هم کښلي دي چې په تاریخ لیکنه کې له موږ سره ګټوره مرسته کولی شي. په هندوکوهنامه کې راغلي چې خوشحال خان د ۱۶۴۵- ۱٦٤٦م. کلونو په اوړدوکې دوه ځلې د شاه جهان په پوځونو کې سفر کړی او تر هندوکش آخوا تر اندراب، خوست فرنګ، نهرین، کندوز، بلخ او شبرغان پورې تللي دي. ده د خپلو سفرونو احوال، د سیمې جغرافیوي موقعیت، کوتلونه، اقتصادي، سیاسي حالت او د سفر ستونزې بیان کړې دي. د ده لمسی افضل خان خټک د تاریخ مرصع په لیکنه کې له دغو سفرنامو څخه د تاریخي پېښو په ښودلو او بیان کې ګټه اخیستې ده. (۱۴: ۱۵- ۱۷ مخونه).

خوشحال خان د نړۍ د شاهانو تاریخ لوستی و او د خپلې اسلامي مفکورې پر بنسټ یې د دوی قدرت او تخت دایمي نه ګاڼه او په دې عقیده و چې په دایمي توګه هېڅ یو شاه او واکمن د واک پر سر پاتې کیدای نه شي، یو بادشاه ځي او بل پسې راځي، لکه چې وایي:

چې د مزکې مخ یې لاندې وه تر حکم
راشه وګوره هغه تر مزکې لاندې
څوکښلي ښه مخونه څو هوښیار څو پادشاهان
چې راغله هسې لاړل اوس یې نوم دی په جهان (۲۳: ۳۹ مخ).

خوشحال خان د سلیمان، بهرام، سکندر او جمشید نومونه او د دوی لویي په خپل نظم کې بیانوي او د نړۍ د شاهانو د شمېر په باب داسې وايي:

په شماره کې به مانده شم
زیات یې څو شمارم تردا
که هزار که سل هزار وو
که تر دا ووهم ډېـــر لا
واړه لاړ له دې جهـــانه (۲۳: ۴۰ مخ).

د خوشحال په وینا افغان پادشاهان هم دایمي پرواک پاتې نه شول او له دې نړۍ یې سترګې پټې کړې، لکه چې وايي:

ساماني په جهان هـــم وو
سلجوقي وو هم پیـــــدا
غزنوي وو په غـــزني کې
چې یې کړلې هم غـــوغا
څه نشان یې مونـده نه شي
د برمک نه د یحیی (۲۳: ۴۰ مخ).

دغه راز خوشحال خان په ډهلي کې د افغان واکمنو له تاریخ سره هم آشنا و او نو ځکه یې د یوې قصیدې په ترڅ کې د دوی تاریخ په لاندې ډول بیان کړی دی:

د اسلام بادشاه اول معزالدین و چې یو کال یې په ډهلي کې اقـــامت و
چې ډهلی یې رانیوه له پتهورایه په دا کار کې یې ډېرکـــــړی مشقت و
چې یې سر د پتهورا پریکړله تنه شپږسو دوولس کاله کم سن د هجرت و
(۱۵: ۵۹۵ مخ).

په ۶۰۲ ق. (۱۲۰۵م.) کې د سلطان معزالدین غوري، چې په شهاب الدین غوري هم مشهور و، له شهادت وروسته د ده سپه سالار قطب الدین ایبک په ډهلي کې

سلطنت اعلان کړ او تر ٦١٢ ق. ( ١٢١۵م.) پورې په واک پاتې شو چې په اړه يې خوشحال خان داسې وايي:

بيا له پسه قطب الدين د ده مريي و
چې پرېښی يې په هنـــــد په نيابت و
***
بيا له پسه شمس الدين د ده پالک و
چې په خلکو يې اواز د عـــــدالت و
***
بيا له پسه فيروشاه د شمس الـدين و
چې په هند کې بې نظير په سخـاوت و
***
بيا له پسه رضی لور د شمس الدين و
چې راضي ځنی سپـــــاه اورعيت و
***
بيا له پسه معزالدين د شمس الدين و
چې هر گوره د غليم ځنــــی هيبت و
***
بيا له پسه ناصر دين د شمس الدين و
چې مشهور په عـــــدالت په عبادت و
***
بيا سلطان معزالدين کيقباد و
ور ځخه چې هم صورت او هم سيرت و

(۱۵: ۵۹۵- ٦۹٦ مخونه).

خوشحال خان خټک د افغان ترک ټبره شاهانو د واکمنۍ له سقوط وروسته د غلجي شاهانو تاريخ بيانوي. په هند کې دغه غلجي شاهان په اصل کې د افغانستان د غور ولايت د خلج او گرمسير د سيمې اوسېدونکي وو چې د قطب ايبک د واکمنۍ پر مهال هند ته ولاړل او هلته تر سترو مقامونو پورې ورسېدل. (١٦: ۴۲۲- ۴۲۵، ۴۳۲- ۴۳۵ مخونه).

جلال الدين غلجي په ٦٨٧ هـ.ق. (١٢٨٨م.) کې د ډهلي له سلطان کيقباد څخه پاچاهي ونيوه. ده او د هغه اولادې تر ١٣٢٢م. پورې په ډهلي کې حکومت درلود. ( ١٧: ٣١٣- ٣١٥ مخونه).

خوشحال په هند کې د غلجي شاهانو په اړه داسې وايي:

بيا سلطان جلال الدين په سرير کښيناست
چې په اصل کې غلـــــجي د ولايت و
****
بيا نمسی د فيروز شاه عـــــلا والدين و
چې په خُلق او په کرم د ده شهــــرت و
***
بيا له پسه قطب الدين د عـــــلايي و
چې همېش يې مخ په عيش او په عشرت و
***
بيا له پسه تغلق شاه چې امــــــرأ و
پرورش يې د غلـــــجيو په دولت و
***
بيا له پسه فيروز شـــاه چې د ده تـــره و
چې په هند د ده د چارې خـــــاتمت و
***
بيا سلطان محمد شاه د فيــــــروزشاه و
چې د پلار په زنــــدگي يې سلطنت و
***
بيا سلطان غياث الدين د فيــــــروزشاه و
چې نيولی يې له وروره مملـــــکت و
***
بيا له پسه ابابکر په تخت کښينــــاست
چې دی هم د فيروزشــــــاه له ذُريت و
***
بيا له پسه سکندرشاه د محمد شــــــاه و
چې په تخت يې يوه نيمه مياشت مهلت و

بیا یېورور ناصرالدین په سریر کښیناست
چې په ده د ښو ځوانانو ډېر قیـــــمت و
***
بیا له پسه چې تیمور په هند راکښیووت
حضرخان ته یې ورکړی حکـــــومت و
***
بیا سلطان مبارک شاه د حضرخان و
چې ښـــــــکاره یې له جبینه سیادت و
***
بیا سلطان محمد شاه د ده وراره و
چې پښتون د ده په عصر په عــــزت و
***
بیا سلطان علاوالدین و د ده ځویه
چې اکثر یې د نســـــــأ سره صحبت و
***
بیا بهلول لودین بادشاه شو د دهلي
چې په تخت یې نه ویشت کاله سکونت و
***
بیا له پسه د بهلول ځوی سکندر و
چې عمل یې موافق په شـــــــریعت و
***
بیا له پسه د دهلي بادشاه بابر شو
چې یې کار د پښتانه په بـــــــرکت و
***
بیا له پسه د بابر ځوی همایون و
چې بې حده یې لښکـــر ډېر یې دولت و
***
بیا له پسه شاه عالم د حسن سور و
چې همایون د ده له لاسه هـــــزیمت و
***

بیا له پسه اسلام شاه د شاه عالم و
چې له پلاره نه هم زیات د ده جــرات و
***
بیا له پسه عادل شاه د ده تربور و
چې پښتون د ده په دور فضیــــــحت و
***
بیا له پسه د همایون ځوی اکبر شـــو
چې و هر لوری ته مل د ده نصرت و
***
چې د هند سیر مې وکړ اوس مې ووې
ګنړه دا تاریخ لا رغه ځما په نیت و
***
که د دې ویلو کال غواړې له مـــانه
په حساب کې واوره کال د قرشت

(۱۰۵۵هـ.) (۱۵: ۵۹۶- ۵۹۷ مخونه).

خوشحال نه یوازې د پښتنو او د هغوی د واکمنو تاریخ او اتفاق بیانوي، بلکې د پښتنو اتفاق یې لویه هیله وه، لکه چې وایي:

د بهلول او د شېرشاه خبـــــرې اورم
چې په هند کې پښتانه وو بادشاـــان
***
شپږ اوه پېړۍ یې هسې بادشاهـــي وه
چې په دوی پورې درست خلق وو حیــــران
***
یا هغه پښتانه نور وو دا ځه نور شول
یا د خدای دی اوس دا هسې شان فـــــرمان
***
که توفیق د اتفاق پښتانه مــــومي
زوړ خوشحال به دوباره شي ځوان

( ۱۵: ۲۱۵ مخ).

خوشحال خان د خپل هېواد له تاريخ او جغرافيې سره پوره آشنا و او په دې اړه د ده لاندې وينا يو ښکاره او تاريخي ثبوت وي:

هغه باد چې کابل خيز دی په ماواړه عنبر بېز دی
څوک چې ياد کاندي کابل په ګوګل مې شي غلغل

***

څوک چې ياد کا پېښــور زړه زما شي منـــــور
څوک چې ياد کاندي اټک قافيه کړم هــم خټک

په ملي او نړيواله کچه د خوشحال تاريخ ليکنه تاييد شوې ده، کورني او بهرني خوشحال پېژندونکی خوشحال د يوه مؤرخ او تاريخ ليکونکي په توګه را پېژني. کامل مهمند چې د خوشحال خان خټک پر کلياتو سريزه او حاشيې کښلي دي ليکي، چې د خوشحال په سوات نامه، دستارنامه او بياض کې د پښتنو او د ده د کورنۍ تاريخي حالات بيان شوي دي. (۱۵: سريزه، ۳۳- ۳۴ مخونه).

خوشحال د دستارنامې په اولسم هنر کې چې کله د پښتنو پر نسب باندې خبرې کوي، نو د پښتنو تاريخ د ليکلو په اړه داسې ژمنه کوي: ((پښتون ډېر دی، تومنونه اولسونه د واړو ګنجايش نشته که حق تعالی نجات راکړ، وداع ورکړه شي، د رنتبور ورغلم په کور، عليحده تاريخ به انشا شي چې يې تماشا شي)) ( ۸: ۸۳- ۸۴ مخونه).

دغه راز اروانباد سرفرازخان عقاب خټک (د ۱۹۸۵م. کال په جنوري کې ومړ) پخپله مقاله ((خوشحال خان او تاريخ مرصع)) کې د تاريخ مرصع مؤلف خوشحال خان خټک ښودلی دی او د خپلې مدعا د رښتينولۍ لپاره يو شمېر دلايل په دې ډول راوړي:

۱- خان په دستارنامه کې د تاريخ کښلو ژمنه کړې او کله چې په ۱۰۷۹ هـ. ق. کال له بنده خلاص شو، کورته ورسېد، نو د تاريخ مرصع په ليکلو يې پيل وکړ او د ۱۰۸٦ کال ترجمادي الاول پورې واقعات يې په کې ليکلي دي.
۲- د همدې مقالې په يوه بله برخه کې ليکي: د دې کتاب متعلق عبدالحليم په خپل فارسي اثر ((مناقب حضرت شيخ جي صاحب (د ۱۰۹۳ق. کال تاليف)) کې وايي: (( از تواريخ مرصع تصنيف خوشحال خټک معلوم شد که)).

۳- د همدې مقالې په يوه بله برخه کې ليکي: د غلام محمد ملتاني په تاريخ کوهاټ (د ۱۸۴۴- ۱۸۴۹م. تاليف) کې راغلي ((تصديق اين امر از تواريخ مرصع خوشحال بيک خان او کرخېل کرده شد)).

عقاب خټک له پورته راغليو دلايلو او اقتباسونو څخه دا پايله اخلي چې گويا د تاريخ مرصع مولف په حقيقت کې خوشحال خان خټک دی او لږ تر لږه د دې اثر دمنځپانگې او متن بنسټيزه برخه د خوشحال خان ليکنه ده، خو عقاب خټک د تاريخ مرصع په تدوين او تاليف کې د افضل خان خټک ونډه هم نه نفي کوي او د دې کتاب شپږ شلې اقتباسات د خان د بياض نه گڼي (۵: ۲۳۲- ۲۳۴ مخونه).

حبيب الله رفيع د خوشحال بياض تعريف کړی او ليکي، چې بياض د خوشحال خان هغه يادداښتونه دي چې پر مختلفو تاريخي پېښو يې ليکلي دي او افضل خان خټک د تاريخ مرصع په ليکنه کې گټه ترې اخيستې ده. (۱۴: ۹- ۱۲ مخونه). د پوهاند شاه ولي په قول، افضل خان خټک په تاريخ مرصع کې د خوشحال خان د بياض يا بياضونو څخه نږدې يوسل وشل اقتباسونه کړي دي. ( ۵: ۲۳٦ مخ).

دا هم ويلی شو چې خوشحال د پښتنو بسيط تاريخ ليکلی و. د دې کتاب د ليکلو څه واضح ثبوت خو نه شته البته د دغه غزل اظهار خوشحال په دستارنامه کې کړی دی. (۴: ۱٦۱ مخ). د خوشحال په آثارو کې هر ډول مضامين پيدا کېږي: عشق، اجتماعي، سياسي، فلسفي، علمي، عرفاني، تربيوي، انتقادي، تاريخي، انتروپالوجيک، مذهبي، طبي، جغرافيوي، ديالکتيکي ( په کلاسيکه معنا يعنې د سقراطيه پيروي)، نجومي، هزليات، او نور. (۱۸: ۳۱۲ مخ).

پوهاند ميرحسين شاه ليکي، چې خوشحال خان خټک (۲۵۰) بېلابېل آثار کښلي وو چې د پښتنو غوره ملي او تاريخي اسناد گڼل کېږي. (۲٦: نظر، هـ مخ).

د تاريخ مرصع په ليکنه کې افضل خان زياتره برخه د خوشحال له ليکنو څخه ترتيب کړې ده، د خان له خوا يې هم ډېر څه ليکلي دي. دا يوه نادره تاريخي نسخه ده چې موږ ته ترې ډېر زيات تاريخي معلومات را رسيدلي دي. (۱۱: ۱۹۹- ۲۰۰ مخونه).

ختيځ پېژندونکی کارو ليکي، چې خوشحال خان پر شعر او قصيدو سربېره په نثر کې هم ډېرې ليکنې کړي دي چې مذهب، سپورت، بازان، معاصر تاريخ له اکوړې څخه بيا

د ده تر وخته پورې په کې شامل دي. (۷: ۳۳۱ مخ). یو بل انګرېز لیکوال بیدولف لیکي، داسې ښکاري چې خوشحال خان واقعاً د مختلفو استعدادونو خاوند و او خارق العاده فکري قوت د ده په نصیب و. داسې یو بحث به نه وي چې د هغه په هکله ده د یوه متخصص په توګه څه نه وي ویلي. د ده په شعرونو کې د انساني ژوند هر اړخیزې ستونزې تشریح شوي دي چې اوس د لوستونکو لپاره د ده زکاوت او پوهه د حیرانتیا وړ ده. ده د خپل ژوند او زمانې او قبیلوي ناخوالو په اړه لوړ تفصیلات ورکړي دي او د زمانې او شرایطو سره سم موږ ته نن ورځ د ده شعرونه شاهکار بلل کېږي. ( ۱۹: ۱۰۷ مخ).

جیمز ډارمستتر (۱۸۴۹- ۱۸۹۴م.) کاږي: ((... د دې تاریخ (تاریخ مرصع) یوه برخه اساطیري ده، خو بله برخه یې د خوشحال خان خټک تر وخت دوې پېړۍ وړاندې ده چې زیات ارزښت لري، ځینې وایي چې دا کتاب هم خوشحال خان خټک کښلی و او افضل خان خټک یې په مسوده کې ښکلي او مرصع کلمې ورزیاتې کړې او د تاریخ مرصع نوم یې پرې کېښود (۲٦: تعلیقات، نهم).

خوشحال خان (۱٦۱۳- ۱٦۹۱م.) نومیالی افغان شاعر او د قبیلې رئیس هڅه کوله چې افغان قبایل د مغولو د تېری او د خپلواکۍ ساتلو د دفاع په خاطر وهڅوي. هغه که څه هم د خټکو له قبیلې څخه و، خو تل یې تاکید کاوه چې دی تر هر څه مخکې افغان دی او د خپل وطن او ملت د خپلواکۍ د دفاع لپاره یې د مغولو پر ضد پښتني قبایل را پارول او کومو چې د مغولو پر ضد جګړه نه کوله هغوی ته یې بد ویل. ده خپل خلک د وطن او آزادۍ په روحیه وروزل. (۲۰: ٦۴ مخ). خوشحال نه یوازې د کورګانیانو پر ضد د ملي آزادي بخښونکي غورځنګ لارښود و، بلکې په پښتو کې د یو جلا مکتب موسس هم ګڼل کېږي. دی ځکه د پښتو ادب پلار ګڼلی شو چې د پښتو په نثر او نظم کې یې زیات آثار کښلي او هم یې د ((پښتو تاریخ)) کښلی دی. (۲۲: ۲۴۰ مخ).

الفنستن لیکي، چې د خوشحال خان اشعار په ډېره لوړه کچه د ده او د ده د ملت ښکارندوي دي؛ د آزادۍ او حریت ډېر لوړ احساسات په کې تاوده شوي دي. د هغه د اشعارو هدف دا و چې خپل وطنوال د هېواد د آزادۍ او حریت دفاع ته تحریک کړي او د دغه ملي هدف په لاره کې یې سره متفق او متحد کړي. خوشحال خان دغه راز د پښتنو تاریخ له بابله بیا د ده تر عصره کښلي و. (۲۱: ۲۰٦- ۲۰۹ مخونه).

شوروي ختيځ پېژندونکي، خوشحال د يوه شاعر، فيلسوف، سياسي او پوځي مشر په توګه را پېژني او زياتوي چې خوشحال له (۲۰۰) زيات آثار په پښتو ژبه کښلي دي. (۲۲: ۹۱ مخ).

د خوشحال خان خټک د شخصيت، ملي اهدافو او د تاريخ ليکنې په اړه په ((دانشنامه ادب فارسي)) کې داسې راغلي دي: ((خوشحال خان يو ملي رهبر و او د خپل وطن د آزادۍ لپاره وجنګيده او په خپلو اشعارو کې يې د کورګانيانو د واکمنۍ پرضد د افغان قبايلو ترمنځ تبليغ کاوه. په دستارنامه کې د خوشحال خان اصلي غوښتنه د افغانانو د ملي حکومت جوړول و. د بياض پښتو يادداشتونه د ځينو تاريخي موضوعاتو په اړه وو او د خپلې کورنۍ د پېښو بيان يې په فارسي شعر کې هم کړی دی. او د بياض ځينې مهمې برخې په تاريخ مرصع کې راغلي دي. (۲۴: ۳۷۹).

په پای کې بايد ووايم، چې خوشحال خان د علم او فرهنګ په نړيوال ډګر کې دومره لوی شهرت او شخصيت ګټلی دی چې د ده آثار په انګرېزي، فرانسوي، ډنمارکي، جرمني، روسي، ناروېژي، ازبکي، چکي، ايټالوي او پولنډي ژبو باندې ژباړل شوي، د افغانستان او نړۍ په مهمو دايرة المعارفو کې معرفي شوي او د ده پر ژوند او آثارو په لس ګونو تېزسونه ليکل شوي دي چې په ترڅ کې يې د ده تاريخ ليکنه تاييد او ستايل شوې ده.

**نتيجه**

خوشحال خان خټک د افغانستان په تاريخ کې د يوه ملي او سياسي مشر، مبارز، هېواد پال، آزادۍ غوښتونکی، شاعر، اديب، فيلسوف، تاريخ پوه او مؤرخ په توګه پېژندل شوی شخصيت دی، ملي او نړيوال شهرت لري.

خوشحال د سيمې او نړۍ د مؤرخينو او خوشحال پېژندنکو د پاملرنې او څېړنې وړ ګرځېدلی، ځکه د علومو پر مختلفو برخو يې په سل ګونو علمي آثار کښلي دي چې نه يوازې د دوی د ګټې وړ ګرځېدلي، بلکې د نړۍ مهمو ژبو ته هم ژباړل شوي دي.

د همدې مقالې دڅېړنې نتيجې ښيي چې خوشحال خان خټک د خپلو شعرونو، قصيدو، سفرنامه، آثارو او بياضونو د ليکلو او ويلو په ترڅ کې د افغانانو د تاريخ بېلابېل

ګوټونه روښانه او بیان کړي دي چې بې له شکه د افغانانو د تاریخ په لیکنه او بډاینه کې اغېزمن رول لوبولی شي. دا هم باید ووایم چې خوشحال یو نقاد شاعر، لیکوال او تاریخپوه و. ده په خپلو منثورو او منظومو آثارو کې د ځان، کورنۍ، خپل قوم او د کورګاني واکمنو ټول منفي اعمال غندلي او لکه چې د علماوو په باب وایي:

هر عالم چې رباني دی، ترې ځارېږم
نفساني وته غلیم غوندې ښــــکارېږم

***

چې په علم، عمل جوړ دی رباني دی
بې عمله علم، واړه شیطــــــــاني دی

***

نیم ملا، بلا د دین او د ایمــــــان دی
نیم طبیب خطر د تن دی، هم د ځان دی

***

مدعي ملا که ډېر علـــــم حاصل کا
دی چې علم په دنیا پلوري، باطل کا

(سوات نامه، ۷۰مخ).

د خوشحال څرګندونې له بده مرغه نه یوازې د ده د زمانې حقیقي انعکاس دی، بلکې تر اوسه هم زموږ په ټولنه کې حقیقي او مسلکي علمأ او طبیبان د ګوتو په شمېر دي او افغاني ټولنه له دې ناوړه ناروغۍ څخه زورېږي. په تاریخ کې چې څنګه د ماضي لوستل اړین دي، همداسې اوسنۍ وضعه او پېښې هم اړینې دي او د ماضي په اړه پوهه او شعور پیداکوي او یو له بله نه شلېدونکې اړیکه لري.

**ماخذونه:**


١. سلطاني، محمد انور، تاریخ د نظم په څپوکې (د افغانستان معاصر تاریخ په نظم کې)، کابل: د ملي تحریک فرهنګي ځانګه، ۱۳۹۴.
٢. خټک، خوشحال خان، د خوشحال خټک کلیات، دویم ټوک، کابل: آریانا مطبعه، ١٣٦٩.
٣. خټک، خوشحال خان، د خوشحال خټک کلیات، لومړی ټوک، کابل: آریانا مطبعه، ١٣٥٩.

۴. خليل، ډاکټر حنيف، د خوشحال بابا مطالعه، پېښور: يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۱م.
۵. پوهاند شاه ولي، خوشحال پېژندنه، درېيم چاپ، جلالکوټ: ختيځ خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۴.
٦. خټک، خوشحال خان، ديوان خوشحال خان خټک، پېښور: صوبه سرحد جدون پريس، -.
۷. کارو، سراولف، پښتانه، د الحاج شېرمحمد کريمي ژباړه، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۸.
۸. خټک، خوشحال خان، دستارنامه، کابل: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۴۵.
۹. گروسه، رنه، امپراتوري صحرا نوردان، ترجمه عبدالحسين ميکده، چاپ چهارم، تهران: شرکت انتشارات علمي و فرهنگي، ۱۳۷۹.
۱۰. خټک، خوشحال خان، سوات نامه، د پوهاند عبدالحی حبيبي د سريزې او څرگندونو سره، کابل: د افغانستان د علومو اکاډيمي، دولتي مطبعه، ۱۳۵۸.
۱۱. خټک، پروفيسور پرېشان، پښتانه څوک دي؟ دويم ټوک، جلا آباد، مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۱.
۱۲. کاکړ، ډاکتر برکت شاه، ((پښتو او پښتانه: د ژبې او کلتور له لارې د نسل تعين سوالونه))، تکتو (پښتو او انگرېزي مجله)، کوټه: بلوچستان يونيورسټي پښتو څانگه، ۲۰۱۷.
۱۳. سيدوف، حميد، کلياسوف، اناتولي، د افغانستان پښتانه او اسرأييل، مسکو، ۲۰۱۵.
۱۴. خټک، خوشحال خان، هندوکوهنامه، د حبيب الله رفيع سريزه او څېړنې، د پښتني کلتور د ودې ټولنه (جرمني)، لاهور: ملت پرېس، ۱۳۸۰.
۱۵. خټک، خوشحال خان، کليات، د دولت محمد خان کامل مهمند سريزه او حاشيې دويم چاپ، پېښور: اداره شاعت سرحد، ۱۹٦۰م.
۱٦. جوزجانی، منهاج السراج، طبقات ناصری، لومړی ټوک، دويم چاپ، کابل: پوهنې مطبعه، ۱۳۴۲.

۱۷. استرآبادی، محمد قاسم هندوشاه، تاریخ فرشته، لومړی ټوک، دویم چاپ، تهران: د آثارو او مفاخرو ټولنه، ۱۳۸۷.
۱۸. روهي، محمد صدیق، ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦.
۱۹. بیدولف، (( د اوولسمې پېړۍ پښتو شاعري))، د شېرمحمد کریمي ژباړه، د زېری کالنۍ، کابل: پښتو ټولنه، ۱۳٦۳.
۲۰. گریگوریان، وارتان، ظهور افغانستان نوین، ترجمه علي عالمي کرماني، تهران: محمد ابراهیم شریعتي افغانستاني، ۱۳۸۸.
۲۱. الفنستن، مونټ سټوارټ، د کابل سلطنت بیان، لومړی ټوک، کابل: د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، ۱۳۵۹.
۲۲. حبیبي، عبدالحی، تاریخ افغانستان در عصر کورگانی هند، کابل: تاریخ ټولنه، د پوهنې مطبعه، ۱۳۴۱.
۲۳. فیروزالدین، ډاکتره خدیجه بیگم، خوشحال خان خټک ژوند وهنر، د اجمل ښکلي ژباړه، کابل: د افغان کلتوري ټولنو جرگه، د آسیا دانش مطبعې تخنیکي څانگه، ۱۳۸۷.
۲۴. دانشنامه ادب فارسی، دانوشه حسن په مشرۍ، چاپ دوم، جلد سوم، تهران: سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، ۱۳۸۱.
۲۵. عطایي، محمد ابراهیم، ((د پښتو په فولکلوري سندرو کې د افغان او انگرېز د دوهم جنگ انعکاس))، د زیري کالنۍ، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل: دولتي مطبعه، ۱۳٦۳.
۲٦. خټک، خوشحال خان، فراقنامه، د زلمي هېواد مل سریزه، څرگندونې او ویی پانگې او تعلیقات، کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل: د لوړو او مسلکي زده کړو وزارت مطبعه، ۱۳٦۳.

به نام خدا

معاون سر محقق دکتور فاروق انصاری

# تاملی در وضعیت طبقات اجتماعی دورۀ غزنوی

**خلاصه**

در این نبشتۀ پژوهشی در باره اوضاع اجتماعی عصر غزنویان به ویژه از حیث وضعیت طبقاتی بحث گردیده است؛ زیرا در روزگار فرمانروایی غزنویان(۴۴۴-۳۵۱ق.) که طی آن در جنبه‌های مختلف حیات سیاسی، اقتصادی و اجتماعی غزنه و افغانستان تغییرات و تحولات مثبت و منفی رخ داد و از جمله در کشورگشایی‌ها و فتوحات در دو جانب ایران و هند، غنایم فراوان و ثروت‌های عظیمی به غزنه انتقال یافت، در همان حال در درون جامعه نیز سه طبقۀ ممتاز(شامل سلطان، وزراء، اعیان و اشراف)، طبقۀ متوسط(شامل صاحبان حرف، تجار، ملاکین و روحانیان بزرگ) و طبقۀ پایین(شامل اکثریت مردم کارگر و کشاورز خراج گذار، مالیات دهنده و بیگار) شکل گرفت و در حالی که طبقه اعیان و اشراف از همه امتیازات بهره‌مند بود و طبقه متوسط نیز با اتکاءبه ثروت و دارایی خویش متحمل رنج زیادی نمی‌گردید، طبقه سوم و پایین جامعه از همه امتیازات محروم بود و گویا اینان برای آن، آفریده شده بودند تا برای طبقات بالا مالیات فراهم آورند، بیگاری نمایند و توقعات و امیال ایشان را برآورده سازند. همه این موضوعات در این پژوهش مورد مطالعه و بررسی قرار گرفته است.

**مقدمه**

شکل‌گیری سلسله حکومتی ترکان در غزنه به دلیل آثار و پیامدهای گوناگونی که در تاریخ سیاسی و اجتماعی افغانستان برجای گذاشت، یکی از مهمترین دوره‌ها و مقاطع تاریخی به حساب می‌آید. استقرار نظام سیاسی از نوع سلطانی توسط ترکان غزنوی و سپس گسترش دامنه قدرت و سلطه آن به ایران امروزی و افغانستان و نیز لشکرکشی‌های متعدد آن به جانب هندوستان و شکل خاص ارتباط این حکومت با دستگاه خلافت بغداد از مباحث جالبی است که تاکنون در منابع و تحقیقات مختلف مربوط به این سلسله انجام یافته است،

اما در بعد اجتماعی و جنبه‌ها و اشکال مختلف حیات گروهی و جمعی عصر غزنویان آنچنان که شایسته است کاری صورت نگرفته، به ویژه در باره طبقات اجتماعی و گروه‌های دینی و مذهبی این عصر که به دلیل استمرار طولانی در تاریخ، تاثیرات بعضاً عمیق و ماندگاری گذاشتند، کار پژوهشی کمتری صورت گرفته است و این امر(کم‌کاری در باب جنبه‌های اجتماعی) اگر از یکسو به دلیل سنت تاریخ نویسی قدیمی سیاست‌محور و دربار پسند بوده است از جانب دیگر به این دلیل نیز بوده است که در گذشته و در عصری که تاریخ برای اشخاص و سلسله‌های خاص نوشته می‌شد و توده‌ها در آن غایب اصلی بودند، مورخ برای متاعش خریداری بهتر از دربار نداشته است و همین، دلیلی است برای اینکه بیشترین آثار و تالیفات آن عصر بر حول محور دربار و طبقه بالادستی پدید آمده است.

با این وصف، جسته و گریخته، اینجا و آنجا مطالبی در باب اوضاع اجتماعی غزنه در شماری از منابع مربوط به این دوره آمده است و این مقاله با اتکاء و استناد به همین منابع و تحقیقات موضوع طبقات اجتماعی را به بررسی گرفته است.

**مبرمیت:** مطالعه تاریخ اجتماعی عصر غزنوی نشان دهنده وجود و حضور طبقات اجتماعی در این روزگار است؛ یعنی طبقاتی که هرچند سابقه شکل‌گیری آنها به قرون قبل بر می-گردد، اما تشدید این وضعیت و به میان آمدن حالتی که در آن یک گروه و طبقه خاص اجتماعی، علایق همسان اقتصادی، ارزشی و فرهنگی پیدا می‌کند، در این زمان بنا به عواملی به حد بالای خود رسید و این امر ایجاب می‌نماید تا به نحوه شکل‌گیری و تشدید وضعیت طبقاتی در عصر غزنوی پرداخته شود و به حیث یک امر مهم و مبرم در تاریخ اجتماعی کشور دست‌کم در حد یک مقاله مورد بررسی قرار گیرد.

باید ملتفت بود که طبقه صرفاً یک ساختار نیست بلکه مفهوم تاریخی است که در گذر زمان تاریخی شناخته و درک می‌شود و روی همین حساب، پرداختن به طبقات اجتماعی در عصر غزنوی در واقع یافتن آگاهی از پدیده مستمری است که شایدمدت های طولانی تاریخ مملکت ما را زیر تاثیر قرار داده است.

**هدف:** از پیامدهای حکومت مقتدر غزنوی شکل‌گیری و تشدید وضعیت طبقاتی در امپراتوری ایشان بود که به دنبال خویش شکاف‌های بزرگ اجتماعی را نیز پدید آورد و همین امر نهایتاً زوال امپراتوری غزنویان را باعث گشت. تبیین تاریخی این وضعیت و بررسی عواملی که منجر به تشدید آن شد از اهداف مهم تحقیق به شمار می‌رود.

**روش تحقیق:** برای این پژوهش از «روش تاریخی با رویکردتحلیلی» استفاده نمودیم، به این معنی که اطلاعات و داده‌های تحقیق منحصراً مربوط به گذشته بود و از این جهت لازم

بود تا جمع آوری، ارزشیابی و بررسی صحت و سقم آنها با شیوه و روش تاریخی صورت گیرد، اما از آنجا که ریشه‌یابی، تجزیه و یافتن مصادیق تاریخی نیاز به تحلیل و تبیین تاریخی داشت ، بناءً رویکرد تحلیلی را برگزیدیم تا حاصل آن بتواند برای اهل پژوهش تاریخ کشورما مفید واقع شود.

**تعریف و پیشینه طبقه:** اگر چه طبقه از مفاهیمی است که بیشتر در جامعه شناسی کاربرد دارد و منظور ایشان نیز بیشتر تفاوت‌های اجتماعی در میان گروه‌های اجتماعی است که باعث ایجاد اختلاف در پیشرفت مادی و قدرت آنها شده است، اما با این وصف توافقی در مورد تعریف طبقه وجود ندارد و ما در اینجا چند تعریف مهم را که از سوی دانشمندان برجسته ابراز شده است از باب نمونه می‌آوریم:

باتومور:«طبقه اجتماعی به گروهی وسیع از افراد گفته می‌شود که پایگاه اجتماعی مشابهی دارند و از آگاهی جمعی برخوردارند و دارای خرده فرهنگ خاصی هستند و هر طبقه‌یی با سطح معینی از قدرت، ثروت و حیثیت مشخص می‌شود.» (۸،: ص۳٦۴)

مارکس:«عوامل روابط کار، مالکیت، قدرت و اعتبار اجتماعی سبب قشربندی اجتماعی می‌گردد و طبقه بندی اجتماعی مبتنی بر سازمان تولید است.»(همان:ص۴۰۳)

ماکس وبر:«مفهوم طبقه حتی از لحاظ تجربی، مفهوم ابهام آمیزی است و این مفهوم را نمی‌توان حتی معادل مفهوم گروه دانست.»(همانجا)

بوخارین:«جمعی مرکب از اشخاص است که نقش یگانه‌یی در تولید بازی می‌کنند و با دیگر واحدهای سهیم در فرایند تولید نسبت‌های یگانه‌یی دارند.»(همان:ص۳٦٦)

آنچه از مجموع تعاریف می‌توان به دست آورد اینست که اولاً طبقه مرکب از افرادی است که دارای وجوه مشابه و همسانی از نظر علایق اقتصادی، فرهنگی، صنفی و...می-باشند، ثانیاً ممکن است افرادِ شامل در یک طبقه در طول زمان به آنچه که خودآگاهی طبقاتی نامیده می‌شود دست یابند، با یکدیگر به عنوان همتا و برابر رفتار کنند و حتی دوستی‌شان با یکدیگر صمیمانه‌تر شود.

با توجه به ویژگی فوق می‌توانیم اظهار داریم که طبقه در جوامع انسانی و به ویژه کشور ما سابقه بس درازی داشته و ریشه‌های آن به دوره‌های پیش از اسلام بر می‌گردد، ولی در بعد از اسلام در مطالعاتی که انجام شده محققان به دسته بندی از طبقات اجتماعی در افغانستان نایل شده‌اند که به زعم ایشان مدت های مدیدی استمرار یافته است و حسب آن

از سه طبقه‌یی نام برده‌اند که در طول دوره غزنوی نیز با شدت و ضعفی مرزبندی اجتماعی خویش را حفظ کرده و دوام نموده است. این سه طبقه عبارت بودند از:

١. طبقۀ ممتاز که شامل سلطان، وزراء، اعیان و اشراف می‌شد و از کلیه امتیازات معنوی و مادی برخوردار بودند.

٢. طبقه دوم یا طبقه متوسط شامل صاحبانِ حرف، تجار و ملاکین بزرگ می‌شد. این جماعت در بعد از اسلام عنوان دهگان یا دهقان یافت و تا اندازه‌یی در رفاه و آسایش به سر می‌بردند، ولکن برای حفظ جان، مال و دارائی خویش به پرداخت مالیاتِ گزاف متوسل می‌گردید. در این طبقه می‌توانیم از روحانیون، فقها و علمای بزرگ نیز نام ببریم، زیرا آنان که بعضاً به شکل پلی میان طبقۀ ممتاز و پائین جامعه نقش ایفا می‌کردند، از حیث برخورداری از امکانات و منزلت اجتماعی در سطح نسبتاً خوب و عالی قرار داشتند و بعضاً مناصب مهم کشوری را که غالباً نیمه موروثی بود، اشغال می‌کردند. (١٥:ص١٦٢؛ ٧:صص٤١٣-٤٦٩)

٣. طبقه سوم و پائینِ جامعه که اکثریت را تشکیل می‌داد و تقریباً از تمامی امتیازات محروم بود، هم مجبور به پرداخت خراج سنگین بود و هم می‌بایست در بیگاری‌ها شرکت می‌جست.(١١:صص٢٤٩-٢٥٨ ؛١:صص٢٧٣-٢٨٣ ؛٣:صص٣٦٦-٣٦٧) به هر میزان که توقعات طبقات بالا فزونی می‌یافت به همان میزان بر فاصله و شکاف میان این طبقه با طبقات بالادست فزون‌تر می‌شد. همچنین جنگ‌های پی در پی در داخل و خارج قلمرو غزنویان به سیه‌روزی بیشتر این طبقه منجر شده و خشک-سالی‌ها و قحطی‌ها نیز آن‌را مضاعف می‌ساخت.

**وضعیت طبقات در عصر غزنوی:**

به زعم اهل تحقیق یکی از دلایل اصلی اعمال بعضی سیاست‌های سختگیرانه ترکان که در اصل از سرزمین‌های آسیای میانه برخاسته بودند، نوع تلقی و نگاهی بود که آنان نسبت به مردم افغانستان یا خراسان آن‌روز به عنوان رعایای شان داشتند،زیرا به پندار ایشان رعیت خوب یعنی کسانی که تسلیم محض بوده و خراج و مالیات بدهند. نداشتن علایق و دلبستگی‌های محلی از سوی حکام نسبت به اهالی بومی و محلی چیزی است که محققان بدان اذعان نموده اند.(١٠:ص١٥٨)وگفته می‌شود سلاطین غزنوی در این راه تا بدان‌جا پیش رفتند که حتی به وزیران و نزدیکان خویش نیز طمع دوختند و به بهانه‌های مختلف آنان را برطرف و اموال و دارائی ایشان را مصادره نمودند. مانند ابوالعباس فضل بن احمد اسفراینی که از روزگار سبکتگین برای غزنویان خدمت می‌کرد و طی سال‌ها، رعایا را برای

پرکردن خزانه محمودی زیر فشار گرفته بود، و از این رهگذر مالی عظیم گردآورده بود، پس از آن‌که نتوانست اهل هرات را به جهت دریافت مالِ بیشتری زیر فشار قرار دهد و از جانب دیگر از دارائی خویش نیز حاضر نشد به سلطان چیز چشمگیری بپردازد مورد غضب واقع شد، تمام اموالش را مصادره کردند و خودش را نیز بعد از هفده سال وزارت کُشتند و یا به نوشتهٔ آثارالوزرا «آن بیچاره را در آن حبس به انواع عقوبت به شرف شهادت رسانیدند.»(۴:ص۱۵۲)

احمد بن حسن میمندی وزیر نیز سرنوشتِ مشابه به اسفراینی داشت. وی نیز مثل ابوالعباس اسفراینی ظاهراً به خاطر مال فراوانی که اندوخته بود، مورد مظان سلطان محمود واقع شد. اموالش مصاره گشت و خودش بعد از ۱۵ سال وزارت در قلعه کالنجر به حبس افتاد. هرچند وی در زمان مسعود غزنوی از حبس رهائی یافت و بار دیگر به وزارت رسید، اما رسم توقیف و مصادره دارائی وزراء توسط سلطان مسعود نیز ادامه یافت. چنانکه وی در مورد حسنک وزیر انجام داد.

یک نمونه از چنین رفتار حکومت غزنوی در غصب و تصرف املاک دیگران را محمد عوفی در جوامع‌الحکایات بسیار زیبا نقل کرده است. وی می‌آورد:

« درخدمت سلطان محمود مردی بود که او را مظفر دیوانه خواندندی، مردی ظالم، متهور، نابکار و بی‌اعتقاد بود. وقتی سلطان محمود خواست که ولایت دست‌نابرده و حوالی آن‌را بخرد و دیه‌ها و کاریزهای آن‌را ملک خود گرداند، مالکان از فروختن آن امتناع نمودند و به بهای آن رضا ندادند. سلطان از ایشان برنجید و شحنگی ایشان مظفر دیوانه را فرمود، و مظفر بر ایشان چندان ظلم کرد که آن مردمان مرگ به آرزو خواستندی و از حیات خود سیر آمدند، و یکی از ظلم‌های مظفر آن بود که بر بام رفتی و غلامان پیش او بایستادندی، پس دهقانی بخواندی و پیش خود بداشتی و پرسیدی: این خانهٔ کیست؟ دهقان گفتی: خانه تو است. گفتی: در خانه من ناخوانده چرا آمدی؟ آن بیچاره گفتی: من ناخوانده نیامده‌ام مرا بخواندی. گفتی: دروغ می‌گویی، و سوگند بخوردی که من ترا نخوانده‌ام. پس فرمود تا او را از بام فرو انداختندی، و بسیار بودی که لنگ شدندی و بسیار بودی که کوفته گشتندی، و کار به درجه‌ای رسید که هیچ‌کس گرد او نگشتی، و چون از این نوع ظلم بسیار شد، ظلمی دیگر شنیع‌تر از آن پیش آورد و همانا آن بود که دهقانی را بخواندی و گفتی تو چند غلام داری او گفتی: چندین. گفتی: همه را حاضر کن. چون غلامان را حاضر کردی یکی از آن غلامان که زشت و معیوب‌تر بودی اختیار کردی و گفتی: که این را به من فروش. آن دهقان گفتی: ترا بخشیدم. گفتی: نخواهم، بها بستان. پس به اندک چیزی او را بخریدی

و آزادش کردی و گفتی: اکنون مولای سلطان شد، دختر خود به زنی وی ده، و اگر آن مرد از آن امتناع نمودی او را چندان بزدی و برنجانیدی که آن مرد به ضرورت رضا دادی، و خلق ازین به تنگ آمدند و جمله ولایت را به سلطان فروختند.»(۹:صص۳۸۰-۳۸۳)

در چنین اوضاع و احوالی در عهد سلطان محمود غزنوی که ثروت و جلالش به قولی تا چند قرن بعد از او هیچ پادشاه را جمع نشد در گوشهٔدیگر مملکت در نیشاپور که زمانی تخت‌گاه محمود بود قحطی چنان فشاری بر مردم وارد می‌نمود که به نوشته میرخوند مردم روی به گوشت سگ و گربه آوردند و مردمان گوشت یکدیگر را می‌خوردند به نحوی که «پدر از گوشت فرزند تغذی می‌ساخت و برادر به لحم برادر روز می‌گذرانید و شوهر زن را می-جوشانید...»(۱۲:ص۱۰۳)

گفته می‌شود در قحطی نیشاپور و جوار آن، یکصدهزار نفر جان دادند، اما سلطانِ غزنه پروای مردم گرسنه را نکرد، در حالی‌که امکان و توانایی‌آن‌را داشت که مردم را از گرسنگی و مرگ و قحطی نجات بخشد.(۷:صص۲۹۸-۳۰۰)

در عصر سلطان مسعود نیز خراسان یا افغانستان کنونی زیر فشار مالیاتی قرار داشت، زیرا وی آن‌جا را به شخصی که سوری بن معتز نام داشت سپرده بود. سوری در یک وقت پنج صد بار هدیه برای سلطان مسعود فرستاد که چهار میلیون درهم ارزش داشت. چون سلطان مسعود این هدایا را دید گفت: «نیک چاکری است این سوری، اگر ما را دو سه چنین چاکری بودی بسیار فایده حاصل گشتی.»(۲:ص۳۲۴) بیهقی سپس سوری را مردی ظالم و متهور دانسته و نوشته است که «چون دست او را گشاد کردند بر خراسان، اعیان و روسا را برکند و مال‌های بی‌اندازه ستد و آسیب ستم او به ضعفا رسید و از آن‌چه ستد، از ده درم پنج امیر را داد.»(همانجا)

بعد از رفتار این چنانی بود که مردم برای رهائی خویش به ترکمنان سلجوقی متوسل شدند و به توسطِ نامه و نماینده از ایشان خواستند تا آنان را از چنگ عمالِ غزنوی برهانند.(همانجا)

بدون تردید، حرص شدید سلاطین غزنوی به جمع‌آوری مال و مملو ساختن خزانهٔ خویش، از عوامل اصلی روی‌گردانی مردم از غزنویان و طرد ایشان از این سرزمین بود.

نادیده نباید گذاشت که آنچه رفتار اینگونه‌یی دربار و عوامل غزنوی در برابر مردم را توجیه می‌کرد، هزینه‌های فوق‌العاده زیادی بود که باید در وجه سلطان پرداخت می‌شد و البته که حکومتِ غزنوی بیشتر یک دستگاهِ عظیم نظامی بود و بدون صرف این هزینه‌ها نمی‌توانست پویا بماند واستمرار یابد. همچنین بدون ایجاد دیوان‌های وسیع و منظم اداری،

نه امکان حفظ تحرک ماشین جنگی بود و نه هم مخارج تجمل‌های درباری سلطان تأمین می‌گردید.(٦:ص٢٧٢) مثلاً کوشکِ نوِ مسعودی که بنای آن چهار سال طول کشید و بیش از هفت میلیون درهم هزینهٔ آن شد، چندین برابر مبلغ آن هم کار اجباری و بیگاری بر رعایا تحمیل شد و عاقبت بنائی به وجود آمد که به نوشتهٔ بیهقی «چنین کوشک... هیچ جای و هیچ پادشاه چنین بنا نفرمود.»(۲:ص۴۱۰)

همچنین سلطان مسعود در عروسی پسر محبوب خود – مردان شاه – ده میلیون جهاز برای عروس تهیه کرد و نیز به مناسبت ختنهٔ پسرانش جشنی با شکوه برپا کرد که در آن همهٔ بزرگان مهمان بودند:

«و سلطان یک هفته به باغِ صدهزار ببود و مثال داد تا کوشک کهن محمودی زاولی بیاراستند تا از امیران فرزندان چند تن تطهیر (ختنه) کنند. و بیاراستند به چندگونه جامه-های به زر و بسیار جواهر و مجلس‌خانه‌های زرین و عنبرین‌ها و کافورین‌ها و مشک و عود بسیار در آنجا نهادند، و آن تکلف کردند که کس به یاد ندارد و غرّهٔ ماه رجب مهمانی بود همهٔ اولیا و حشم را.»(۱۴:ص۱۷۰)

چندتن از بزرگان دولت غزنوی و امیران وقتی سلطان را چنین دیدند، آنان نیز برای ختنهٔ فرزندان‌شان «دعوتی بزرگ ساخته... و کاری با تکلف کرده و هفت شبانه روز، بازی آوردند و نشاطِ شراب کردند.»(همانجا)

این وضعیتِ طبقهٔ ممتاز و همان گروهی بود که فکر می‌کرد مردم برای آن آفریده شده-اند تا از آنها تبعیت و برای آنها خدمت کنند.

البته در مواقعی دولت غزنوی احیاناً به یاری بی‌نوایان بر می‌خاست، سلطان مسعود در ماه رمضان دستور داد تا از خزانه به درویشان و مستحقان غزنه و اطراف آن، کمک کنند. ابوالقاسم علی میکالی عالم محدث در فراوَه، دو رباط با مخازن سلاح و تجهیزات بنا کرد و با حفر کاریزها و چاه‌ها، زراعت و کشاورزی و آبیاری آن ناحیه را بهبود بخشید. حسنک از دیگر افراد خاندانِ میکالی که بعداً وزیر سلطان محمود شد، هنگامی که رئیس نیشاپور بود، اقدامات خیرخواهانه‌یی در آن‌شهر انجام داد. از جمله دستور داد تا سرِ بازارها را بپوشانند.(۱۳:ص۱۱۵)

اما طبقهٔ متوسط یا دوم که در تاریخِ گذشته به نام دهگان (در عربی دهقان) نامیده می‌شد. در حقیقت طبقه‌یی بود که ریشه در پیش از اسلام می‌رسانید و طی نخستین قرون اسلامی نیز، پس از آنکه اسلام برگزید، همچنان حافظِ بخش مهم فرهنگ خویش باقی ماند و به خصوص در عصر سامانیان دارای نفوذ فوق‌العاده‌یی گشتند و در واقع، نظامِ سامانی را

برکشیدهٔ آنان به حساب می‌آوردند، اما در اواخر دوره سامانی به دلیل توسعهٔ شهرها و ضعف ادارات دیوان، تدریجاً موجبات انحطاط طبقهٔ دهقان و بروز ناخرسندی در میان آنها پدید آمد که خود تا حدی اسباب سقوط و انقراض سامانیان را تسریع ساخت. انحطاط این طبقه ادامه یافت و به تدریج به جائی رسید که نام دهقان مترادفِ زارع و برزیگرِ ساده و بی‌زمین شد.(٦:ص٣٦٧) یکی از دلایل ضعف طبقه متوسط، پرداخت مالیات‌های گزاف به دولت برای حفظ جان خویش بود. در صورتی که طبقهٔ ممتاز (امرا و اشراف) از ادای باج و خراج معاف بود.(٣:ص٣٦٧)

دیگر آنکه در اوایل روزگار غزنویان به خصوص سلطان محمود قسمت اعظم زمین‌های زراعتی خراسان را از دست مالکان اصلی (دهگانان) بیرون کشید و به ملک شخصی خود و افراد خانواده و وابستگان و سرهنگانِ سپاهش تبدیل کرد. .(٥:انترنت) یک نمونه از چنین کرداری را پیشتر در داستانِ منقول از محمد عوفی آوردیم. راه دیگر برای تضعیف این طبقه، سپردن اختیار و ادارهٔ حیطه تصرفی ایشان به سرداران و قوماندانان نظامی خویش بود. چنانچه غزنویان به سال ۴۰۰ و۴۰۱ق. شهرهای مختلف به خصوص هرات و توس را به عنوان مواجب به قوماندانان سپردند و اینان عنوان «صاحب» یافتند.(١:ص١٨) روش سلطان مسعود نیز آن بود که گاه چند ده را به یکی از ارکان دولت خویش می-بخشید.(١١:صص٢٥٥)

به این ترتیب ستون فقرات طبقه متوسط درهم شکست و مفهوم دهگان که ریشه در پیش از اسلام داشت و در عهد اسلامی نیز به بزرگان و صاحبان املاک و زمین‌ها اطلاق می‌شد و در حقیقت وارثانِ طبیعی و ملی فرهنگ و گذشتهٔ این سامان به حساب می‌آمدند، تغییر کرد و به گروهی بی‌زمین و کم‌زمین و محروم تنزل یافت. از میانِ طبقهٔ متوسط تنها روحانیان توانستند که تا حدودی مقام و منزلت خویش را حفظ و حتی به گروه ممتاز تبدیل شوند؛ زیرا حکومت، مناصب مهمی چون قضا و خطابت را به آنان می‌سپرد و معمولاً به فراخور این مقام‌ها، زمین‌های زراعتی و املاکِ خاصه به آنان واگذار می‌شد. از سوی دیگر روحانیان، پادشاه و امرا را حامی مذهب و بانی نظم می‌دانستند و روی این ملاحظات با نظام، همسو و سازگار بودند.

اما طبقه سوم یا اکثریت زیردست و پائین جامعه، همان‌هائی بودند که در هرحال مجبور به برآورده ساختن توقعات و امیالِ طبقهٔ ممتاز در زمینه‌های مختلف بود. در زمان جنگ و لشکرکشی باید، احتیاجات جنگ را فراهم می‌کرد، به عنوان بیگاری راه‌های عبور لشکریان را درست می‌نمود، قلاع و بروج می‌ساخت، علوفه و مواد ارتزاقی سپاهیان را آماده می‌کرد و

نیز پولِ مورد ضرورت لشکر را که بعضاً بسیار سنگین و طاقت‌فرسا بود فراهم می-نمود.(۷:ص۲۹۷)

سنگینی اصلی بار مالیات و خراج نیز بردوش همین طبقۀ اکثریت قرار داشت. گویند سلطان مسعود پس از گذراندن ماه اول زمستان، اردویش را به قصد نیشاپور حرکت داد. او هفته‌یی در نیشاپور ماند و سپس به سوی گرگان راه افتاد تا مالیات‌های عقب افتادۀ گرگان و ساری را در شمال ایران کنونی گردآوری کند. سلطان مسعود گفت: «می‌گویند به ساری هزار هزار مرد است، اگر از هر مردی یک دینار گرفته شود هزار هزار دینار باشد، جامه و زر نیز به دست آید.»(۵:انترنت) وی در همین سفر در آمل در شمال ایران کنونی به بزم و باده نشست و در حالت مستی دستور داد نسخه‌یی تهیه کردند که بر طبق آن ده میلیون درهم پول و هزار تخته پارچۀ ابریشمین و هزار تخته قالی و پنج هزار تخته گلیم از مردم آمل و ساری بستانند، و اگر ندهند به زور بگیرند.

بزرگان و فقهای آمل که برای دریافتِ فرمان مسعود به اردوگاه دعوت شدند، گفتند که اگر سراسر طبرستان را زیر و رو کنند بیش از صدهزار درهم حاصل نشود و باج طبرستان و گیلان هیچ‌گاه از صدهزار درهم تجاوز نکرده است. اگر سلطان بخواهد این مبالغ گزاف را به زور از مردم بگیرند طبرستان خراب خواهد شد، اما تلاش این‌ها سودی نبخشید و سلطان مسعود همچنان بر طلبِ باج اصرار می‌نمود. مردم آمل چون دانستند که مسعود از تصمیم خویش باز نمی‌گردد، شهر را رها کرده و به کوهستان‌ها گریختند؛ اما نیروهای دولت غزنوی روز دیگر به نوشتۀ ابوالفضل بیهقی «آتش در شهر زدند و هرچه خواستند می‌کردند و هرکه را خواستند می‌گرفتند و قیامت را مانست... تا در مدت چهار روز صدوشصت هزار دینار به لشکر رسید و دو چندین بسته بودند به گزاف و ... بدنامی سخت بزرگ حاصل شد ... متظلمان از این شهر به بغداد رفته بودند و بر درگاه خلیفت فریاد کرده و گفتند که به مکه هم رفته بودند و ... امیر پیوسته این‌جا به نشاط شراب مشغول می‌بود و روز آدینه ... کرانۀ دریای آبسکون ... خیمه‌ها و شراعی‌ها زدند و شراب خوردند و ماهی گرفتند و کشتی‌های اُروس دیدند و...»(۲:صص۳۷۱-۳۷۲)

این وضعیتِ رقت انگیز اکثریت مردمی بود که در امپراتوری غزنوی به عنوان رعیت زندگی می‌کردند، یعنی در حالی که محروم از همۀ حقوق و امتیازهای یک موجودی به نام انسان بودند، در عین حال مجبور و مکلف به پرداخت باج و خراج و مالیات دستگاه سلطانی نیز بودند.

شاید در نتیجهٔ شرایط اجتماعی این چنینی بود که در برخی ایالات از جمله در شهرستانِ تاریخی سیستان بار دیگر عیاران وارد میدان شدند و هزاران نفر از ایشان به رهبری و فرماندهی بولیث بن بوالقصر بن ملک و طاهربن محمد و احمد بن طاهر و اسحاق بن وشنگیان به مخالفت های طبقه زیر دست و پایین جامعه سمت و سوی ضد حکومتی دادند و برای رهانیدن مردم از اجحافات غزنویان، قیام‌ها و خیزش‌هائی را سازمان دادند. با آنکه دولت غزنوی پس از قحطی سال ۴۰۰ق. و سپس شیوع مریضی وُبای سال ۴۰۱ق. در سیستان، تلاش فراوان نمود تا گروه عیاران را از میان بردارد، اما موفق به این‌کار نشد و تقریباً تا ختم دور اول حکومت غزنویان فعالیت‌ها و اقدامات ضد حکومتی آنان (عیاران) ادامه یافت.(۷:صص۵۷٦-۵۷۸)

**نتیجه**

نتیجه آنکه در دوره سلطه غزنویان نیز طبقات اجتماعی که ریشه‌های عمیق و قدیمی در افغانستان داشت، حفظ شد و به مانندِ گذشته در سه مرتبه و موقعیت ممتاز و بالا، متوسط و پایین، به حیات خویش ادامه داد، منتهی با این تفاوت که صاحبان امتیازات معنوی و مادی، اشراف و بزرگان کشوری و لشکری اکثراً ترکان بودند و در حد اعلا از صلاحیت، ثروت و اقتدار بهره مند؛ همچنانکه طبقه پایین و سوم از همه صلاحیت‌ها، امتیازات و داشته‌های مادی محروم بود و در نتیجهٔ حرص شدید سلاطین و ستم امرا و پرداخت انواع مالیات و نیز انجام بیگاری‌های طاقت فرسا در بدترین حالت قرار داشت و در همان حال قحطی‌ها و خشک سالی‌ها نیز از آنان قربانی می‌گرفت و چنانکه گفته شد، هزاران انسان از این طبقه در اثر گرسنگی جان خویش را از دست دادند و این در حالی بود که بزرگان و امرا و اشراف و طبقه بالای جامعه مجالس بزرگِ عیش و نوش را در باغ فیروزی و سایر باغ های غزنه برگزار می‌کردند؛ اما طبقه متوسط شامل تجار، صاحبان حرفه‌ها و ملاکین که ریشه در تاریخ پیش از غزنویان داشتند، هرچند به نحوی استمرار یافت؛ اما در نتیجه اعمال سیاست‌های مالیاتی غزنوی تا حدی دچار ضعف و رخوت گردید و از نقش آن به عنوان حافظان فرهنگ قدیمی کاسته شد.

حرف آخر آنکه دورهٔ غزنوی یکی از تاثیر گذار ترین دوره‌ها در تاریخ افغانستان و شبه قاره هند به شمار می‌رود و بایسته آنست که به خصوص جنبه‌های اجتماعی و تمدنی این دوره مورد مطالعه و مداقه علمی قرار گیرد.

## مآخذ


۱. اشپولر، برتولد ، تاریخ ایران در نخستین قرون اسلامی، ترجمه مریم میر احمدی، چاپ ۴، ج۲، علمی و فرهنگی، تهران، ۱۳۷۹.

۲. بیهقی، ابوالفضل ، تاریخ بیهقی، ویرایش جعفر مدرس صادقی، مرکز، تهران، ۱۳۷۷ .

۳. پرویز، عباس ، تاریخ دیالمه و غزنویان، علمی، تهران، ۱۳۳٦.

۴. حاجی عقیلی، سیف‌الدین ، آثارالوزرا، تصحیح میرجلال‌الدین حسینی درموی، دانشگاه تهران، تهران، ۱۳۳۷.

۵.خنجی، امیرحسین، «فرزندان سبکتگین راهگشایان حاکمیت ترک»، قابل دسترسی به آدرس:WWW.IRANTARIKH.COM تاریخ مشاهده:۱۳۹٦/٦/۱٤

٦. زرین کوب، عبدالحسین ، تاریخ مردم ایران، چاپ۹، امیرکبیر، تهران، ۱۳۸۴.

۷. سیستانی،محمداعظم ، مالکیت ارضی و جنبش‌های دهقانی در خراسان قرون وسطی، مرکز علوم اجتماعی آکادمی علوم جمهوری دموکراتیک افغانستان، کابل، ۱۳٦۲.

۸. شایان مهر، علیرضا، دایرۀ المعارف تطبیقی علوم اجتماعی، ج۱و۲،کیهان، تهران، ۱۳۷۷.

۹. عوفی، محمد ، جوامع الحکایات و لوامع الروایات، تصحیح امیر بانو مصفا، جزء دوم، بنیاد فرهنگ ایران، تهران، ۱۳۵۳،.

۱۰.گروهی از نویسندگان، تاریخ ایران- کیمبریج( از فروپاشی دولت ساسانی تا آمدن سلجوقیان)، ترجمه انوشه، ج۴،امیرکبیر، تهران، ۱۳۸۹.

۱۱. مددی، محمداکبر، وضع اجتماعی دوره غزنویان، بیهقی، کابل، ۱۳۵٦.

۱۲. میرخوند، میرمحمد بن سیدبرهان الدین، روضه‌الصفا، ج۴، خیام، تهران، ۱۳۳۹.

۱۳. ناجی، محمدرضا، سامانیان و غزنویان، ققنوس، تهران، ۱۳۸۷.

۱۴. نازک کار، ژینوس ، آئین و رسوم رایج در تاریخ بیهقی و در عهد غزنوی، ترفند، تهران، ۱۳۸۲.

۱۵. نوذری، عزت‌الله ، تاریخ اجتماعی ایران، چاپ۲،خجسته، تهران،۱۳۸۱.

پوهاند نقیب الله ثاقب

# د هویت په تثبیت کې د نوې تکنالوژۍ د ونډې څېړنه

**لنډیز**

کله چې په افغانستان کې د هویت په تثبیت کې د نوې تکنالوژۍ ونډه وڅېړل شي، معلومه به شـي چې د هویت په تثبیت کې نوې تکنالوژۍ ( DNA ) ښـه رول لري. اوس ګورو چې د اوسـنۍ تکنالوژۍ په اساس ډېر ګټور معلومات ترلاسه کېږي ترڅو ددې په اساس کیدای شي په راتلونکي او موجوده وخت کې په دې اړه د هر اړخیزو اختلافاتو مخه ونیول شـي او ښکیل کس هویت به په اسانۍ سره تثبیت او پیدا شي ترڅو د همـدې لارې نه کولای شــوو چې اجتماعي او جنایي عدالت تامین کړو. دا خپله د ټولنې د پرمختګ لپاره یوه ښه زیری دی.

**سریزه**

له هغه وخته چې انســان نړۍ ته راغلی، د جرایمو لړۍ هم پیل شــوې ده په لومړیو کې به د وخت په ســاده او ابتدایي وســایلو نوموړي جرایم ثابتېدل او مرتکبین به یې مجازات کېدل. د کلونو له تېرېدلو وروسته جزا حقوق یو نوي پړاو ته داخله شو، ګورو چې د اوســـنۍ نوې تکنالوژۍ پر اســاس کېدلی شي په دقـیق ډول جنایي عـدالت تامین او هېڅوک هم بې موجبه متضرر نه شي.

(ډي این اې) چې بشـري ټولنې ته د شـــــلمې پېړۍ سـوغات دی پر اســـــاس یې کولــای شو هغه مجهولې او لاینحــله قضیې حل کړو چې تر نوولســمې پېړۍ یې د حــل تصور هــم نه کېده.

زموږ هېواد چې کلـونه جګړو ځپلی او د جرایمو ګراف هم په کې په کافي انـدازه لوړ دی، دا حالت ددې شــونتیا رامنځته کوي تر څو ددغه جرایمو اصــلي مرتکـــــبین

روښــانه او مجازات شــي، چې ددې چارې لپاره د (ډي این اې) معاینات نن ســبا له مهمو اړتیاوو څخه دی، خو متاسفانه چې زموږ هېـواد نه یوازې ددغه معایناتو وسایل نه لري، بلکې په دې برخه کې د مسلکې کسانو د نه شتون ستونزه هم پر ځای پاتې ده د موضـوع اهمیت ته په کتو ما هم غوره وګڼله چې د (ډي این اې) رول په جنایي تحقیقاتو او هویت په تثبیت کې) تر عنوان لاندې معلومات راټول او په اړه یې څېړنه وکړم.

**هدف:**

د دې مقـالې د لیکلو اســـاســـي هـدف داده ترڅو د هویـت پـه تثبیـت کې د نوې ټکنـالوژۍ ونـډه و څېړل شـــي ترڅو واقعي مجرمین په ګوته او عدالت په دقیق ډول تطبیق کړای شي.

**مبرمیت:**

داچې د نوې ټکنـالوژۍ پر اســـاس د هویـت تثبیـت اســـانیږي، اصـــلي مجرمین مشـخصـیږي چې پر اساس یې جنایي عدالت ټینګښت مومويږ نو د داسې موضوع څېړل په خپله د دې څېړنې اهمیت په ګوته کوي.

**میتود:**

پـه دې څېړنه کې د څېړنې له تحلیلي او توصـــیفي میتود څخه ګټه پورته شـــوې او هڅه شوې چې په څېړنه کې د تحقیق ټول اصول رعایت کړی شي.

**د هویت په تثبیت کې د نوې تکنالوژۍ (ډي این اې) د ونډې څېړنه**

(ډي این اې) چې بشري ټولنې ته د شـلمې پیړۍ سوغات دی پر اسـاس یې کولـی شو هغه مجهولې او لاینحـــله قضیې حل کړو چې تر نوولســـمې پیړۍ یې د حـــل تصور هـم نه کېده.

زموږ هېواد چې کلـونه جګړو ځپلی او د جرایمو ګراف هم په کې په کافي انـدازه لوړ دی، دا حـالـت ددې شـــونتیـا رامنځتـه کوي تر څو ددغه جرایمو اصـــلي مرتکبین روښــانه او مجازات شــي، چې ددې چارې لپاره د (ډي این اې) معاینات نن ســبا له مهمو اړتیاوو څخه دي دا چې ددې مهمو او حیاتي ســاختمانونو حقوقي ارزښــت څه

دی، د هویـت په تثبیت کې څه رول لري، نمونې یې له کومو ځایو واخلو په څه ډول یې وساتو وروستي ټکي دا او دې ته ورته ډېرې نورې پوښتنې ځوابوي.

د (ډي این اې) نمونې

د انسان د بدن هغه شیان چې د (ډي این اې) نمونې ترې اخیستل کېږي.




١. Blood(وینه)
٢. Saliva( لیاړې )
٣. Perspiration(تنفس اخیستل)
٤. Hair(ویښتان)
٥. Teeth(غاښونه)
٦. Mucus(مخاط)
٧. Fingernails(د ګوتو نوکان)
٨. Semen (سیمین)



(١-٢) او (٢-٢) انځورونه  د ډي این اې نمونې

**هغه محیطي شیان چې کولای شو د (ډي این اې) نمونې ترې واخلو:**



- سګرټ
- جامې
- ټاپه شوي اجسام
- ځانګړې نښې
- اسلحه
- د څښاک الې
- انساني حجرې



(۳-۲) انځور له محیطي شیانو د(ډي این اې) نمونې

د ډي این اي نمونې په لاندې طریقو څېړل کېږي

١. RFLP (Restriction Fragment LengthPolymorphs): په دې حالت کې په (ډي این اې) بېلابېل انزایمونه اچول کېږي چې ورسره (ډي این اې) ټوټې ټوټې کېږي چې دغه ټوټې په ټولو انســانـانو کې لـه یو بلـه متفـاوتې دي، داطریقه مشکله، غیر اقتصادي او زمانګیره ده.

٢. STR ـ ( Short Tandnim Repeat ):ډېره په زړه پورې آسانه او ارزانه لاره ده، چې د تفکیک اعلی قدرت لري.

٣. VNTR (Variable Nambr of Tandom Repeat):هغه وخت ترې استفاده کېږي چې د نمونې حجم کم وي د (STR) په نسبت ارزانه هم ده.( ٢:٣٠)

د نمونې اخستلو پر مهال لاندې ټکې باید په پام کې ونیول شي:

- د ستکشې استعمال کړئ.
- د نمونې اخیستلو په ځای له ټوخې او پرنجې کولو ډډه وکړئ.
- نمونې د لمر په مستقیمه رڼا کې مه ساتئ.
- د نمونو د زېرمه کولو لپاره پلاستیکي کڅوړه مه استعمالوئ.
- نمونې باید په کوټه کې وساتل شي.



(٤-٢) انځور د (ډي این ای) د نمونو راټولول

**د نمونو اخیستلو په وړاندې ستونزې**

۱ـــ دشخص نه رضایت: سره له دې چې د(ډي این اې) معاینات د شخص اړوند لازم معلومات وړاندې کوي، خو دا چاره هغه وخت ټکنی کیږي، چې شخص راضي نه وي، ځکه په دې حالت کې بیا هم د نمونې اخیستل د هغه نړیوال اصل تر پښو لاندې کول دي چې د انسان جسم له تعرض څخه خوندي دی. دا په دې معنی ده چې که شخص ونه غواړي کولی شي د عدلي معایناتو څخه ډډه وکړي، خو د فرانسې د مارس د اتلسم قانون ۵۶-۷۶ مادې بیا حکم کوي، چې هر کله چې کوم شخص د حقایقو د لاسته راوړولو په موخه د بیولوژیکي معایناتو څخه ډډه وکړي، نو یو کال حبس او( ۱۵۰۰۰ ) یورو نقدي جریمه به ورکوي داحالت یوازې د متهم په برخه کې د تائید وړ دي.

د اروپایي اتحادیې د بشر حقوقو دیوان په ۱۹۹۶ کال انګلستان ته امر وکړ چې باید د معایناتو د اجرا په وخت د متهم د ډډې کولو حق تایید کړي.

۲ـ د جینیتکي ارشیف نه شتون: کله د یو هېواد د ټولو وګړو جینیتکي معلومات ثبت نه وي، کله چې نمونه واخیستل شي او اصلي مرتکب ورک وي نو دا حالت هم ستونزې راولاړولی شي.

د امریکا دفاع وزارت (پنټاګون) هم دخپلو ټولوسرتېرو د (ډي این اې) نمونې په ارشیف کې ثبت کړي نورو فدرال ایالتونو ته یې ددې چارې د ترسره کولو امر کړی خو هغوی تر اوسه هم په دې اړه اقدام نه دی کړی ( ۲:۴۵).

**د هویت د تثبیت تعریف:** هویت د هغه صفاتو او مشخصاتو له ټولګي څخه عبارت دی چې یو انسان له بل هغه او یو جنس له بل جنس څخه جدا کولی شي (۸: ۶۰).

**هغه مدارک او شواهد چې د هویت تثبیت ترې کیږي**

۱- خوله : خوله د انسان د انساجو څخه افرازیږي، چې ډېرو حجرو په درلودو سره د جامو، پطلون، لنګی، او دستمال، جرابو، دستکشو لاندې جذبیږي چې د یادو خولو نه د (ډي این اې) په استخراج سره د شخص هویت پیدا کیږي.

۲ – د خولې لاړې (افرازت): مجرم په جرمي صـــحنـه کې د رواني تاثیر لاندې راځي د مجرم ( شونډې، خوله او ژبه وچېږي چې په دې حال کې مجرمین د خپلې خولې د لاړو په وســیله خپله خوله او علق لوندوي او د خولې لاړې تو کوي، په یادو لاړو کې ډېر غني اثار موجود وي، چې د جرم په صحنه کې له مجرمینو نه پاتې کېږي، چې جنايي پولیس د جرمي صـحنې د بررســی په وخت کې یاد لعاب پیدا کوي او د ډي این اې د معایناتو لپاره یې لابراتور ته انتقالوي، ترڅو د یادو لعابو نه د مجرم هویت پیدا کړي.

۳ – د پوزې افرازات: کلـه کله مجرم د رواني ویرې لاندې واقع کېږي چې په دې ســره د مجرم د پوزې نـه یو اندازه مواد افرازېږي، چې د مجرم په دې عمل ســره د مجرم د پوزې (ګرنګ) افرازېږي، چې یاده مایع په جرمي صـحنه کې پاتې کېږي او کله چې جنايي پولیس جرمي صحنه بررسي کوي، یاده (مایع) پیـدا کوي او پـه ډېر احتیـاط یې لابراتور تـه انتقـالوي. له نوموړې مایع نه د (ډي این اې) د معایناتو په وسیله د شخص هویت پېژندل کېږي.

۴ - ادرار (تشــې بولې): کله کله د جرم په صـــحنه کې مجرم د رواني او ذهني فشـار لاندې راځي، چې د جسـمي او ذهني فشـار د لیرې کولو لپاره تشــې بولې کوي چې بولې په جرمي صحنې کې پاتې کېږي او د جنايي پولیسو په واســطه د یادو بولو نه د مجرم هویت پېژندلو کې کار اخیســـتل کېږي(۷ : ۸۹).

۵ - ســقط جنین: هغه ښـځې چې مېړه ونه لري او یا هم کونډې وي، که د نورو خلکو ســره نـامشـــروع اړیکې ولري او د یـادې رابطې پـه نتیجـه کې بارداره کېږي، چې د یاد عمل د پټولو لپاره په یو غیر مشروع او غیرقانوني عمل لاس پورې کوي، چې د ســقط جنین په نامه یادېږي، د ســقط جنین په وخت کې خون ریزي رامنځتـه کېږي چې پـه محل کې یاده وینه پاتې کېږي او د (ډي این اې) د معایناتو په اساس کولای شو، چې د شخص هویت معلوم کړو.

٦ – د خولې لګولو په اساس: هغه اشخاص چې د (سادیسم) ناروغي لري، ډېرې اوقات د جنســي تېرې په وخت کې د قتل مرتکب ګرځي او مجرم د جنســي عمل د ترسره کولو په وخت کې په مفعول باندې غاښ لګوي، چې کولای شو

د هغې ځـای نـه چې فـاعـل د مفعول پـه وجود غـاښ لګولی وي، د فاعل د خولې داســې مواد لاس ته راوړو چې د فاعل د (ډي این اې) په کشــف کې موږ سـره مرسـته وکړي، او همدرانګه کله چې مفعول د فاعل د جنســي تېري لاندې واقع کېږي نو هغه د ځان نه د دفاع لپاره کوښــښ کوي او په همدې توګه د ځان خلاصــولو لپاره په فاعل خوله لګوي، چې ددې مفعول د خولې ځینې مواد د فاعل په وجود کې پاتې کېږي، کولای شـو د مفعول د خولې د پاتې شوو لاړو نه د( ډي این اې) د معایناتو په وسیله د مجرم هویت وپېژنو(۹: ۲۱۳).

۷- د نوکانو خراشــیده ګي: ډېر داســې موارد شــته چې جنایتکاران پر شــخص باندې په غیر ناریه وسـلو؛ لکه چاقو، خنجر او کارد باندې حمله کوي، چې د تجاوز لاندې شـخص د خپل ژوند د ژغورلو لپاره په خالي لاسـونو سره لاس په کـار کېږي چې پـه یاد وخت ډېر قوي او غني حجرات د قاتل د بدن څخه د مقتول د لاسـونو د نوکانو لاندې پاتې کېږي، خو هر کله چې لایقه او مسلکي جنایي پولیس د جرمي صـحنې نه لیدنه کوي نو د مقتول د لاســونو نوکان ګوري او په ډېرې هوښـیارۍ سره باید د مقتول د لاسونو نوکان په ناخون‌ګیر سـره پاک شـي او د (ډي این اې) د معایناتو لپاره لابراتور ته ولېږدول شـي او (ډي این اې) د معایناتو نه وروسته د شخص هویت پېژندل کېږي.

۸ - په لوښي کې د اوبو څښلو له مخې: کله ــ کله مجرمین د خپلې تندې د رفع کولو او د خپل رواني حالت د ښـه والي لپاره خصوصاً هر کله چې کوم کور یا احاطې ته د اخل شـي نو د اوبو پیدا کولو په هڅه کې وي چې یو د مایعاتو د څښـــلو په ظرفونو؛ لکه پیاله، ګیلاس، جک، جام، چاینک، لوټه او شــیردان سـره اوبه څښـي او وروسـته د اوبو د څښـلو نه یاد لوښـي په خپل ځاي ږدي. لایقه جنایي پولیس هر کله چې جرمي صـحنې ته داخلېږي؛ نو هغه لوښــي چې په هغې کې اوبه څښل شوې وي هغه پیدا کوي او د ځان سره یې اخلي څکـه پـه یـادو لوښـــو (ظرفونو) کې د مجرم د خولې غني او قوي اثـار پاتې کېږي او په لابراتور کې د (ډي این اې) د معایناتو پر مهال د شخص د هویت په تثبیت کې مرسته کوي.

۹ - د سګریټ پاتې شووني: مجرم ددې لپاره چې د جرم په صحنه کې د روحي او رواني فشـار نه ځان خلاص کړي؛ سـګریټ یو د بل پسـې بلوي چې د سګریټو په پاتې شووني پورې ډېر قوي او غني آثار د حجراتو شتون لري.

چې د (ډي این اې) له معایناتو وروسته د مجرم هویت ترې پېژندلی شو، د سګریټو له پاتې شونو په لاندې حالتو کې استفاده کولای شو.

الف : په سـګریټ کې د خولې د لاړو پاتې کېدل: د سـګریټ په خوله کې نیول او د هغې کش کول په زور سره ددې سـبب کېږي ترڅو د سګریټ کشوونکي د خولې د لاړې د سـګریټ په پاتې برخه پاتې کېږي، چې د سـګریټ یاده برخه لابراتور ته انتقالېږي او (ډي این اې) د سـګریټ له فلتر نه اخیسـتل کېږي او د مجرم هویت په کامله توګه په لاس راځي.

(ب) : د سګریټ پر پاتې شوني د ګوتو اثر: سګریټ څکوونکي په خپلو ګوتو کې نیسـي او د سـګریټ څکوونکي د خولې د لعابو په واسـطه سـګریټ لمدېږي او رطوبت پیدا کوي یاد رطوبت د سـګریټ څکوونکي د ګوتو سـره ټکر کوي او د ګوتو اثار يې د سـګریټ پر فلتر پاتې کېږي چې د یاد سـګریټ له مخې هم موږ کولای شـو پـه لابراتور کې د مجرم د ګوتو اثـار پیـدا او د مجرم هویـت ترې تشخیص کړو.

(ج ): د سـګریـټ له فلټر نه د وینې ګروپ پیدا کول: د سـګریټ څکوونکي د خولې (۷۰ فیصـده) لاړې یا لعاب د سـګریټ د فلتر پورې پاتې کېږي چې له یادو افرازاتو نه کولای شـو د شـخص د وینې ګروپ معلوم کړو، د وینې د ګروپ معلومول د نورو قرینو ترڅنګ یوه قرینه ده(۱۰: ۱٦٥ ).

(د): د سـګریټ پر فلټر باندې د لبشـرین رنګ : که چېرې د سـګریټ پر فلتر باندې د لبسـرین رنګ وي، نو پوهېږو چې سـګریټ کومې مېرمنې څکولی دی او کولای شـو چې د سـګریټ له فلتر نه د (ډي این اې) د معایناتو په وسـیله د مجرم هویت تشخیص کړو.

۱۰ - د هویـت تشـخیص د مني له مخې: په جنســي تېریو کې زیاتره د مني داغونه د مجني علیه په البسـه، بسـتره او یا هم په محل د واقعې کې باقي

پـاتې کېږي او همـدارنګـه داســې ټوټې چې پر هغې باندې د منيو افرازات لیـدل کېږي او یـا هم پاک شــوي وي په جرمي صــحنه کې په نظر راځي، جنايي پوليس په ډېر دقت سره دغه داغونه چې وچ شوي وي او د لړ فشار په اسـاس له منځه ځي په ماورای بنفش نور سـره چې د مني داغونه د هغې په واســطه پيدا کېدلی شــي تثبيت کوي او په تخنيکي شــکل يې لابراتور ته انتقالوي چې د هغه نه د (ډي اين اې) د معايناتو په وســيله د مجرم هويت پېژندل کېږي.

نوټ: د مني او وينې داغونه بايد په صــفر درجه د حرارت کې راټول شــي، او يا هم وچ شــي او بيا لابراتور ته انتقال شــي ترڅو مکروبونه د (ډي اين اې) هغه لطيف او نرم جوړښت ته صدمه ونه رسوي.

١١ - په ټوليز ډول جنسي تېري کوونکو مجرمينو د هويت پېژندل: په ډېر تاسف سره به ووايم، چې ډېر ځلې يوه ډله مجرمين پر يوه ښځه باندې جنسي تېری کوي، که چېرې مجني عليه ژوندی وي؛ نو په دې صـورت قضـيه اسـانه ده او مجني عليه کولای شـي چې عاملين په ګوته کړي، اما په دې ډول قضيو کې زيـاتره عـاملين ددې پـه خـاطر ترڅو خپـل جرم پټ کړي؛ نو مجني عليه په قتل رســوي. ولې په دواړو صــورتونو کې مړی عدلي طب ته د معايناتو لپاره لېږل کېږي او د اســپرماتوزوئيد معاينات ترسـره کېږي، چې نږدې ميليونونه واحده د تيري کوونکو د تيري لاندې راغلې ښـځې په تناسـلي اله کې پاتې وي. د (ډي اين اې) په دقيق معايناتو سره د هر شخص (ډي اين اې) له نورو جدا کېږي او ټول تېري کوونکو اشخاصو هويت په ګوته کېږي. دا امکان هم شــته که چېرې مجني عليه مړی دفن شــوی وي او يا هم ډېر کلونه پرې تېر شـوي وي، قبر يې لوځېږي او کولای شـو، چې دا سپرمازوئيد په تفکيک سره د متجاوزينو د (ډي اين اې) نه د هغوی هويت تشخيص کړو.

١٢ - د ويښــته له تاره د شخص هويت معلومول: په جنايي قضاياوو کې کله چې مجني عليـه يـا هغـه ځوک چې د تېرې لانـدې واقع کېږي، د خپـل ځـان د ژغورلو لپاره د تيري کوونکي شخص سره په جګړه اخته کېږي او هغه د سر او ږيرې ځخه نيســي نو ډېر ځلې د تيري کوونکي شــخص د ســر او يا ږيرې

ویښتان د مقتول یا تیري لاندې شخص لاسونو ته ورځي او یا په جرمي صحنه کې پاتې کېږي ترڅنګ یې په جنسي تیریو کې د متجاوزو نرانو د تناسلي الې ویښتان د ښځې په تناسلي اله کې پاتې کېږي. چې د یادو ویښتانو له مخې کولای شو یوه اندازه سلول (حجرې) پیدا کړو او ددې نه د (ډي این اې) معاینات ترسره او له مخې د متجاوزو اشخاصو هویت معلوم کړو( ۳: ۱۵۳).

**د اشخاصو د هویت څخه د نورو اشخاصو د هویت پیداکول**

په دې کې به موږ پر هغه مواردو بحث وکړو چې د اشخاصو د ډي این اې نه د نورو اشخاصو د ډي این اې تثبیت کړو او د هغوی هویت ترې پیدا کړو.

**۱- د اولاد له (ډي این اې) نه د پلار هویت پېژندل:** ډېر ځلې یو سړی پېټ واده کوي او په نتیجه کې اولاد دنیا ته راځي چې د اولاد مصارفو ته ضرورت لري نو هغه شخص چې په پټه یې واده کړی نه غواړي د ماشوم مصرف ورکړي؛ نو له پلارولۍ انکار کوي، ددې ترڅنګ په غربي نړۍ او خصوصاً په امریکا متحده ایالاتو کې کله چې نجونې امیندوارې شي بیا ددې لپاره پر یو دولتمند شخص باندې په محکمه کې تور پورې کوي چې د ماشوم پلار یې دی او د محکمې پر وړاندې د مصارفو غوښتنه کوي، چې ددې ادعا د ثبوت لپاره محکمه د (ډي این اې) د معایناتو حکم کوي او (ډي این اې) معایناتو په نتیجه کې ددې خبرې معلومات لاسته راځي چې آیا ریښتیا هم یاد شخص ددې ماشوم پلار دی او که څنګه؟ او د یادو معایناتو په واسطه په ډاګه کېږي چې آیا شخص د ماشوم د مصارف په ورکړه مجبور دی او که نه؟

**۲ – د بدل شوي ماشوم د هویت پېژندل د (ډي این اې) له مخې:** په شرقي هېوادونو کې چې کورنۍ د نرینه اولاد درلودل ښه ګڼي نو دې ته زړه نه ښه کوي چې ښځه یې ښځینه اولاد دنیا ته راوړي. په ډېره خواشینۍ چې په افغانستان کې نه یوازې یاد عرف حاکم دی او خلک نه غواړي چې ښځینه اولاد ولري بلکې مور هم مجازات کوي چې ښه بېلګه په (۱۳۹۰ ) هـ ش کې په کندز ولایت کې د څو نجونو په قتل رسول وو، متاسفانه اوس هم دا بد

کولتور حـاکم دی او ددې ترځنګ د لور نوم هم اخیره، بس بي بي، بســه، خاتمه او داســې نور ږدي. نو ددې لپاره چې پورته اشــخاص دغه حالت نه غواړي؛ نو په روغتون کې د روغتون پرسونل ته د رشوت په ورکولو سره د خپل ښـځینه ماشـوم بدلول غواړي د بل چا له نرینه ماشـوم سـره او دا چاره امکان هم لري ځکـه پـه دې وخـت کې مینـدې پـه بې هوشــۍ کې قرار لري او همدرانګه د ماشــوم رنګ، قواره او نور ګوري ددې ترڅنګ کله چې ماشــوم د مور په ګېډه کې وي نو والدین يې ټســټ کوي او معلومات ترلاســه کوي چې نر دی که ښځه کله چې خلاف واقع شي په دې وخت کې د ماشوم والدین د روغتون پر مســؤلینو باندې ادعا کوي. په دې وخت د (ډي این اې) معایناتو په وسیله دې معضلې ته د پای ټکی ږدي.

۳ - **د هغه ماشومانو د والدینو پیدا کول چې خبرې نه شي کولی:** هغه ماشومان چې خبرې نه شـي کولی او په دې قادر نه وي چې د خپلو والدینو پته وښيي ددې ډول ماشــومانو د پتې پیدا کولو یوازینۍ لاره د (ډي این اې) معاینات دي.

۴ - **د ورکو شویو پوځیانو د هویت پیدا کول د (ډي این اې) د معایناتو له مخې:** د امریکا په متحده ایالاتو کې ددې لپاره چې په جګړه کې پوځیان د ورکېدو وروســته بیا پیدا کول اســانه وي، د یاد هېواد دفاع وزارت ( پنټاګون) د ټولو عســکرو لپاره ( ژنیتکي کود یا نمبر) ورکړ او په کمپیوټر کې ثبت کړ، ترڅو د مړو د پیدا کولو په وخت ورسـره مرسـته وکړي او د هر عسـکر هویت وپېژندل شي، ولې که چېرې د عسکرو د جسدونو پېژندنه ونه‌شي، بیا د (ډي این اې) د معایناتو او د ژینتکي کود نه په اسانۍ سره پیدا کېدلی شي.

۵ - **د مړي د وارث له خوا د نسب ادعا د میراث د لاسته راوړلو لپاره:** هغه ښځې چې خاوند ونه لري کله چې ماشــوم دنیا ته راوړي په دې وخت کې د خپل ماشـوم نسب یو داسې چاته چې مړ شوی وي منصوبوي، ترڅو وکولای شي د مړي د مـال او مالکیت څخه برخمن شــي، دغه ډول قضــایا په امریکا کې ډېرې واقع کېږي او هغه د میراث او د مړي په مال کې د برخې لاســته راوړلو لپاره محاکمو ته ځي او په پورته ډول ادعا وړاندې کوي.

محکمه ددې لپاره چې ياده موضوع حل کړي، د نسب د ثبوت لپاره د (ډي اين اې) د معايناتو امر کوي، چې ياده ادعا په دوه ډوله پيښېږي.

**(الف ) د متوفي نـه اصـــلي اولادونـه پاتې وي:** که چېرې له يو شـــخص نه څو اولادونه پاتې او د شـخص له مرگ نه وروسـته بل ماشـوم پيدا شي، د نسب د اثبات لپاره د نوي زېږيدلي ماشوم (ډي اين اې) د شخص د پخواني ماشومانو د (ډي اين اې) سـره مقايسه کوي، که چېرې د نوي ماشوم چې د بلې مور نه زېږيدلی دی مطابقت ولري، محکمه ماشـــوم ته د متوفي په مال کې ميراث ورکوي.

**(ب) که چېرې د متوفي (مړشـوي شـخص) اصـلي ماشـومان پاتې نه وي:** که چېرې د متوفي مـاشـــومـان يعنې اولادونـه وجود ونه لري. په دې وخت کې محکمه د شخص د قبر په لوڅولو حکم کوي او د متوفي (ډي اين اې) اخلي او د هغه (ډي اين اې) د نوي زېږيدلي ماشـوم سره مقايسه کوي.که چېرې د نوي زېږيدلي ماشـوم (ډي اين اې) د متوفي له (ډي اين اې) سـره مطابقت ولري، محکمه د ميراث حق ورکوي او که چېرې (ډي اين اې) سـره مطابقت ونه لري، په دې وخت کې د نوي ماشوم د مور دا ادعا ردوي. د مثال په توگه: د ۱۹۷۸ نـه تر ۱۹۸۳ کلونو کې پـه ارجنټاين کې نظامي حکومت اقتدار ته ورسـېد، د پورته ذکر شـويو کلونو په جريان کې نږدې (۱۵۰۰ ) پورې نرينه او ښـځينه په محبس کې له منځه ولاړل، د يادو خلکو له جملې نه يوه ښـځه د (مونيکا) په نوم د خپل خاوند سـره وه. د ياد محبس د معلوماتو په اســاس (مونيکا) د اولاد د زېږيدو پورې ژوندۍ وه او د هغې وروسـته ورکه شـوه، د يو پوليس ښځه چې ماشـوم يې نه درلود د (مونيکا) د ماشـوم سـرپرستي يې په غاړه واخيسته.

کلـه چې د (مونيکا) مور د خپل لمســـي د زېږېدو نه خبر لاســـته راوړ نو ټول روغتونونه يې ولټول ترڅو خپل لمســـی پيدا کړي او ياد لټون لس کاله دوام وکړ، په وروســـتيو کې د مونيکا مور (هيدي) خبر لاســـته راوړ چې په محبس کې موظفو پوليســـو د محبوســـينو د وژلو وروســـته د هغوی د ماشـــومانو ســـرپرســـتي پـه غـاړه اخلي، دا هغـه وخـت وه چې په ارجنټاين کې نظامي

حکومت له منځه تللی دی. په پای کې (هيدي) معلومات لاســته راوړل چې لمســی يې د يوه نظامي افسر ښځې په سرپرستۍ اخيستی دی، د (مونيکا ) مور (هيدي) په محکمه کې عارضــه شــوه. محکمې موضـوع ته د رسـيده ګۍ لپاره حکم وکړ، ترڅو د نظامي افسـر د ښـځې، د نظامي افسـر د ماشـوم او د (هيدي) د (ډي اين اې) معاينات ترسره شي، چې د (ډي اين اې) له معايناتو وروسـته نتيجه داسـې راغله چې د ماشـوم او د نيا يې (هيدي) (ډي اين اې) معاينات ســره يو شـــان وو او د پوليس د ښــځې او د هغې د (ډي اين اې) معاينات سره يو شان نه وو او په پای کې هيدي خپل لمسی لاسته راوړ.

٦ – د مړو پېژندل د ډي اين اې د معايناتو په اســاس: هغه مړي چې کلونه پرې تېر شــوي وي کولی شــو د هغوی د قبر د لوښولو وروســته يې د بدن د اجزاوو نه د (ډي اين اې) معاينات ترســره کړو او له مخې يې د مړو پېژندګلوي وکړو ددې ترڅنګ دا هم شـــونې ده، هغه مړي چې ډېر کلونه پخوا په مصـــر کې موميـايي شـــوي دي د (ډي اين اې) د معـاينـاتو په اســـاس د هغو نژادونه تشـخيص کړو چې ايا دا د مصـر ځايي (بومي) اوسـېدونکي وو او که د بل افريقايي هېواد نه يې مصر ته مهاجرت کړی دی.

٧ – د کورنۍ د قرابت پېژندل د (ډي اين اې) د معايناتو پر اســاس: د (ډي اين اې) د معايناتو له مخې موږ کولای شــو د کورني قرابت لاندې برخې معلومې کړو.

(الف): د مور او پلار قرابت د هغې اولادونو سره.

(ب): د سکه او ناسکه ورونو او خويندو تر منځ د نسب اړيکه.

(ج): د کاکا، ماما، عمه، خاله د قرابت رابطې تعينول د هغه چاســره چې ددې اړيکې ادعا کوي.

(د): وريرونو، خورينو او خورزو او ورېرو رابطه د کاکا او ماما سره.

٨ – د نژادونو تشـخيص د (ډي اين اې) د معايناتو په اسـاس: د (ډي اين اې) د معايناتو په اســـاس کولای شـــو، چې د نړۍ نژادونه يو له بله توپير کړو؛ لکه تور، سپين، ګندمي او نور ...

۹ - د غاښـونو برس په واسطه د هويت تثبيت: هغه څوک چې د غاښونو د پاکولو لپاره د برس او يا هم د مسـواک نه اسـتفاده کوي، کولای شـو چې د مسواک او يا هم د غاښـونو د برس نه (ډي اين اې) معاينات ترسـره شـي ا و د شخص هويت وپېژندل شي.

۱۰- د (ډي اين اې) په واسطه په ټوليزو قبرونو کې د مړو پېژندل: په جګړه ځپلو او نورو هغو هېوادونو کې چې په زور او ظلم پکې خلک واک ته رســېږي ډېر داســې واقعـات کېږي، چې لومړی د نظـام مخـالفين پـه محبس کې اچول کېږي او وروسـته په دسـته جمعی شـکل وژل کېږي او بيا په دسـته جمعی قبرونو کې ښخېږي، چې ډېر وخت د يادو قبرونو د پيدا کولو وروسته يوازې د (ډي اين اې) د معايناتو په اســاس کولای شــو چې د يادو مړو هويت معلوم کړو چې د (ډي اين اې) دا معاينات هم په دوه ډوله سرته رسېږي(۹:۱۳۳).

( الف ): په هغه صــورت کې چې يو هېواد ژينتيکي کود (نمبر) ولري او په ملي آرشيف کې ثبت کړی وي؛ لکه امريکايانو په دې صورت کې د ملي آرشيف نه د ژينتيکي کود په اساس د مړو جسدونه تشخيصولی شو.

(ب ): په هغه صـورت کې چې د يو هېواد د (ډي اين اې) ملي آرشـيف وجود ونه لري د مړو شويو کسانو د هويت د معلومو لپاره د هغو خپلوانو د (ډي اين اې) سره مقايسه کوي او بيا ترې د يادو شويو مړو جسدونه معلوموي.

۱۱ - د شــيدو له مخې د مور پېژندل: هغه ميندې چې شــيدې ورکوي، په هغه صـورت کې چې د هغوی البســه د شـيدو په څاڅکو باندې لمده شـوي وي، کولای شـو چې د يادې بسـترې نه چې د ماشـوم د مور په شـيدو لمده شوې وي د (ډي اين اې) معاينات ترسره کړو او د ماشوم مور وپېژنو.

۱۲ - د هويت تثبيت د سـينې د افرازاتو (بلغم) نه: ډېر ځلې داسـې کېږي، چې په جرمي صـحنه کې مجرمين د خپل رواني او تنفســي حالت د خرابوالي له املـه بلغم افرازوي او پـه جرمي صـــحنه کې اچوي، لايقه جنايي پوليس يادو افرازاتو نه (ډي اين اې) معاينات ترسـره کوي او په کامل ډول د مجرم هويت تشخصيول.

۱۳ – د شخص هویت تشخیصول د سترګو د اوښکو نه: هغه څوک چې سترګې په دستمال پاکوي، په دې وخت کې د شخص د سترګو غني حجرات په دستمال پاتې کېږي چې د (ډي این اې) د معایناتو په اساس د شخص هویت پېژندل کېږي.

۱۴ – د زاني ښځې او زنا کار سړي د هویت تثبیت د (ډي این اې) له مخې: په جنسي تېریو او همدارنګه د زنا په قضایاوو کې هغه څوک چې د خپل عمل نه منکر وي، په دې وخت کې د عدلي طب مسوولین چې د نر په تناسلي او همدارنګه د ښځې په تناسلي آله کې آثار پاتې وي او د هغې نه د (ډي این اې) معاینات ترسره کېږي او د مجرم هویت تثبیتولی شو.

۱۵ - هغه مړي چې ډېر کلونه پرې تېر شوي وي: په هغه صورت کې د ژینیتکي کود (نمبر) د اشخاصو تعیین او په کمپیوټر کې ثبت شوي وي کولای شو د ( ډي این اې) معایناتو د شخص هویت وپېژنو(۳:۵۲۳)

**پایله**

ددې لیکنې څخه په ټوله کې داسې نتیجه ترلاسه کېږي، چې جرم هغه بده پدیده ده، چې پخوا هم موجود وه، او اوس هم واقع کېږي او په راتلونکي کې هم واقع کېدلی شي، ولې جرم ته رسیده ګي د هغه مهمو موضوعاتو د جملې څخه دي چې خپله په ټولنه کې جنایي عدالت (مجرم د مجازاتو نه نشي خلاصېدلی او هم بې ګناه شخص نه مجازات کېږي) تامین او له همدې لارې نه کولای شو چې اجتماعي او جنایي عدالت تامین کړو.

اسلامي شریعت د جرم د اثبات او جرم د رسیده ګۍ لپاره ځانګړي شرایط وضع کړي؛ لکه اقرار، شهادت او نور، خو په ځینو حالتو کې داسې هم واقع کېږي چې نه مجرم په خپل جرم اقرار کوي او نه هم شاهدان موجود وي، د قیافې او نورو عواملو روښانه کول ګران کار وي.

الله (ج) انسان ته لوړ مقام ورکړی او دی یې اشرف المخلوقات ګڼلی دی، د دغه مقام د ورکړې سره سم یې له انسان څخه تقاضا کړې ترڅو نیک اعمال اجرا او له بدو او غیر مشروع اعمالو څخه ځان وساتي او په دې اړه یې ورته وخت په وخت سماوي احکام هم رالیږلي دي. خو متاسفانه یو شمیر انسانان خپل مقام نه درک کوي او د خپل مقام سره مناسب اعمال نه ترسره کوي دوی هلې ځلې کوي ترڅو له هرې لارې ( قانوني یا غیر قانوني) څخه خپل نفساني خواهشات پوره کړي، د خپلو غوښتنو د پوره کولو لپاره د بل چا په حقوقو تیری کوي. اسلام مبارک دین او اوسنیو وختونو کې وضعي قوانینو دغه لار مسدود کړې دی ده ترڅو چې هر ظالم ونه شي کولای د مظلوم پر حق تیری وکړي بلکې مظلوم ته یې حق ورکړی ترڅو د ظالم پر وړاندې محاکمو ته راشي او د ظالم پرضد دعوی اقامه کړي ، همدارنګه ټولنې ته یې هم دا حق ورکړی ترڅو د هر ډول رزیلو اعمالو مخه ونیسي او نیکو اعمالو ته خلک را وبلي ترڅو عدالت تامین شي. د دعوی اقامه کول او د محاکمو له خوا ورته رسیده ګي کول د دې سبب ګرځي ترڅو پورتنی هدف ترلاسه شي. دغه څیړنه د دعوا د ډولونو تر عنوان لاندې ترسره شوې ده، چې د ترسره کولو وروسته به دغو پوښتنو ته جوابونه وموندل شي چې کوم ډول دعوا ته په محاکمو کې رسیده ګي کیږي او کومې دعواوې محاکم نه اوري او قابل د رسیده ګي نه دي؟ او په عمومي توګه دعواوې کوم ډولونه لري؟ داسې معلومیږي چې محاکمو ته هغه دعوی د قبول وړ ده چې د دعوی ټول شرایط په کې ځای پر ځای شوي وي. مختصر داچې دعوی د مختلفو وجوهاتو له حیثه بېلابېل ډولونه لري.

**د موضوع د اختیار کولو لاملونه:** د حق د لاسته راوړلو مشروع، قانوني او منطقي طریقه په محکمه کې د دعوی اقامه کول دي، نو لکه څرنګه چې دعواوې د بیلابیلو نقطو له نظره بیلابیل ډولونه لري او د افغانستان په ملي ژبو داسې یو اثر چې په هغه کې د دعواوو ډولونه په هر اړخیز ډول څیړل شوي وي شتون نه درلود نو ځکه مو دا موضوع و ټاکله ترڅو دا خلاوې تر یوه حده پورې د الله تعالی په مرسته ډکه شي.

**د موضوع اهمیت:** د دې علمي څېړنې اساسي اهمیت داده ترڅو په دې اړه د افغانستان په ملي ژبه ګرانو لوستونکو ته داسې یو اثر په لاس ورشي ترڅو په ګټه

اخیستنه یې په عمل کې له مشکلاتو او ستونزو څخه خلاص کړای شي. اوسمهال په محاکمو کې یوه لویه ستونزه همدا ده چې د مراجعینو لخوا په دعواوو کې د دعواوو اساسي شرایط نه مراعات کیږي چې په پایله کې یې دعواوې نه اوریدل کیږي، نو د دې اثر په لوستلو سره به نه تنها د دې مسلک لارویان بلکې عام وګړي هم وکولای شي چې په ګټه اخیستنې سره یې دعواوې یو له بله جلا کړي او په پایله کې یې په دې اړه ستونزې رفع شي.

**د لیکنې هدف:** د دې لیکنې څخه زما هدف دادی ترڅو د دعوی د ډولونو په اړه د خپل علمي توان مطابق تحقیق او څیړنه وکړم چې دعوا کوم ډولونه لري، کومه دعوی محاکمو ته قابل د قبول ده او کومه دعوی په محکمه کې نه اوریدل کیږي.

**د څیړنې مېتود:** د دې مقالې په لیکلو کې د څېړنې له تحلیلي میتود د څخه ګټه اخیستل شوې او هڅه شوې چې په څېړنه کې د څېړنې ټول اکاډمیک اصول رعایت شي.

په لیکنه کې د څېړنې مطالب په داسې توګه تنظیم شوي چې لومړی دعوی پیژندل شوې او له هغې وروسته یې ډولونه روښانه شوي دي.

**کلیدي اصطلاح ګانې:** دعوی، محکمه، مدعي، مدعی علیه او مدعی به.

**د دعوی تعریفونه:**

۱ ـ دعوی په لغت کې غوښتلو، د یوه شخص را غوښتلو، ادعا کولو، شخړې او داد خواهي ته ویل کیږي ( ۸: ص ۹۵۴ ) د دعوی د ګڼو لغوي معناګانو څخه دلته موخه غوښتل دي. او په اصطلاح کې د دې تعریف په اړه بېلابیل تعریفات شتون لري، چې مهم یې په لاندې ډول دي.

۲ ـ حنفي علما وایي (( قول مقبول عندالقاضي یقصد به طلب حق لنفسه قبل غیره او دفعه عن حق نفسه )) یعنې دعوی عبارت له هغې مقبولې وینا څخه ده چې د قاضي پر وړاندې وویل شي او مطلب یې ترې د خپل ځان لپاره د یو حق ثابت کړي او یا هغه دفع کړي. ( ۱۲ : ص ۷٦ )

په دې تعریف کې لاندې مفاهیم شامل دي.

قول : لیکلې خبرې او اشارات د دعوی له مفهوم څخه خارجیږي.

مقبول: د مقبول لفظ سره باطلې او فاسدې دعوى ترې وځي.
عندالقاضي :د قاضي پر وړاندې د لفظ په راتلو سره د دعوى ځای مشخص کیږي.
يقصد به طلب حق لنفسه: په دې سره مدعی مرادیږي او مدعی علیه ترې خارجیږي.
دفعه عن نفسه : د دې څخه مقصد هغه حق دی چې موجود نه وي.
طلب حق لنفسه : په دې سره وکیل او ولي ترې وځي.
او د حسبې په دعوى کې ترې اقرار وځي.
په دې تعريف باندې دا نیوکه کیدای شي چې لیکنه په کې نه ده شامله یعنې په لیکلې ډول دعوى نه صحیح کیږي او بل داچې وکیل او ولي نه شي کولای د بل چا په استازیتوب په محکمه کې دعوى اقامه کړي.
۳ ـ حنابله وو د دعوى لپاره داسې تعريف کړی دی (( اضافة الانسان لنفسه استحقاق شيء فی يد غيره او في ذمته)) کله چې انسان د یو شي استحقاق چې د بل چا په لاس یا ذمه کې وي ځانته منسوب کړی دعوى ورته ویل کیږي.( ۱۲ : ص ۷۷ )
په دې تعريف کې لاندې نقاط شامل دي.
اضافة : لکه چې ووايي دا زما ملکیت ده
الانسان: عاقل ، مجنون او نورو ته شامليږي.
لنفسه: په دې سره وکیل او ولي ترې خارجیږي.
يد غيره: مدعی علیه دی.
ذمة : له دې نه هدف قرض یا پور دی.
په دې تعريف باندې دا اعتراض واردیږي چې په دې تعريف کې د محکمې یا قاضي ذکر نه دی راغلی. همدارنگه انسان يې هم مشخص کړای نه دی چې دا به اهلیت لرونکی وي او که څنگه .
۴ ـ مالکي علماوو د دعوى لپاره دا ډول تعريف کړی دی (( طلب معين او ما في ذمة معين او ما يترتب عليه احدهما معتبرة شرعا لا تكذبها العادة)) یعنې مطالبه د معین شي او یا هغه شي چې په معینه ذمه باندې وي او یا د دوی دواړو نه وی، معتبره به وي او عرف به يې نه تکذیبوي. ( ۱۱ : ص ۴ )

په دې تعریف کې لاندې مفاهیم شامل دي.
الحق المعین : یعنې معلوم وی او په دې سره نا معلوم حقونه ترې خارجیږي.
ذمة : دې نه مراد قرض دی .
او ما یترتب علیه احدهما : په دې معنی چې ډیر داسې حقونه شته چې نه عیني وي او نه شخصي . لکه یوه ښځه له قاضي څخه غواړي ترڅو له میړه څخه یې جلا کړي.
په دې تعریف باندې دا نیوکه کیدای شي چې محکمې ته په کې اشاره نه شته ځای معلوم اومشخص شوی نه دی.
۵ ـ شوافع  د دعوی د تعریف په اړه وایي چې (( اخبار عن وجوب حق علی غیره عندالحاکم )) یعنې خبر ورکول د یو ثابت حق د حاکم پر وړاندې . ( ۱۱ : ص ۵ )
په دې تعریف باندې دا نیوکه کیدای شي چې دعوی خبر ورکول نه دي.
د دې ټولو تعریفاتو وروسته ویلای شو چې دعوی عبارت له هغې قبول کړای شوې وینا یا قایم المقام د وینا څخه ده چې د قاضي پر وړاندې وي او غرض یې د ځان لپاره د حق ثابتول او یا د خپل موکل لپاره او یا د هغه څخه حمایت کول وي.
دعوی بیلابیل ډولونه لري چې موږ کولای شو له څو وجهو څخه یې یو له بله سره جلا کړو؛ نو د دې لپاره چې په موضوع دقیق پوه شو په لاندې توګه یې تر څېړنې لاندې نیسو.

**لومړی مبحث: د صحیح والي او عدم صحیح والي له حیثه د دعوی ډولونه:**

له دې اړخه د دعوې د ډولونو په اړه علما دوه نظره لري یو نظر دادی چې له دې اړخه دعوی په دوه ډوله ده چې یوه ته صحیحه دعوی او بلې ته فاسده دعوی ویل کیږي او بل نظر په دې اړه دادی چې له دې نقطې نظره دعوی په درې ډوله ده، یوې ته صحیحه دعوی، بلې ته فاسده دعوی او دریېمې ته باطله دعوی وایي. اوس یې په لاندې ډول د جلا عنوانونو په ترڅ کې هریوه په بیلابیله توګه واضح کوو.( ۵ : ص ۸۹ )

**لومړی جز: صحیحه دعوی:** دا دعوی عبارت له هغې دعوی څخه دی چې د دعوی د صحت ټول شرایط په کې په لاندې توګه موجود وي.( ۱۲ : ص ۸۲ )

**۱ ـ مدعی بها باید معلومه وي:** دعوی باید د یو معلوم شي په اړه وي.( ۱۲ : ص ۸۳ )

که چیرې دعوی د عوی د مجهول شي په اړه وي؛نو مجهول شي په اړه قضاوت او حکم صادرول ممکنه نده ، د صحیحه دعوی مثال دادی چې یو څوک په چا دعوی وکړي چې زه په ده باندې یولک افغانۍ د هغې ځمکې چې ما پرې پلورلې لرم، دا دعوی صحیحه او پر ځای ده، ځکه چې د یو معلوم شي په اړه شوې ده. او که چیرې ووایي چې زه په فلاني شخص د پیسو دعوی لرم؛ نو دعوی یې صحیح نه ده ځکه چې د پیسو نوعیت او کمیت نه دی معلوم.

د یادونې وړ ده چې مدعی بها په اشاره، توصیف او تعریف سره معلومیږي ، که چیرې مدعی بها عین وي او یا منقول باید د قضا مجلس ته راوړل شي، په دې صورت کې مدعی بها ته اشاره کول کفایت کوي. که چیرې مدعی بها د قضا مجلس ته را نه وړل شي باید وصف، تعریف او قیمت یې بیان شي، او که چیرته مدعی به عقار وی حدود یې باید مشخص کړای شي، او یا که چیرې مدعی بها داسې عین وي چې جنس، نوع او وصف یې بیلابیل وي؛ نو په دې صورت کې مجموعي قیمت کفایت کوي او د هرې برخې د قیمت ذکر کولو ته یې اړتیا نه شته. ( ۱ :ص ۱۲۲)

کله چې د مدعي له خوا د مدعی به توصیف وشي؛ نو قاضي کولای شي چې مدعی علیه په الزامیت محکوم کړي ولې که چیرې د مدعی به نوعیت مشخص نه وي؛ نو داچې دعوی د الزام لپاره ده او د مجهول شي په اړه قاضي یو شخص نه شي ملزمولی نو ځکه یې دعوی نه اوریدل کیږي.

د مدني محاکماتو اصولو قانون د ۱۳ مادې ۳ فقره هم په دې اړه صراحت لري چې ، د منقول مدعی بها په صورت کې جنس ، نوع او قیمت او د غیر منقول مدعی بها په صورت کې د موقعیت ،نوعیت او مساحت ذکر کول په دعوی کې اړین شمیرل کیږي.( ۲: ۱۳ ماده)

د مدعی بها د تعین والي منطق په دې کې ده چې، دعوې د مقنع دلایلو په راوړلو سره په نهایت کې الزام منځته راوړي او په مجهول سره الزام تحقق نه مومي.

**۲ ـ دعوا باید محتمل الثبوت وي:** د دعوی د صحت د شرایطو څخه یو دا هم ده چې دعوی باید محتمل الثبوت وي.(۱۰ : ص ۹۰)

که چیرې مدعی د داسې یوه شي چې عقلاً او عادتاً یې ثابتول امکان ونه لري دعوی یې صحیح نه شمیرل کیږي. مثلاً یو شخص داسې ادعا وکړي په بل شخص باندې چې عمر یې ترې ډیر دی یا په نسب کې د پیژندل شوي نسب خاوند دی، د هغه زوی دی؛ نو ادعا یې صحیح نه شمیرل کیږي. یا داچې یو شخص چې ډیر زیات فقیر دی او خلک د هغه له غربت څخه خبر هم دي، په یوه شخص د ډیر زیات مال د پوروړ توب دعوی وکړي، نو دعوی یې نه اوریدل کیږي او قابل د سمعې نه ده، ځکه چې عادتي مستحیل ده.

په دې اړه د مجلة الاحکام په ۳۸ ماده کې راغلي دي (( الممتنع عادتا کالممتنع حقیقتا).( ۹: ۳۸ ماده) عین همدا حکم د مدني قانون په ۷۲۳ ماده کې هم راغلی دی، نوموړی ماده دا ډول صراحت لري(( کوم شی چې په عادت کې منع وي لکه چې په حقیقت کې منع وي)). ( ۳ : ۷۲۳ ماده)

**۳ ـ دعوی باید د قضا په مجلس کې وي:** هر کله چې دعوی اقامه کیږي باید د قضا په مجلس کې وي( ۴ : صص۵۴-۵۶).

د قضا له مجلس یا د محکمې له تعین شوي ځای پرته په بل ځای کې د دعوې اقامه کول صحیح نه شمیرل کیږي او په هغه دعوی د صحیحې دعوی اطلاق نه شي کیدای. د قضا په مجلس کې د دعوا اقامه کولو لپاره دوه قیدونه شتون لري چې یو د زمان قید ده او بل د مکان قید ده چې دواړه یې په لاندې مثالونو کې واضح کوو.

لومړی مثال: یو شخص په بل شخص ادعا کوي او خپله دعوی په داسې حال کې چې قاضي په خپل کور کې دی هلته اقامه کوي دا دعوی قابل د قبول نه دی ځکه چې د قضا د مکان نه په بل ځای کې اقامه شوې ده، دلته د دعوې د صحت شرط نه دی مراعت شوی.

دوهم مثال : یو شخص په داسې حال کې د قضا په مجلس کې خپله دعوی اقامه کړي چې د قاضي رسمې وخت پای ته رسیدلی او دولت چې کوم وخت رسماً د ټولو مامورینو لپاره ټاکلی دی ختم شوی دی، نو داچې قاضي هم د دولت مامور شمیرل کیږي نو په دې وخت کې د دې شخص دعوی نه اوریدل کیږي ځکه چې

د قضا د مجلس د شرط د زمان قید نه دی رعایت شوی. لکه په شپه کې یا سهار وختي د دعوی اقامه کوی چې رسمیات نه وي پیل شوي.

**۴ ـ مدعی علیه باید معلوم وي:** په دعوی کې شرط ده چې مدعی علیه به معلوم وي. ( ۱ : ص ۱۲۴ ) مثلاً که یو شخص دعوی وکړي چې زما د فلاني کلي په یو شخص باندې لس زره افغانۍ پور دی دا دعوی یې نه اوریدل کیږي ځکه چې شخص مشخص نه دی او په هغه کلي کې خو زیات اشخاص شتون لري. په دې اړه د شرح مجلة الاحکام ۱٦۱۷ ماده صراحت لري چې (( شرط دی چې مدعی علیه معلوم وي، که چیرې مدعی ووایي چې د یوه کلي په یو شخص یا څو اشخاصو دعوی لرم ، په داسې حال کې چې مدعی علیه معلوم نه کړي، په دې صورت کې دعوی یې صحیح نه دی او هغه د مدعی علیه په معین والي باندې ملزم گرځول کیږي)).( ۹ : ۱٦۱۷ ماده) همدارنگه دمدني محاکماتو اصولو قانون په ۱۳ماده لومړۍ فقره کې هم راغلي دي چې د مدعي علیه نوم باید ذکر شي. ( ۲ : ۱۳ ماده)

د مدعي علیه د تعین والي منطق په دې کې ده چې له مدعي علیه څخه حق غوښتل کیږي او له مجهول او نامعلوم شخص څخه د حق د غوښتلو ادعا نه شي کیدای.

**۵ ـ د دعوی طرفین ( مدعی او مدعی علیه) باید اهلیت ولري:** د قانون له احکامو سره سم د دعوی طرفین باید قانوني اهلیت ولري او د قانوني اهلیت د نقصان یا نه شتون په صورت کې، د ولایت وصایت او قیمومیت احکام د پلي کیدو وړ دي. په دې اړه د مجلة الاحکام ۱٦۱٦ ماده په دې ډول صراحت لري (( شرط ده چې مدعی او مدعی علیه عاقل وي، د مجنون او غیرممیز ماشوم دعوی نه صحیح کیږي، مگر دا صحیح ده چې د مجنون او غیر ممیز ماشوم پر ځای ولي یا وصي یې مدعي یا مدعی علیه واقع شي)). (۹ : ۱٦۱٦ ماده)

د مدني محاکماتو اصولو قانون ۷ ماده صراحت لري (( د قانوني اهلیت د نقصان یا نشتوالي او غیابت په صورت کې د ولایت وصایت او قیمومیت احکام د تطبیق وړ دي)). ( ۲ : ۷ ماده)

د مدني قانون د ۳۹ مادې مطابق د اهليت سن ۱۸ کلنې تعين شوی دی او رشيد شخص د عقل د صحت په صورت کې د معاملاتو د ترسره کولو په صورت کې کامل حقوقي اهليت لرونکی شميرل کيږي. د ياد قانون ۴۱ ماده بيا صراحت لری چې که يو شخص د رشد مرحلې ته رسيدلی وي يا نه وي رسيدلی سفيه يا غافل وي ناقص الاهليت شميرل کيږي. او ۴۲ ماده بيا زياتوي چې ناقص الاهليته شخص د وصايت ، ولايت او قيموميت احکامو تابع دی . ( ۳ : ۳۹، ۴۱ او ۴۲ مادې)

د مدنی قانون له دې موادو څخه داسې نتيجه ترلاسه کوو چې مميز صغير ناقص الاهليت دی او دعوی نه شي اقامه کولای .

٦ ـ **په دعوای کې بايد تناقض موجود نه وي:** د مدعی په دعوی کې بايد تناقض موجود نه وي، تناقض د مدعی له پخوانيو خبرو څخه عبارت ده چې له دعوی سره يې متناقضې وي يعنې پخوانۍ خبرې يې د دعوی د بطلان لامل شي ( ۹: ۱٦۱۵ ماده.

کله چې په دعوی کې تناقض رامنځته شي نو دا بيا د مدعی کذب افاده کوي او د صحت قابليت له لاسه ورکوي.لکه : يو شخص ادعا وکړي چې دغه مال (عين ) مې له فلاني څخه اخيستی دی او بيا ادعا وکړي چې دا مال راته په ميراث کې پاتې ده. نو داچې د مدعي خپلې خبرې سره په ټکر کې دي؛ نو ځکه يې دعوی نه اوريدل کيږي.

۸ ـ **دعوی به د داسې شي په اړه وي چې قيمت ولري**: کله چې يو شخص دعوی کوي نو مدعی به بايد قيمت ولري او بې ارزښته نه وي. (۱۲ : ص ۸۴ )

دعوی د يو بې ارزښته شي په اړه نه منل کيږي، لکه يو څوک د يوه دانه غنم دعوی وکړي. او له محکمې وغواړی چې پر احمد نومي شخص زما يو دانه غنم قرض دی او هغه يې راته نه سپاري. نو دا دعوی د کم ارزښته شي په اړه ده او محکمه پرې غور نه کوي.

**دويم جز: فاسده دعوی:** عبارت له هغه دعوی څخه دی، چې د دعوی د صحت شرايط په کې موجود نه وي. لکه د مدعی به مجهولتيا، ځکه چې مجهول د شاهد په شهادت په ثبوت نه رسيږي او هم شهودو ته د شهادت امکان نه برابريږي.( ۴ : ص ۴۳) فاسده دعوی په مجلة الاحکام کې داسې تعريف شوې (( عبارت له هغه دعوی څخه دی

چې اصلاً صحیحه ده، مگر د یو شمیر خارجي صفاتو په اساس غیر مشروع ده لکه د مدعی علیه نامعلومتیا، دا ډول دعواوې د صحیح کولو قابلیت لري)).( ٦ : ص ٧٧)

لیدل کیږي چې په دې قاعده کې فاسده دعوی ډیره ښه واضح شوې ده، ځکه چې یادونه شوې چې دعوی اصلاً صحیح ده مگر د خارجي صفاتو په اساس فاسده ده ، او د دعوی د اوصافو توجیه د دعوی شرایطو ته کیږي مثلاً د مدعلیه عدم مشخص والی، یا د مدعی بها نا معلومتیا. هرکله چې داسې یو مورد په دعوی کې شتون ولري فاسده شمیرل کیږي، مگر هرکله چې مدعی دغه نامعلومتیا له منځه یوړه یعنې مدعی علیه او مدعی بها یې مشخصه کړه دعوی صحیح شمیرل کیږي. د مثال په توگه یو شخص ادعا وکړي چې د فلاني کلي یو سړی زما څخه چې یو سل منه غنم مې پرې خرڅ کړی وه پینځه زره افغانۍ پوروړی ده او اوس یې نیټه پوره شوې او ماته یې بیرته نه راکوي، دلته گورو چې په هغه کلي کې یې شخص (مدعی علیه ) نه ده مشخص کړی نو په اصل کې دعوی صحیح ده ځکه چې د دین دعوی ده ، مگر داچې د یو شمیر صفات په کې شتون نه لري فاسده شمیرل کیږي. مگر هرکله چې مدعی په خپله دعوی کې مدعی علیه معلوم او مشخص کړ او په خپله دعوی کې یې ذکر کړ چې د فلاني کلي څخه احمد د محمود زوی زما قرض نه راکوي نو بیا دعوی صحیح شمیرل کیږي. یاد داچې یو شخص د غصب دعوی وکړي چې احمد د محمود زوی زما یو جریب ځمکه چې په لغمان ولایت د مرکز اړوند د قلعه شیخانو په سیمه شتون لري غصب کړې او ماته یې بیرته نه سپارې لیدل کې چې دعوی په اصل کې صحیح ده ځکه چې د ځمکې غصب یو د دعوی د اسبابو څخه شمیرل کیږي مگر دا دعوی وصفاً فاسده شمیرل کیږي ځکه چې اربعه حدود یې نه دي ذکر کړي. که چیرې په خپله دعوی کې اربعه حدود ذکر کړي بیا د فاسدې دعوی له چوکاټ خارجیږي او صحیحه شمیرل کیږي.

د فاسدې دعوی حکم دادی چې قاضي مدعي مکلف گرځوي چې خپله دعوی صحیح او اصلاح کړي ، او ورسته بیا دصحیحې دعوی حالت ځانته غوره کوي او د صحیحې دعوی په څیر پرې اجراآت کیږي، اما که چیرې مدعي خپله دعوی تصحیح نه کړي، د فاسدې دعوی حکم خپلوي او د منلو وړ نه وي.

یوه خبره د یادونې وړ ده که چیرې مدعي دعوی فاسده وي او قاضي یې رد کړي دا په دې معنی نه ده چې د مدعی د دعوی د اقامې حق د ساقط شي بلکه هغه کولای شي چې خپله دعوی صحیح کړي اوبیا یې قاضي ته وړاندې کړي.

**دریيم جز: باطله دعوی :** دا هغه دعوی ده چې په اصل کې صحیح نه وي. ( ۱۲ : ص ۸۲ )

په باطله دعوی باندې هیڅ حکم پرې نه مرتب کیږي، ځکه چې د تصحیح او اصلاح امکان یې نه وي. مثلاً یو شخص ادعا وکړي چې زما ګاونډی غني او شتمن سړی دی، او قاضي ته عارض شي چې هغه په دې مکلف کړي چې ده ته خیرات او صدقات ورکړي.

یا داچې یو شخص په بل باندې د الکولي مشروباتو یا مخدره موادو دعوی وکړي په دې صورت کې دعوی ې باطله ده او نه اوریدل کیږي، ځکه چې د افغانستان قوانین چې په شریعت استوار دي پورته شیان یې د متقوم مال په حیث په رسمیت نه دي پیژندلي، نو کله چې مال متقوم نه وي د افغانستان په قلمرو کې د دعوی موضوع نه شي ګرځیدلی.

د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د ۸ مادې د حکم لمخې هغه شی یا حق چې د افغانستان قوانینو په رسمیت پیژندلې وي د دعوی موضوع ګرځیدلی شي، نو داچې پورته شیان د افغانستان قوانینو په رسمیت نه دي پیژندلي په اړه یې دعوی کول باطله شمیرل کیږی. ( ۲ : ۸ ماده)

**دویم مبحث:د مدعی به له حیثه د دعوی ډولونه**

دعوی د مدعی به له اړخه دعوی په پینځو ډولونو وېشل شوې ده، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

۱) د عین یا جنس دعوی .
۲) د دین یا قرض دعوی.
۳) د شخصي احوالو دعوی
۴) جنایي دعوی .
۵) د حسبې دعوی. ( ۱۲ : صص ۸۴ او ۸۵ )

د دې لپاره چې په دې اړه مو لا زيات معلومات ترلاسه کړي وي نو په لاندې ډول يې په بيلابيله توگه تر مطالعې لاندې نيسو.

**لومړی جز: د عين يا جنس دعوی:** دا دعوی عبارت له هغې دعوی څخه دی چې د يو عين يا جنس په اړه صورت نيسي.( ۱۲ : صص ۸۴ ـ ۸۵) له تعريف څخه معلوميږي چې دا ډول دعواوې په دوه ډولو ويشل شوی دي يو عقار ( غيرمنقولاتو) دعوی او بل د منقولاتو دعوا چې په لاندې ډول يې په بيلابيله توگه تر مطالعې لاندې نيسو.

**۱ـ د عقاراتو يا غير منقولو اموالو دعوی:** دا دعوی عبارت له هغې دعوی څخه دی چې مدعی به په کې ثابت اصل ولري او ليږد را ليږد يې د هغه د اصل د اتلاف لامل گرځي.( ۱ : ص ۱۲٦) لکه د ځمکو دعوی ، يا د کور دعوی، د لارې دعوی.... مدني محاکماتو د اصولو قانون ۱۳ ماده د عقار د دعوی لپاره لاندې شرايط په نظر کې نيولي دي، ياده ماده په دې اړه صراحت لري چې د عقار جنس ، نوعيت ، موقعيت او مساحت بايد په دعوی کې ذکر شي( ۲ :۱۳ ماده) . دغه موارد په لاندو ټکو کې توضيح کوو.

ـ **د عقار جنس:** شرط ده چې د عقار په دعوی کې دعقار جنس ذکر کړي ځکه چې عقار بيلابيل ډولونه لري لکه ځمکه ، کور ، اپارتمان ، سرای ، دوکان ، باغ ....

ـ **د عقار نوعيت** : د عقار په دعوی کې شرط ده ترڅو د عقار نوعيت ذکر شي مثلاً که د ځمکې يوه دعوی وي بايد ذکر شي چې دا ځمکه زراعتي ده او که خرابه ، که زراعتي وي ابي ده که للمي ...

ـ **د عقار موقعيت** : د دې لپاره چې نا معلومتيا په دعوی کې موجوده نه شي نو بايد د عقار موقعيت بايد ذکر شي چې په فلاني ځای کې موقعيت لري.

ـ **د عقار مساحت** : شرط ده چې د مدعی بها عقار مساحت څخه يادونه وشی لکه پينځه جريبه يا لس متره مربع...

موږ فکر کوو، چې سربيره په پورته شرايطو لاندې شرايط هم ضرور دي.

ـ په هغه صورت کې چې عقار غصب شوی وي ، شرط ده چې مدعي به په خپله دعوی کې د پاسنيو شرايطو په نظر کې نيولو سره دا په ډاگه کړي وي چې همدغه مدعي عليه د ما دغه ذوليدي مملوکه عقار چې زما محترم او متقوم مال دی زما

مدعی له اجازې او اذن پرته ، په غصب سره تصرف کړې او زما د محقه ید په ازاله سره یې خپله باطله ید ثابت کړی دی.

ـ په هغه مغصوبه عقار کې چې د کار ادوات نصب وي ، شرط ده چې مدعي په خپله دعوی کې کې یاد شوي ادوات د هغه له ټولو کیفیاتو سره ذکر کړي، لکه ژرنده ، کارګاه او نور...

ـ مدعي باید په عقار کې د مدعي علیه ذولیدي ذکر کړي ، خو د دعوی د تعرض په دفع کې بیا دغه مطلب نه ذکر کیږي ، بلکې د تعرض د دفعې په دعوی کې شرط داده چې په مدعی بها کې مدعي خپله ذوالیدي ثابته کړي.

**۲ ـ د منقولاتو دعوی:** له دې دعوی څخه هدف د هغو شیانو دعوی ده چې له یوځای نه بل ځای ته انتقالیږي.( ۱۲ : ۸۴ مخ) لکه د ژرندې د تیږې دعوی ، حیواناتو دعوی او ... د منقولاتو دعو یو سلسه شرایط لري چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

ـ د امکان په صورت کې جنس باید د قضا مجلس ته رواړل شي او که نه نو قاضي باید ورشي او وې ګوري او که د قاضي تګ امکان نه درلود، نو باید خپل یو نماینده واستوي ترڅو له نږدې څخه یې وګوري.

ـ په دعوی کې باید د دعوی سبب ذکر شي.

ـ مدعی به جنس به د مدعی علیه په لاس کې وي.

**۳ ـ په عقار او منقولاتو باندې د دعوی د ویش اهمیت :** په هر تو پیر باندې باید بیلابیل حقوقي اثرات رامنځته کړي، پرته له دې کومه خاصه ګټه نلري. په عقار او منقول باندې د دعوې د ویش اهمیت په لاندې نقاطو کې روښانه کوو.

**ـ د محاکمو د صلاحیت له حیثه :** د عقار دعوی د هغو محاکمو صلاحیت دی چې هلته عقار موقعیت ولري، که څه هم د دعوی طرفین هلته اقامت ونه لري. د منقولاتو دعوی د هغه محکمې په صلاحیت کې دی چې مدعی علیه هلته هستوګنه ولري.

**ـ د مدعی علیه له حیثه:** د عقار په دعوی کې باید ذوالید له مدعی علیه سره وي، د منقولو په دعواوو کې مدیون باید د دعوی طرف وګرځي، ځکه چې د منقولاتو دعوی د داین او مدیون د ذمې ترمنځ اړیکه ده او داین نه شي کولای له مدیون پرته بل څوک د خپل دعوی طرف وګرځوي.

**دوهم جز: د دین یا قرض دعوی:** عبارت له هغه دعوی څخه ده چې موضوع یې د مدعي علیه یا مدیون د ذمې خلاصول وي. یاهم دا دعوی عبارت له هغه دعوی څخه دی چې د دین یا قرض په اړه کیږي، چې د بل چا په ذمه وي په دې دعوی کې باید د دین مقدار، جنسیت، نوعیت او سبب یې واضح کړی شي.(۱۲ : ص ۸۵) دغه نقاط په لاندې ټکو کې په بېلابېله توګه واضح کوو.

۱. د دین مقدار او اندازه باید معلوم وي. لکه سل منه غنم یا شل زره افغانۍ او ...
۲. د دین جنس باید مشخص وي. لکه پیسې یا غله او ...
۳. د دین نوعیت باید معلوم شي . کله چې جنسیت تعین شوی، مثلا جنس یې پیسې دي باید نوعیت یې مشخص شي چې افغانۍ دي یا ډالر یا ... او که غله وي مشخص شي چې وریجې دي که جوار یا ...
۴. سبب یې بیان شي. چې ولې یې قرض ورکړی وه.

**درېیم جز: د شخصي احوالو دعوی:** عبارت له هغه دعوی څخه دی چې عین یا دین ته نه شاملیږي. دا شرعي او قانوني حقوق دي.(۱۲ : ص ۸۵) لکه د طلاق دعوا ، نکاح دعوا ، د مهر دعوی... د افغانستان په حقوقي سیستم کې دا ډول دعوی ته د کورنې مسایلو څخه رامنځته شوې دعوی ویل کیږي .

**څلورم جز : جنایي دعوی :** هغه دعوی دی چې د ناروا عمل پورې تړاو ولري که هغه دین، نفس ، نسل(ناموس )، مال ، عقل(وقار ) او یا بل شي ته راجع وي . لکه وهل ، زخمي کول، غلا.(۱۱: ص ۱۰) په افغانستان کې دې ډول دعوی ته جزایي دعوی ویل کیږي.

**پینځم جز: د حسبې دعوی:** دا هغه دعوی ده چې د ځینو واجبو کارونو په ترک کولو او د ځینو محرماتو په ترسره کولو سره اقامه کیږي. او دولت یې اقامه کوي.( ۱۱: ص ۱۱)

په دې دعوی کې شخص پرته له دې چې د ځان لپاره له قاضي څخه غوښتنه وکړي دعوی اقامه کوي، د حقوق الله غوښتنه کوي. لکه د ادراي فساد څخه رامنځته شوې دعواوې چې د دولت د نماینده یا څارنوال له خوا اقامه کیږي.

**پایله**

د دې علمي څېړنيزې ليکنې په پای کې و يلای شو چې په محاکمو کې ځکه يو شمير دعواوې نه اوريدل کيږي چې اکثره دعواوې د مسلکي اشخاصو له لوري نه ليکل کيږي دوی د دعوی د ليکلو په اړه لازمه پوهه نه لري؛ نو ځکه د دعوی په ليکلو کې يې د صحيحي دعوی ټول شرايط نه وي رعايت کړي؛ نو د دې لپاره چې د مدعی دعوی ته رسيده گی وشي قاضي يې په دې مکلفوي ترڅو خپله دعوی صحيح او محکمې ته وړاندې کړي، چې قضات نن ورځ دا عمل تر دريو ځلو تکراروي او مدعي مکلف گرځوي ترڅو خپله دعوی صحيح کړي. په صحيحه دعوی کې د دعوی ټول عمومي او خصوصي شرايط شتون لري، ولې که له دې شرايطو څخه يې يو نه وي رعايت شوی د فاسدې دعوی حکم خپلوي، دا دعوی له اصلاح وروسته د رسيده گی وړ ده، ولې که چيرې يوه دعوی په ذات او جوهر کې باطله وي اصلاح کول يې امکان نه لري او دې دعوی ته په قطعي صورت سره رسيده گي نه کيږي.

**ماخذونه**


۱. بشر حقوقو له تبصرو سره په افغانستان کې د مدني قضاياوو د څيړنو لاربښود ( ۱۳۹۰ هـ ش ) گلوبل رايټس ـ د عدالت لپاره گډون وال.
۲. د افغانستان اسلامي جمهوريت، د مدني محاکماتو اصولو قانون،کابل، عدليې وزارت، ۱۳٦۸ هـ ش کال.
۳. د افغانستان اسلامي جمهوريت، مدني قانون، کابل، عدليې وزارت، ۱۳۵۵ هـ ش کال.
۴. الزحيلي ، دوکتور وهبه بن مصطفی (۱۳۸٦ هـ ش) قاضي و قضاوت ، مترجم : الحاج قضاي غلام حضرت فرخاري، موسسه انتشارات خاور.
۵. زيدان ، دوکتور عبدالکريم (۱۳۹٦هـ ش) نظام قضا در شريعت اسلامی، مترجم: قضاوتپوه غوث الدين مستمند غوری،کابل، انتشارات سعيد.
٦. ستانکزی ، محمد ظريف عالم (۱۳۹۳هـ ش) اجرات دعوی مدني از ديدگاه فقه و قانون،کابل، انتشارات حامد رسالت.

۷. ستانکزی محمد ظریف عالم( ۱۳۹٦هـ ش) اصول محاکمات مدنی ،کابل، انتشارات حامد رسالت.
۸. حسن، عمید (۱۳۷۹ هـ ش ). فرهنگ فارسی عمید. چاپ دوازدهم،جلد اول، چاپخانه سپهر، تهران.
۹. مجلة الاحکام.
۱۰. میرزایی، دکتر علی محمد (۱۳۹۳هـ ش) اصول محاکمات مدنی افغانستان، کابل، انتشارات دانشگاه ابن سینا، مرکز پخش:موسسه انتشارات مقصودی.
۱۱. نیازی، پوهنوال ډاکتر مصطفی( ۱۳۹٦هـ ش) د ننگرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځې د ماسټرۍ برنامې د دوهم سمستر د اسلام قضایي نظام مضمون لکچر نوټ.
۱۲. نیازی، دوکتور محمد مصطفی ( ۱۳۹۴هـ ش) د اسلام قضایي نظام، ژباړه: محمد کریم ادیب ایاس، قرطبه خپرندویه ټولنه.

څېړنيار خوشحال تسل

# د افغانستان په اقتصادي پرمختيا کې د کاسا زر پروژې اهميت

**لنډيز**

کاسا زر[۱] د هغې سترې اقتصادي او سوداګريزې پروژې نوم دی چې په پلې کېدو سره به يې د سيمې په کچه ستره او د څلورو هېوادونو ترمنځ د پيوستون لويه نخښه جوړه شي؛ په دې پروژې سره به د قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان هېوادونه وکړای شي چې د سيمې په کچه د برېښنا د سوداګرۍ مارکېټ برابر کړي. دغه پروژه به د مرکزي آسيا له قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه چې د برېښنا د توليد خورا ډېر امکانات په واک کې لري، پر افغانستان او پاکستان هېوادونو وپلوري.

د کاسا زر پروژې ارزښت ۱,۲ ميليارده امريکايي ډالره اټکل شوی چې د افغانستان ونډه په کې ۴۰۴ ميليونه امريکايي ډالره حساب شوې ده، د دې پروژې اوږدوالی ۷٦۵ کيلومتره اټکل شوی چې يوازې ۵٦۲ کيلومتره يې د افغانستان په خاوره کې تېرېږي، چې ورسره به دوه کنورټر سټېشنونه يو په پاکستان او بل د تاجکستان هېواد په سنګتوده سيمه کې ورغول شي.

په افغانستان کې به دغه پروژه له ۷۰۰ ځايونو(محلونو)، ۲۳ ولسواليو او اوو ولايتونو له لارې تېره شي. ياده پروژه به ۱۵۲۰۰۰ کورنيو ته چې د دې پروژې په ۲/۲ کيلومترۍ کې موقعيت لري، د ټولنې د ملاتړ پروګرام ترنامه لاندې د څلوېښت

---

[۱] CASA1000 : Central Asia- South Asia Power Transmission Project

میلیونه ډالرو په ارزښت ټولګټې پروژې د کلیو او پراختیا وزارت له لوري د خلکو له غوښتنې سره سم پلې شي او هغه سیمې او کورنۍ چې د دې پروژې له پلې کېدو څخه اغېزمنې کېږي، ورڅخه ګټه واخلي.

د دغې پروژې په پلې کېدو سره به په سیمه کې سیمه ییزو وګړو ته زیاتې اوږدمهالې او لنډ مهالې کاري بوختیاوې پیدا شي، هغه پیسې چې له دې پروژې څخه په کال کې تر لاسه کېږي شاوخوا ۲ میلیونه ډالره به یې د همدې سیمې د بنسټیزو پروژو په پلې کولو ولګول شي.

دا چې افغانستان له کاسا زر پروژې څخه په کال کې له ۴۵ څخه تر ۵۰ میلیونو ډالرو پورې ګټه تر لاسه کوي که چېرې د برېښنا لېږد له ٦ میاشتو څخه زیات شي کولای شي د هېواد له لارې د دغې برېښنا د لېږد کلني عواید تر ۱۰۰ میلیونو ډالرو پورې ورسیږي.

**سریزه**

د منځنۍ آسیا په ځانګړې توګه د قرغزستان، تاجکستان او افغانستان هېوادونو له بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د انرژۍ د تولید ظرفیتونه او ور سره جوخت په پاکستان او د جنوبي آسیا په نورو هېوادونو کې د برېښنا د انرژۍ د تقاضا زیاتوالی هغه څه دي چې د سیمې د برېښنا په برخه کې یې د لویو پانګونو او د هغې د اخیستلو او خرڅولو بازار د ودې لپاره مناسب شرایط منځ ته راوړي دي.

افغانستان چې د مخ پر ودې هېوادونو له جملې څخه دی، تل د انرژۍ له کموالي څخه شکایت کوي او له بلې خوا د مرکزي آسیا هېوادونه په ځانګړې توګه قرغزستان او تاجکستان د پرېماني انرژۍ څخه برخمن دي، نو په همدې اساس افغانستان د خپلو انرژیکي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د مرکزي آسیا د برېښنا انرژۍ ته اړتیا لري. د دې ترڅنګ کېدای شي، افغانستان د مرکزي او جنوبي آسیا هېوادونو تر منځ د برېښنا د لېږد یو نښلوونکی پل هم وګرځي چې د دې لارې افغانستان نه یوازې خپلې اړتیاوې پوره کولای شي، بلکې د ترانزیټ له لارې ښه عواید هم تر لاسه کولای شي. نو همدا لامل دی چې د جنوبي او مرکزي آسیا د هېوادونه غواړي د افغانستان له لارې د برېښنا د لېږد یوه لویه، مهمه او حیاتي پروژه د کاسا زر تر نامه لاندې پلې کړي.

کاسا زر د سيمې د برېښنا انرژۍ د يوې مهمې پروژې په توګه د ۱۳۰۰ ميګاواټه برېښنا د لېږد ظرفيت په درلودلو سره له قرغزستان او تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته، په سيمه کې د برېښنا د اخيستلو او خرڅولو د معاملاتو لپاره د مناسب بستر د آماده کولو زمينه برابروي.

د برېښنا د لېږد دا ستره ملي پروژه کولای شي په سيمه کې د اقتصادي پرمختګ، سياسي ټيکاو او د افغانستان لپاره د نړيوال باور زمينه برابره کړي. افغانستان او پاکستان هېوادونه چې د خپلو اقتصادي، ټولنيزو او خدماتي فعاليتونو د تر سره کولو لپاره د برېښنا د نشتوالي له جدي ستونزې سره لاس او ګرېوان دي، له دې لارې به وکولای شي د اړتيا وړ برېښنا تر لاسه کړي. اټکل کېږي چې د دې پروژې په پلې کېدو سره په سيمه او ځلورو هېوادونو کې د غربت مخه ونيول شي او تر پلې کېدو وروسته به د زرهاو دندو د پيدا کېدو لامل شي، د سيمې اقتصادي چارې به ورځ تر بلې مخ په ښې کېدو شي او غربت به له منځه يوسي.

د دغې پروژې له پلې کېدو څخه موخه له مرکزي آسيا څخه جنوبي آسيا ته د برېښنا د لېږد له لارې په سيمه ييزه سوداګرۍ کې د مرکزي او جنوبي آسيا هېوادونو د مشترکو منافعو تأمينول، د ترانزيټ له لارې د عوايدو حاصلول او د افغانستان په اقتصادي وده او پرمختګ کې مرسته کول.

په دې علمي مقاله کې هڅه شوې ده چې افغانستان ته د دې پروژې اهميت، ګټې، فرصتونه او د هغې د پلې کېدو پر وړاندې ستونزې په هر اړخيزه توګه و څېړل شي او وليدل شي چې دغه پروژه د افغانستان د برېښنا اړتياوې څومره پوره کولای شي او ترڅنګ يې د هېواد په اقتصادي پرمختيا کې څومره ونډه درلودلی شي.

**د څېړنې مبرميت او هدف**

دا چې کاسا زر پروژه د افغانستان له لارې پاکستان هېواد ته زر مېګاواټه برېښنا لېږدوي، له دې پروژې سره به د سيمې څلور هېوادونه د خپلمنځي ګډو ګټو پر اساس سره وتړل شي. د څېړنې د مبرميت په باره کې ويلای شو چې افغانستان به د کاسا زر پروژې له لارې د خپلو اقتصادي، ټولنيزو او خدماتي فعاليتونو د تر سره کېدو په موخه د اړتيا وړ برېښنا تر لاسه کړي او د دې ترڅنګ دا پروژه کولای شي په سيمه او

نړۍ کې د افغانستان نړېوال حیثیت او باور زیات کړي. نو له دې څېړنې څخه زمونږ هدف د افغانستان په اقتصادي پرمختیا کې د کاسا زر پروژې د اهمیت څېړنه ده او هم په دې پوهیدل دي چې د دغې پروژې له پلي کېدو څخه به افغانستان څومره کالني عواید تر لاسه کړي او تر څنګ یې د لنډ او اوږد مهال لپاره څومره کسان په کې ګمارل کیږي.

**د څېړنې میتود**

دا څېړنه یوه اقتصادي څېړنه ده او اکثره په اقتصادي څېړنو کې له کمي، کیفي او تحلیلي میتودونو څخه استفاده کیږي؛ نو ما هم خپله څیړنه د کمي،کیفي او تحلیلي میتود پر بنسټ ترسره کړې ده.

**د کاسا زر پروژې طرح، د تعرفې او تړون لاسلیک کول**

دغه پروژه په ۲۰۰۵ م. کال د افغانستان لپاره د اقتصادي کومکونو په کنفرانس[۲] کې وړاندیز شوه او د ریکا په شپږم کنفرانس کې چې په ۲۰۱۵ م. کال د اکتوبر په میاشت په کابل کې دایر شو، د دغې پروژې په پلې کېدو باندې موافقه وشوه. د دې موافقې مطابق د پروژې کار باید د ۲۰۱۵ م. کال د اکتوبر له میاشتې څخه وروسته پیل او د ۲۰۱۸ م. کال تر پایه پورې بشپړ شوی وای، خو اوس یې کار اته میاشتې نور هم ځنډېدلی دی.

د موافقې مطابق د برېښنا دغه مزی (لاین) به د افغانستان له اوو ولایتونو څخه تیرېږي چې د هغه ظرفیت د تاجکستان د سنګتوده په سیمه کې ۱۳۰۰ میګاواټه، په کابل کې ۳۰۰ میګاواټه او په پېښور کې ۱۰۰۰ میګاواټه دی. همدارنګه د دغې موافقې مطابق د برېښنا د هر کېلو واټ لګښت به ۵،۵ سینټه، د لېږد لګښت به یې ۲،۹۱ سینټه، له افغانستان څخه د ترانزیټ( حق العبور) لګښت به یې ۱،۲۵ سینټه، له تاجکستان څخه د ترانزیټ( حق العبور) لګښت به یې ۰،۱۰ سینټه وي چې د پورتنیو ذکر شویو لګښتونو مجموعه د برېښنا په هر کېلو واټ باندې ۹،۴۱ سینټه کیږي(۱: ۶۲ مخ).

[2]RICCA: Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan

**د کاسا زر پروژې مفهوم او ماهیت**

کاسا زر د مرکزي آسیا د برېښنا د لېږد د یوې لویې پروژې څخه شمېرل کېږي چې د قرغزستان او تاجکستان د برېښنا انرژۍ مازاد(هغه برېښنا چې د دغو هېوادونو له اړتیا څخه زیاته ده) په ۱۲۵۰ کیلو متره مزي( لاین) او ۵۰۰ کیلو واټه لوړ ولټاژ سره افغانستان او پاکستان ته لېږدول کېږي.

د کاسا زر پروژې تدارکاتي کارونه د ۲۰۱۷ م. کال د اکتوبر په میاشت کې وتړل شول او ټاکل شوې وه چې د ۲۰۱۸ م. کال په پیل کې به د افغانستان د برخې رغنیزې چارې پیل شي او د کال تر پایه به بشپړې شي خو د اوبو او برېښنا وزارت د تازه معلوماتو له مخې د دې پروژې کارونه اته میاشتې نور هم وځنډېدل چې لامل یې امنیتي او مالي ستونزې یادوي.

د یادې پروژې په چوکاټ کې به په پلخمري ښار کې د ۳۰۰ مېګاواټه برېښنا سټېشن ورغول شي چې په رغولو سره به یې افغانستان وکولای شي له تاجکستان هېواد څخه د هغه شته ۲۲۰ کیلو ولټه مزي(لاین) له لارې برېښنا وپېري چې له تاجکستان څخه افغانستان ته راغلی دی. د یادونې وړ ده چې د پروژې دغه برخه د افغانستان په غوښتنه د اړتیا تر وخته پورې ځنډول شوې ده ترڅو له هغې مخکې د ستنو(پایو) درولو کار بشپړ شي.

دغه پروژه د افغانستان لپاره د برېښنایي اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ یوه لویه عایداتي پروژه هم ګڼل کېږي چې دغه هېواد د برېښنا د هر مېګا واټ له درکه یو ډالر او پنځه سینټه عاید په لاس راوړي. د افغانستان کالنی عواید د دغې پروژې له درکه ۴۰ میلیونه ډالر حساب شوي دي. د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا څخه جنوبي آسیا ته د برېښنا انرژۍ لېږد د یادو هېوادونو مشترکې ګټې تأمینوي او د افغانستان رول په سیمه کې د برېښنا انرژۍ د ترانزیټ د یو مؤثر هېواد په توګه تثبیت او په عین حال کې له دې لارې عامو خلکو او صنعتګرانو ته د برېښنا رسول او د عوایدو ترلاسه کول د افغانستان د ودې او پرمختګ لپاره ښه عامل ګڼل کیږي(۲: ۸۲ مخ).

**د کاسا زر پروژې اهمیت**

- د مرکزي او جنوبي آسیا هېوادونو ترمنځ د انرژۍ سوداګریز مارکېټ به رامنځ ته کړي.
- افغانستان به په نړیواله کچه ترانزیټي هېواد کړي او په دې سره به خپلې اقتصادي پراختیا ته زمینه برابره کړي.
- د قرغزستان او تاجکستان هېوادونو لپاره به د انرژۍ په برخه کې د عوایدو د تر لاسه کولو ښه زمینه برابره کړي، دغه دواړه مخ پر ودې هېوادونه چې په مرکزي آسیا کې دي، د همدې ګټې په تر لاسه کولو به وکولای شي د خپل هېواد د برېښنا په سیستم نوره پانګونه وکړي او زیاته انرژي برابره کړي.
- پاکستان هېواد د برېښنا د انرژۍ له کمښت سره مخامخ دی، له دې لارې به خپله د اړتیا وړ برېښنا تر لاسه کړي.
- په دواړو زونونو کې به په عامه توګه د خلکو تر منځ د اقتصادي همکاریو او نېکو اړیکو درلودلو نظر پیدا شي.

**د کاسا زر پروژې تخنیکي خصوصیات او نړېوال تمویل کوونکي**

د کاسا زر پروژه په تمویل، پلان جوړولو، طرح کولو، بیاجوړولو، اجرا، غیر مستقیمې برېښنا[3] او مستقیمې برېښنا[4] د ۱۲۲۷ کیلو متره مزي( لاین) په لوړ ولتاژ سره او د برېښنا د تبدیلۍ په دوو دستګاوو باندې مشتمله ده.

د کاسا زر پروژې د برېښنا د مزي( لاین) ستنې د ۵۶۰ کیلو مترو په شاوخوا کې د افغانستان په خاوره کې جوړېږي او په خپل مسیر کې د هېواد له۷۰۰ ځایونو(محل)، ۲۳ ولسوالیو او ۷ ولایتونو څخه تېرېږي. د نړېوال بانک د ارقامو پر بنسټ د افغانستان په هره ولسوالۍ کې په منځنۍ کچه ۹۹۹۲۶ تنه ژوند کوي، نو د برېښنا دغه ستنې او مزي چې له ۲۳ ولسوالیو څخه تېرېږي په ټولیز ډول به ۲۲۹۸۲۹۸ تنه د برېښنا له نعمت څخه برخمن کړي. همدارنګه د هېواد له پورتنیو سیمو څخه د برېښنا د مزي تېریدل د ۱۵۲۰۰۰ کورنیو د ژوند په سطحه باندې چې په دغه لاره کې ژوند کوي مثبتې اغېزې کوي یعنې د دې سېمې خلک په کار ګمارل

---

3 AC
4 DC

کیږي او له دې لارې به یوه اندازه عاید تر لاسه او ترڅنګ يې کوم خلک چې د دې پروژې څخه زيانمن کيږي د کليو او پراختيا وزارت له لورې ورته نوې رغنيزې پروژې په پام کې نيول شوي دي.

نړېوال بانک د دغې پروژې عمده تمويل کوونکی دی. لاولين کاناډايي شرکت[5] په ۲۰۱۱ م. کال کې د دغې پروژې سنجش د نړيوال بانک په مالي مرسته تر سره کړ(۵: انټرنېټ).

د برېښنا د اخيستلو او خرڅولو د موافقې په اساس د کاسا زر پروژې د برېښنا څخه ګټه اخيستنه په دوو برخو ويشل شوي ده:

۱- د پروژې د فعاليت دوره: هر کال د می د مياشتې له لومړۍ نېټې څخه د سپټامبر د مياشتې تر ۳۰ نېټې پورې. په دې موده کې به د قرغزستان او تاجکستان له اړتيا څخه زياته برېښنا د دې پروژې له لارې په افغانستان او پاکستان هېوادونو باندې پلورل کيږي.

۲- د پروژې د فعاليت د نشتوالي دوره: هر کال د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه د آپرېل تر ۳۰ نېټې پورې، دغه دوره له قرارداد څخه د بهر علاقه لرونکو د حق الاشتراک په نامه هم ياديږي. د موجوده تړون په اساس د پروژې څلور مالکان دغې پروژې ته د نورو هېوادونو د لاسرسي حق هم په رسميت پېژندلی دی خو دغه سند تر اوسه نهايي شوی نه دی.

په افغانستان کې د کاسا زر پروژې د فزيکي برخې تطبيق په دريو فازونو کې په لاندې ډول تر سره کېږي:

۱. د مزي ( لاين) د مسير نهايي سروې او د مزي غزولو ډيزاين په ٦ مياشتو کې.
۲. د ستنو( پايو) او مزي غزولو تدارکات په ۳٦ مياشتو کې.
۳. د پروژې د ګټې اخيستنې(بهره برداری) مرحله تر ۱۵ کالونو پورې اټکل شوې ده(۷: انټرنېټ).

[5] SNC Lavalin

**د کاسا زر په پروژه کې مالکیتونه او پانګونې**

په مجموعي توګه په کاسا زر پروژه کې ۱،۲ میلیارده امریکایي ډالره پانګونه کېږي چې په هغه کې د هر هېواد ونډه په لاندې ډول ده:

۱. افغانستان ۴۰۴ میلیونه امریکایي ډالر.

۲. پاکستان ۲۳۲ میلیونه امریکایي ډالر.

۳. تاجکستان ۳۰۱ میلیونه امریکایي ډالر.

۴. قرغزستان ۲۳۳ میلیونه امریکایي ډالر.

باید یادونه وکړو چې د کاسا زر په پروژه کې د افغانستان د برخې ۴۰۴ میلیونه پانګه د لاندېنیو ارګانونو له لارې تهیه او برابرېږي:

- ۳۱٦،۵ میلیونه امریکایي ډالر د نړېوال بانک بلاعوضه مرسته.
- ۴۰ میلیونه امریکایي ډالر افغانستان لپاره د ټولنې د ملاتړ او بیا جوړونې صندوق د پروګرام(Community Supporter Program) مرسته.
- ۴۷،۵ میلیونه ډالر د افغان حکومت له بودجې ورکول کیږي( ۸: انټرنېټ).

د ویلو ده چې د هېواد دننه د دې پروژې چارې د اوبو او برېښنا وزارت او افغان برېښنا شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي. د اوبو او انرژۍ وزارت د دې پروژې د اصلي مالک په صفت په ټولو چارو کې دخیل و او دی. د دې پروژې (ټولنې د ملاتړ پروګرام) مسؤلیت د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت پر غاړه لري او دغه پروګرام د چمتو کېدو په درشل کې دی. پروګرام به د ملي پیوستون په څېر په هغو کلیو او بانډو کې پلی کېږي چې د دې پروژې له پلې کېدو څخه متأثره کېږي. د دغه پروګرام په چوکاټ کې په پام کې ده چې پلونه، پلچکونه، لارې، د اوبو واړه بندونه، استنادي دېوالونه او د برېښنا وړې پروژې په سیمه کې پلې شي. د (ټولنې د ملاتړ پروګرام) د هغې ارزونې په پایله کې چمتو او پلی کېږي چې د کاسا زر پروژې په اړه یې د نړیوالو مشورتي کمپنیو پر مټ معلومات راټول او دا یې غوره ګڼلې چې باید د دې پروژې ترڅنګ د سیمې خلکو ته هم د دې پروژې د پلې کېدو ترڅنګ هغه وړې پروژې چې پورته یې یادونه وشوه پلې شي.

کاسازر پروژه به د هېواد له کندوز، بغلان، پنجشېر، کاپیسا، د کابل سروبي ولسوالۍ، لغمان او ننګرهار ولایتونو څخه تېره شي. د دې پروژې په پلې کېدو سره

به په سیمه کې سیمه ییزو وګړو ته زیات کاري لنډمهاله او اوږدمهاله کارونه پیدا شي، هغه پیسې چې له دې پروژې څخه په کالني عاید کې ترلاسه کېږي، شاوخوا ۲ میلیونه ډالره به یې د همدې سیمې د بنسټیزو اقتصادي پروژو په پلې کولو ولګول شي(همغه: انټرنېټ).

**افغانستان لپاره د کاسا زر پروژې ګټې او د هغې د تطبیق پر وړاندې ستونزې**

د کاسا زر پروژه له قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د برېښنا د انرژۍ د لېږد پروژه ده چې پر بنسټ به یې ۱۳۰۰ میګاواټه برېښنا د افغانستان او تاجکستان له لارې، پاکستان ته ولېږدول شي. د خپرو شوو راپورونو په اساس به له دې څخه ۳۰۰ میګاواټه برېښنا افغانستان په ارزانه بیه واخلي او پاتې زر میګاواټه به پاکستان ته ولیږدول شي اټکل دی چې د دې پروژې په عملي کېدو سره به افغانستان ته په کال کې ۴۵ میلیونه ډالره دترانزیټ حق ورکول کېږي (۴: ۲ مخ).

همدارنګه افغانستان لپاره د کاسا زر پروژې د ځینو عمده ګټو په لاندې ډول یادونه کوو:

- په سیمه ییزې همکارۍ او تعاون کې ګډون کول.
- د یادې پروژې د تمویل په موخه له نړیوال بانک څخه ۳۱٦,۵ میلیونه امریکایي ډالره بلاعوضه مرسته تر لاسه کول.
- ۳۰۰ میګا واټه برېښنا په ارزانه بیه تر لاسه کول.
- د افغانستان له خاورې څخه د برېښنا انرژۍ د ترانزیټ حق په نړیواله سطحه قبلول.
- په هر کیلو واټ برېښنا باندې چې له افغانستان څخه پاکستان لېږدول کېږي ۱,۲۵ سینټه مالیه( ترانزیټ) اخیستل.
- په اعظمي توګه ( د پروژې له فعالیت سره سم په لومړنیو ۵ میاشتو کې) ۴۱,۳ میلیونه امریکایي ډالره تر لاسه کول. همدارنګه د پروژې د فعالیتونو په ٪۹۰ ترسره کېدو سره به افغانستان د ترانزیټ له لارې ۹۹,۱ میلیونه امریکایي ډالره تر لاسه کړي.

❖ د برېښنا سکتور د زېربنايي جوړښتونو زياتوالی، د اوبو او انرژۍ وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت د کارکوونکو د ظرفيتونو لوړوالی.
❖ په سلگونه لنډ مهاله او اوږدمهاله کارونه او بوختياوې ايجادول.
❖ د پروژې په مسير کې د پرتو ټولنو او کورنيو اقتصادي او ټولنيزه وده او پرمختگ.

بايد يادونه وکړو چې د دې پروژې د برېښنا د هر کېلو واټ د ترانزيټ له لارې چې کوم عوايد تر لاسه کېږي ۰٫۱ سينټه يې د هغې سيمې څخه چې برېښنا پايې ترې تېرېږي د يادې سيمې د ودې او پرمختگ لپاره لگول کېږي او د دې پروژې له مجموعي راټولو شويو پيسو څخه ۵۰٪ يې په افغانستان او پاتې يې په نورو غړو هېوادونو کې لگول کېږي.

همدارنگه په افغانستان کې د کاسا زر پروژې د تطبيق پر وړاندې په لاندې توگه د ځينو ستونزو يادونه کوو:

❖ د افغانستان په خاوره کې جگړه او امنيتي ستونزې؛
❖ د اوبو او انرژۍ وزارت کمزوری مديريت؛ يعنې د ولسمشر له لوري چې د اوبو او برېښنا وزارت ته د بندونو د جوړولو په برخه کې کوم پلان ور کړل شوی و، د دغه وزارت د کمزوري مديريت له امله دغه پلان په ډېرې کمې سلنې سره يې پلې شو او بالاخره ولسمشر د ياد وزارت وزير د کمزوري مديريت له امله دندې لرې کړ.
❖ د سيمې له هېوادونو سره کمزورې سياسي او ډيپلوماتيکې اړيکې؛
❖ په قرغزستان او تاجکستان هېوادونو باندې د ترکمنستان هېواد فشارونه. څرنگه چې ترکمنستان د اوبو له کموالي سره مخامخ دی او د اړتيا وړ اوبه له تاجکستان څخه تر لاسه کوي، خو د دغې پروژې په پلې کېدو سره کېدای شي شرايط تغيير ومومي(۳: ۴۷ مخ).

**پايله**

افغانستان چې د مخ پر ودې هېوادونو له جملې څخه دی د خپلو سرشارو سيندونو په درلودلو سره په دې نه دی قادر شوی چې د اړتيا وړ برېښنا ترې تر لاسه کړي او د برېښنا انرژۍ له کموالي سره لاس او گرېوان دی. خو داچې افغانستان د مرکزي

او جنوبي آسیا هېوادونو ترمنځ د پل حیثیت لري نو نه یوازې خپله د اړتیا وړ برېښنا له مرکزي آسیا څخه په ارزانه بیه ترلاسه کولای شي ترڅنګ یې جنوبي آسیا ته د خپلې خاورې له لارې د برېښنا انرژۍ د تېرېدو آسانتیاوې هم برابرولی شي او د ترانزیټ له درکه په زیاته کچه عواید په لاس راوړلی شي.

د کاسا زر پروژه چې نېږدې دیارلس کاله د مخه طرح شوې ده د هېواد د برېښنا انرژۍ د ستونزې د هواري لپاره ښه فرصت بلل کېږي. دغه پروژه له قرغزستان هېواد څخه پیل کیږي، له تاجکستان هېواد څخه تر تېرېدو وروسته افغانستان ته را دننه کېږي او پاکستان هېواد کې پای ته رسیږي. د کاسا زر پروژه په تولیزه توګه ۱۳۰۰ میګا واټه برېښنا لري چې ۳۰۰ میګاواټه یې په افغانستان او پاتې برخه یې په پاکستان کې په مصرفیږي. د دې پروژې اوږدوالی ۷۶۵ کیلومتره اټکل شوی چې یوازې ۵۶۲ کیلومتره یې د افغانستان په خاوره کې تېریږي، چې ورسره به دوه کنورټر سټېشنونه یو په پاکستان او بل د تاجکستان هېواد په سنګتوده سیمه کې ورغول شي.

د کاسا زر پروژې بودجه ۱,۲ میلیارده امریکایي ډالره اټکل شوې ده چې د نړېوال بانک، اسلامي پرمختیایي بانک او د امریکا متحده ایالاتو د نړېوالې پرمختیا اژانس له خوا ور کول کېږي. د کاسا زر پروژه د افغانستان لپاره یوه لویه عایداتي سرچینه ګڼل کېږي چې دغه هېواد د برېښنا د هر مېګا واټ له درکه یو ډالر او پنځه سینټه عاید په لاس راوړي. د افغانستان کالني عواید د دغې پروژې له درکه له ۴۰ څخه تر ۶۵ میلیونو ډالرو پورې اټکل شوي دي. د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا څخه جنوبي آسیا ته د برېښنا انرژۍ لېږد د یادو هېوادونو مشترکې ګټې تأمینوي او د افغانستان رول په سیمه کې د برېښنا انرژۍ د ترانزیټ د یو مؤثر هېواد په توګه تثبیت او په عین حال کې د دې لارې د عوایدو تر لاسه کول د افغانستان د ودې او پرمختګ لپاره ښه عامل ګڼل کیږي.

د کاسا زر پروژې پلې کېدل په حقیقت کې د افغانستان په اقتصاد کې یو مثبت تغییر بلل کېږي چې په پلې کېدو سره به یې د خلکو د برېښنا ستونزه تر یوې اندازې را کمه شي یعنې افغانستان به ۳۰۰ مېګاواټه برېښنا په ډېره ارزانه بیه تر لاسه کړي. همدارنګه یو شمېر وګړي به یې په کې بوختیاوې تر لاسه کړي، افغانستان به د

ترانزيټ لارې نړيوالو ته د يوه پل حيثيت غوره کړي، د دې تر څنګ به افغانستان د يادې پروژې د تمويل په موخه له نړيوال بانک څخه ۳۱٦,۵ ميليونه ډالره بلاعوضه مرسته تر لاسه کړي او لنډه داچې ياده پروژه به د بهرنيو پانګونو د جذب ښه وسيله او د پروژې په مسير کې د پرتو ټولنو او کورنيو د اقتصادي او ټولنيزې ودې او پرمختګ سبب وګرځي. په افغانستان کې د کاسا زر پروژې د پلي کېدو پر وړاندې ځينې ستونزې لکه: د افغانستان په جغرافيه کې امنيتي ستونزې او تروريستي فعاليتونه، د اوبو او انرژۍ وزرات کمزورى مديريت، د سيمې له هېوادونو سره کمزورې سياسي او ډيپلوماتيکي اړيکې، له پاکستان هېواد سره کمزورې اقتصادي اړيکې او د ښه ګاونډيتوب کمزورې اړيکې او داسې نور چې دولت بايد د يادو ستونزو د له منځه وړولو لپاره له ټولو ممکنه لارو څخه کار واخلي ترڅو دغه ستره ملي او اساسي پروژه په ښه ډول پلې شي.

**وړانديزونه**

۱. د کاسا زر پروژې له پيل څخه وړاندې دې د هغو سيمو اوسيدونکو ته چې د يادې پروژې پايې او مزي ترې تېرېږي د عامه پوهاوي پراخ کمپاين وشي او هغوی ته دې د دې پروژې څخه د تر لاسه کېدونکې برېښنا او عوايدو په باره کې معلومات ورکړل شي ترڅو خلک ورسره لېوالتيا پېداکړي او په پلې کېدو کې يې مرسته وکړي.

۲. د هغو سيمو اوسېدونکو ته چې د دغې پروژې د پايو له نصبولو او مزي تېرېدلو څخه زيانمن کېږي دولت دې ور سره مرستې وکړي او د دغو سيمو اوسيدونکو ته دې په ياده پروژه کې تر نورو خلکو د ګمارنې په برخه کې لومړيتوب ورکړل شي.

**مأخذونه**

۱. څېړنيز او تحليلي راپور. افغانستان په تيره يوه نيمه لسيزه کې، د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز: کابل، ۱۳۹۵ هـ.ش

٢. عرفان، محمد حسن. د افغانستان اقتصاد ستونزې او د حل لارې یې، مسقبل خپرندویه ټولنه: کابل، ١٣٩٥ هـ.ش.

٣. هبیل، سید محسن. اقتصاد افغانستان، انتشارات جهان اسلام: کابل، ١٣٩٦ هـ.ش.

۴. نایاب، بریالی.« افغانستان ته د کاسا زر پروژې گټې»، د اوبو او برېښنا انرژۍ وزارت میاشتنۍ، گڼه: ٢٩، د اوبو، برېښنا او انرژۍ وزارت: کابل، ١٣٩٦ هـ.ش.

۵. د کاسا زر پروژې د برېښنا د مزي( لین) ستنې د ۵٦٠ کیلو مترو په شاوخوا کې د افغانستان په خاوره کې جوړیږي چې په دې سره به... http://www.pajwhok.com/ps/opinions، (د خپریدو نېټه: ٢٠١٨/١/٢٦). [د لاسرسي نېټه: ٢٠١٨/١٢/١٢].

٦. د کاسا زر پروژه له قرغزستان او تاجکستان هیوادونو څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د برېښنا د انرژۍ د لیږد پروژه ده...، http://ommtonline.com ، (د خپریدو نېټه: ٢٠١٨/٢/١٦). [د لاسرسي نېټه: ٢٠١٨/١٢/٢۴].

٧. د برېښنا د اخیستلو او خرڅولو د موافقې په اساس د کاسا زر پروژې له برېښنا څخه گټه اخیستنه په دوو برخو ویشل شوې ده......، https://avapress.com/fa/article، (د خپریدو نېټه: ٢٠١٨/١١/١). [د لاسرسي نېټه: ٢٠١٩/١/١٢].

٨. په مجموعي توگه په کاسا زر پروژه کې ١,٢ میلیارده امریکایي ډالره پانگونه کیږي چې په هغه کې د هر هیواد ونډه...، http//.prod.tolonews.com/pa/business ، (د خپریدو نېټه:٢٠١٨/٨/١۵). [د لاسرسي نېټه: ٢٠١٩/٢/۵].

٩. د کاسا زر پروژې صادرونکي او واردونکي هیوادونه...، http//mew.gov.af/fa/article/61451، (د خپریدو نېټه: ٢٠١٨/١٢/٢۵). [د لاسرسي نېټه: ٢٠١٩/٢/٨].

پوهندوی شاه صنم عمری جبارخیل

# آموزش و پرورش در جامعۀ نوین عثمانی

**خلاصه**

در تاریخ امپراتوری عثمانی، دوره ای را تنظیمات، یا عصر اصلاحات جدید، نام نهاده اند که تحول عمده ای جهت جایگزین کردن نهاد های قدیمی با نهاد هایی جدید و بعضاً الگو گرفته از غرب در آن صورت گرفت و تحول عمده ای در امر آموزش و پرورش و گسترش مؤسسات آموزشی در آن روزگار به وقوع پیوست. پیشرفت مدارس به عنوان نهاد های آموزشی و علمی عثمانی ها به طور کلی به عنوان نهاد های حیات علمی و فرهنگی متاثر از اقتدار یک  دولت مرکزی نیرومند بود و ثبات سیاسی و رفاه اقتصادی که  دولت در جامعه بوجود آورده بود موجب تشویق برجسته ترین عالمان اروپایی برای آمدن به استانبول و فعالیت  آنها شده بود.

**مقدمه**

سلاطین عثمانی در تأسیس و راه اندازی دارالفنون از خود علاقه نشان می دادند. عصر اصلاحات جدید عثمانی در آخرین دهۀ سلطنت سلطان محمود دوم (۱۲۵۵ ق/ ۱۸۳۹- ۱۸۰۸ م) آغاز شد. همان  بود که وی شالودۀ اصلاحات دوران بعدی را بنا نهاد. اصلاحات مورد نظر وی طی دورۀ تنظیمات ادامه یافت و یک بخشی از محدودۀ آنها نیز تکمیل شد. این دوره مصادف با سال های سلطنت پسران محمود، یعنی عبدالمجید اول (۱۲۷۸-۱۲۵۵ق/ ۱۸۶۱-۱۸۳۹م) و عبدالعزیز (۱۲۹۳ – ۱۲۷۸ ق/ ۱۸۷٦-۱۸٦۱م) بود. برنامه های اصلاحاتی این دوره را دستگاه دیوانی اصلاح طلب مردان تنظیمات تحت رهبری سیاستمدارانی چون مصطفی رشید پاشا، عالی پاشا فؤاد پاشا عملی کردند. که دارالفنون عثمانی کاملاً تجدید سازمان یافت و بازگشایی شد.

**مبریت**

تحقیق در هر حوزۀ علمی در خور ستایش است اما از آنجا که دولت عثمانی یک دولت، مقتدر بود، بدون شک در ازمنه های مختلف دستخوش تغییرات گردیده است که در امر آموزش و پرورش بی تاثیر نبوده است.

**هدف تحقیق:**هدف این پژوهش دستیابی و نمایاندن پیشرفت های تمدن و چگونگی توجه و استفاده مردم و کشور عثمانی به خصوص از معارف جدید است که در نهایت منجر به ایجاد مدرسه، دارالفنون و تأسیس دانشگاه ها به سبک دانشگاه های اروپا در کشور عثمانی شد.

**روش تحقیق**

در نگارش این مقاله از روش کتابخانه یی استفاده شده و تلاش صورت گرفته تا از منابع خوبتری استفاده به عمل آید. البته از مقالات و نتایج تحقیقات محققین نیز استفاده شده است.

مدرسه های عثمانی شامل پنج مدرسه مقدماتی و چهار مدرسه حرفه یی بود. این مدارس و برنامه های آن به گونه ای ترتیب یافته بود که مکمل یکدیگر بودند. طول تحصیلات چهارده سال بود. پس از هفت یا هشت سال دانشجویان به بخش های گوناگونی تقسیم می شدند. هرگاه دانشجویی مدرسه مقدماتی را به پایان می رساند، شایسته ورود به ارتش و نیل به درجه سپاهی بود و جزء نیرو های ذخیره به حساب می آید.

با این همه، مدرسه های دیگری که در دوره های بعد جایگزین مدرسه اندرون شد، «هرگز نتوانست فارغ التحصیلان زبده ای، همانند تحصیل کرده های مدرسه اندرون، به امپراتوری عثمانی تحویل دهد. همین موضوع یکی از دلایل عمده کاهش بنیۀ اداری کشور به حساب می آمد.»(٦:٣٣١)

در نتیجه، تجربیات برخی از فرزانه گان جامعه عثمانی در قرن هجدهم و نوزدهم موجی از افکار تازه و متجددانه را در سراسر آن کشور گسترده ساخت. نو اندیشان عثمانی به این نتیجه رسیده بودند که این امپراتوری تنها با توجه به فرهنگ و نظام غرب می تواند در صحنه های گوناگون رقابت های بین المللی توان لازم را از خود بروز دهد. در راستای همین تحول، کار های حکومتی از دست فارغ التحصیلان

مدرسه اندرون بیرون آمد و خود مدرسه نیز بسته شد. از سازمان مدارس قدیم، تنها مدرسهٔ غلاته سرای بر جای ماند که از آن پس به آموزش پزشکی جدید، زبان فرانسه و لاتین، جغرافیا و هیأت نوین اختصاص یافت. گروهی از استادان فرانسوی در سازماندهی جدید این مدرسه مسؤولان عثمانی را یاری مؤثر رساندند. سر انجام مدرسه اندرون، که اکنون واقعیت آن به خاطرهٔ تاریخ سپرده شده بود، در سال ۱۹۲٤ م به موزهٔ آثار ملی تبدیل گشت. توجه به روش گزینش دانشجویان و شیوه های آموزشی مدرسه اندرون روشن می سازد که این مدرسه و نظام آموزشی آن موجب شد همواره افرادی از پایین ترین طبقات اجتماع به بالاترین مقامات امپراتوری عثمانی دست یابند. «با انحلال مدرسه اندرون و سازمان آموزشی کهنه، افق های گسترده ای از فرهنگ بشری در برابر مردم و حکومت عثمانی گسترده گشت و زمینهٔ بزرگترین تحولات بنیادی در آن کشور فراهم آمد .»(۱:٦٦)

## آموزش و پرورش در جامعهٔ جدید عثمانی

اساس جامعهٔ جدید عثمانی نظام آموزش و پرورش همگانی بود. این نظام توانست افکار و احساسات را از محدودیت های تحمیل شدهٔ نظام قدیم برهاند. مکتب ها، که پایگاه اقتدار علما محسوب می شدند و هنوز علوم قدیم را به روش های سنتی تدریسی می کردند، همچنان به آموزش های مقدماتی مسلمانان اختصاص داشت. فارغ التحصیلان این مکتب ها برای آموزش در دوره های فنی جدید هیچ آماده گی نداشتند. راه حل این بود که نظام آموزش ابتدایی پی ریزی شود، اما حتی مردان تنظیمات می دانستند که این امر باید با احتیاط انجام شود تا مبادا آشکارا خشم علما را علیه حکومت بر انگیزد. بنابر این، اهداف و مشکلات آموزشی تنظیمات حتی پیش از سال ۱۲۵۵ ق/ ۱۸۳۹ م قابل توجه بود. رفته رفته وزارتخانهٔ کاملی به نام معارف عمومی (معارف عمومی نظارتی) مسؤولیت کامل نظام آموزش و پرورش را در سال ۱۲۸۳ ق/ ۱۸٦٦ م بر عهده گرفت.

مدرسه ای غیر مذهبی آموزش علوم نظامی خود را در آغاز سال ۱۲۷۲ ق/ ۱۸۵۵ م گسترش داد. مدارس رشدیه در (۹) محلهٔ در استانبول و حومه های آن و در بسیاری جا های دیگر امپراتوری تأسیس شد. در حالی که مدارس اعدادیه (متوسطه) در

سرایه و، ارزروم و بغداد تأسیس شد تا به عنوان مدارس متوسطۀ جدید دانش آموزان را پیش از ورود به مدرسه علوم نظامی آموزش دهد. با گذشت زمان، در هر یک از ولایات عثمانی لا اقل یک مدرسه اعدادیه و شماری مدارس رشدیه در نواحی گسترش یابد، آموزش های غیر وابسته به علوم دینی را در اختیار مردم قرار می دادند. پس از جنگ کریمه، نظام مدارس نظامی و همچنین نظام مدارس غیر نظامی و غیر مذهبی بسرعت گسترش یافت. ارتش گسترش آموزش های غیر دینی در سطح ابتدایی را بر عهده گرفت. این وظیفه ای بود که ارتش آن را به مدارس رشدیه وانهاد. ارتش مدارس اعدادیه را به مدارس دوره میانی (دورۀ میانی تحصیلات متوسط و ابتدایی) و مدرسۀ حربیه را به سطح مدرسۀ متوسطه وارد کرد. سپس، یک مدرسۀ جدید پیشرفتۀ علوم نظامی، مدرسۀ ستاد کل (ارکان حربیه مکتبی)، را در رأس نظام آموزشی خود قرار داد. وزارت آموزش و پرورش از سوی افکار عمومی برای به رسمیت شناختن مکتب های مسلمانان به عنوان مدارس ابتدایی تحت فشار بود. با این حال، هر چه بیشتر به تأسیس مدارس غیر دینی خود، به نام مدارس (کودکان)، یا ابتدایی اقدام کرد. این وزارتخانه انجمن های محلی در هر شهر و روستا و هر محله از شهر های بزرگ را ملزم ساخت تا با اعطای کمک های مالی و نظارتی خود بر حفظ این مدارس همت گمارند. دانش آموزان مسلمان و غیر مسلمان هر دو برای دوره های چهار سالۀ تحصیل پذیرفته می شدند. علاوه بر علوم دینی، که به دانش آموزان مذاهب گوناگون تدریس می شد، علوم دیگری، از قبیل حساب، تاریخ عثمانی و جغرافیا، نیز تدریس می شد. به دانش آموزان غیر مسلمان در صورت لزوم به زبان های خود آنان آموزش داده می شد.

به تدریج، در روستای که لا اقل ۵۰۰ خانوار جمعیت داشت، تأسیس مدرسۀ رشدیه الزامی شد. در شهر ها مقرر شد که برای هر ۵۰۰ خانواده یک مدرسۀ رشدیه تأسیس شود و در مناطقی که جمعیت ترکیبی از مذاهب و ملیت های گوناگون بود، برای دختران، مسلمانان و غیر مسلمانان مدارس جداگانه ای در نظر گرفته شد. دورۀ مدارس چهار سال بود و سواد درسی تعلیمات دینی (مطابق با ادیان دانش آموزان)، زبان های عثمانی، عربی و فارسی، حساب و حسابداری، هندسه و ریاضیات، تاریخ عثمانی و تاریخ جهان جغرافیا بود. در مدارس مهم ترین زبان محلی منطقه ای که

|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | میلیارد متر مکعب | توله سلنه | میلیارد متر مکعب | دشته اوبو سلنه | کیلومترمربع په زر | توله سلنه | میلیون | متر مکعب په کال کې |
| آمو | ۲۲ | ۳۹ | ۵.۳ | ۲۴ | ۹۱.۵ | ۱۴ | ۳.۴ | ٦۴۷۰ |
| هریرود مرغاب | ۳.۰۴ | ۵ | ۱.۳ | ۴۲ | ۷۸.۴ | ۱۲ | ۲.۱ | ۱۴۵۷ |
| هلمند | ۹.۳ | ۱٦ | ۵.۴ | ۵۸ | ۲٦۴۹ | ۴۱ | ۷.۱ | ۱۳۱۰ |
| کابل | ۲۰.۷٦ | ۳٦ | ۵.۲ | ۲۴ | ۷۷.۷ | ۱۲ | ۸.۹ | ۲۳۳۳ |
| شمالي | ۱.۸۸ | ۳ | ۱.۸۸ | ۱۰۰ | ۷۱.۷ | ۱۱ | ۳.۳ | ۵۷۰ |
| تړلې حوزه | | | ٦۷.۹ | ۱۰ | ۰.۲ | | | |

د اوبو د کمښت ستونزه ورځ تربلې مخ په زیاتیدو ده، ان تردې چې دا ویره شته چې د لویو وچو ترمنځ د تیرو تاریخي دښمنیو او شخړو د بیا را تازه کیدو لامل وګرځي. اوس د اوبو کمښت نړۍ اندیښمنه کړې، د نړۍ کابو پنځمه برخه وګړي د پاکو او خوړو اوبو له ستونزې سره مخ دي، راتلونکې جګړې به د اوبو د سرچینو پرسر وي، د نړۍ له 263 سیندونو له ډلې څخه 200 سیندونه دې ته اړتیا لري، چې په اړه یې جوړجاړی اوهمکارۍ رامنځته شي اوځینې یې شخړې رامنځته کولای شي، چې په دې برخه کې د افغانستان سیندونه هم شامل دي، چې کړکیچ رامنځته کوي او سیاسي ناامني او شخړې پراخوي.(Http: www.bbc.co.uk)

**2- د استوګنځیو ترمنځ د اختلافونو زیاتوالی:** د اوبو پرسر د استوګنځیو ترمنځ شخړې بل لامل دی، چې د هیواد پرملي امنیت ناوړه اغېزه کوي. د افغانستان په ځير په وچه کې راګیر هیوادونه چې ازادو اوبوته لار نه لري او د لږ لنده بل، وچې هوا او لږ اورښت پربنسټ د زیاتو بدلونونو سره مخ دی، نو له همدې امله اوبیزې سرچینې یې تل یوه ننګوونکې پیښه ګڼل شوي، په داسې حال کې چې په هیواد کې د وګړو تیتیدنه، فعالیتونه، د ونو زیستي او حیواني سرچینې او په ښارونو کې یې میشت کیدنه د اورښت او اوبیزو سرچینو پورې اړه لري. پخوانی او اوسنی ډېری شخړې یې په ښارې او کلیوالي ټولنو او په ځانګړي ډول په لږ اوبه لرونکو سیمو کې له اوبو څخه راټوکیدلې، چې د ملي امنیت او ملي یووالي پر وړاندې یې ناوړه پایلې رامنځته کړي. د افغانستان د سیاست ګذارۍ او بشري ودې مرکز په یوه څېړنه کې خبرداری ورکړی، چې په هیواد کې د اوبو پرسر شخړې او لانجې د زیاتیدوپه حال کې دي، نوموړې څېړنیزمرکز زیاته کړې، که په افغانستان کې د اوبوتنظیم اومدیریت ته ځانګړې پاملرنه ونه شي، نو وچکالې او بیوزلې به پراختیا وکړي او د زیاتو امنیتي شخړو د رامنځته کیدو زمینه به برابره کړي.(Http: www.bbc.co.uk)

پرهمدې بنسټ د تیروکلونو راهیسې په هیوادکې دکورنیو او بیلابیلو ټولنو ترمنځ د اوبو د ویش پرسرکړکیچونه زیات شوي، چې د هیواد ملي امنیت یې له ګواښ سره مخ کړی او نا امني یې پراخه کړې ده، دا موضوع په لاندې جدول کې ښودل شوې ده.

(۳) جدول: لاندې جدول د کورنیو او ټولنو ترمنځ د اوبو پرسر شخړې را ښیې. (٦: ۱۱۰)

| ولایت | د اوبو اوځمکې پرسر د کورنیو ترمنځ اختلاف په سلنه ٪ | د محلي ټولنو د ځمکې او اوبو پرسر اختلاف په سلنه ٪ |
|---|---|---|
| باغیس | 2 | 6 |
| هرات | 216 | 6 |
| کابل | 2 | 4 |
| کندهار | 17 | 19 |
| ننگرهار | 9 | 9 |

څرنگه چې د هیواد د زیاتره وگړو اصلي دنده کرنه ده، هغه څېز چې په دې برخه کې ډېر زیات اوریدل کېږي هغه د بزگرانو ترمنځ د اوبو پرسر اختلافات اوشخړې دي، چې اوس مهال دا مسئله ډېره پیچلې شوې اوهره ورځ د اوبو پرسر د جگړو خبرونه اوریدل کېږي، چې دا کار پخپله په امنیتي حوزه کې ریښتني گواښونه رامنځته کوي. د امریکا د بهرنیو چارو پخواني وزیر هیلاري کلینتون په 2012م کال کې څرگنده کړې چې: دا ډول گواښونه واقعي دي او د ملي امنیت په حوزه کې ډېرى شخړې رامنځته کوي. د نظامي چارو کارپوه تامپسون په نظر په نړۍ کې دخوړو اوبو دکموالي پربنسټ اوبیزې سرچینې د راتلونکو شخړو اصلي کانون (مرکز)کېل کېږي. په همدې ترتیب د اکسفام مؤسسې د څېړنو پایلې په گوته کوي، چې په افغانستان کې د وگړو ترمنځ 43 سلنه ځایي شخړې د اوبو پرسر راپورته شوې دي.(۷: ۲۰۱)

**3 - په جغرافیایي فضاکې د اوبو نا برابر ویش:** د اوبیزو سرچینو نابرابر ویش بله ستونزه ده، چې د هیواد پر ملي امنیت ناوړه اغېزه کوي، د افغانستان د اوبو سرچینې له زماني او مکاني پلوه له نا برابر وضعیت څخه پیروي کوي. په هیواد کې د واورې او باران اوریدل یو نواخت نه دي، بلکې د اورښت اندازه د هیواد په ختیځ، سهیل ختیځ، شمال او مرکزکې په نسبي ډول زیاته ده، تردې چې په ځینو ځایونو لکه شمالي سالنگ کې 1348 ملي مترو ته رسیږي، مگر ددې برعکس په ځینو برخو لکه فراه او زرنج کې د اورښت کلنۍ اندازه له 100 ملي مترو هم لږه ده. زمونږ هیواد زیاتره جوي

اوربښتونه (واوره او باران) دکال په سوړ موسم کې ترلاسه کوي، دا هغه مهال وي چې د تودوخې ټیټه درجه د وښو په ودې او نمو قادره نه وي، چې په پایله کې د اوبو ستره اندازه پرته له دې چې ګټه ترې واخیستل شي، د بزګرانو له ګوتو وځي، چې بیا ورپسې موسم وچ وي او د اوبو سرچینې یې لږې اندازې ته رسیږي، دا کار پخپله د اوبو پرسر شخړو او کړکیچونو ته زمینه برابروي او ملي امنیت زیانمن کوي، په داسې حال کې چې د کرنیز موسم په پیل کیدو سره، جوي اوربښتونه قطع کیږي او ګڼ شمېر بزګران د اوبو د کمښت له امله د ډیرى ستونزو سره مخامخ کیږي، د پسرلي او اوړي په موسمونو کې د هوا په ګرمیدو او د واورو په ویلي کیدو سره د سیندونو د اوبو حجم زیاتیږي او سیلابي بڼه غوره کوي، د سیلابونو رامنځته کیدل د چاپیریالي، اقتصادي او ټولنیز امنیت د ویجاړیدو لامل ګرځي.(٦: ١٠٦)

همدارنګه په هیواد کې 89 سلنه اوربښت په هغو سیمو کې صورت نیسي، چې د سمندر له سطحې څخه 2500 متره لوړوالی ولري او د هیواد څلورمه برخه پراخوالی په برکې نیسي. د اوربښت دا نامناسبه مکاني توزیع د ټول هیواد په کچه یو ډول نه ده، بلکې په مختلفو سیموکې د سیمه ییزو خنډونو( بادونو او ارتفاعاتو د لوړیو) د شتون پربنسټ دا ناانډولي هم لیدل کیږي، د بیلګې په توګه په غریبزو سیمو کې چې د غرونو لړۍ یې د باران لرونکو بادونو پر وړاندې ځای لري، په بادرو لمنو کې یې د اوربښت کچه د مخالف جهت په پرتله څو ځله زیاته ده، لکه څرنګه چې د هندوکش او بابا په غریبزو سیمو کې چې لمنې یې د شمالي (سابیریا) لنده بل لرونکو بادونو پر وړاندې موازې پرتې دي، نو د شمالي لمنو د اوربښت کچه یې څو ځله د سهیلې لمنو په پرتله زیاته ده، ځکه چې لنده بل لرونکې بادونه د لوړو سره د ټکر په پایله کې د خپل لنده بل زیاته برخه په شمالي لمنوکې د اوربښت په بڼه راورووي او کله چې سهیلې لمنو ته رسیږي د لنده بل زیاته برخه یې دلاسه ورکړې وي او وچ پاتې شوې وي، چې د هوا د نزولي جریان په وسیله د اوربښت وړتیا هم دلاسه ورکوي او کموالی مومي.(٧: ٢٠٣)

پرهمدې بنسټ د اوربښت د نابرابر ویش له امله د هیواد اوبه په نابرابر ډول په پنځو اصلي حوزو ویشل شوې، څېړنې په ګوته کوي، چې د امو حوزه د هریرود، مرغاب او ترلو حوزو په شمول د هیواد 37 سلنه پراخوالی په بر کې نیسي او د اوبو 60 سلنه

جریان لري، په داسې حال کې چې د هلمند سیند حوزه 39 سلنه ساحه د خپل پوښښ لاندې نیسي، مګر 11 سلنه د اوبو جریان لري. همدارنګه د کابل سیند حوزه 12 سلنه ساحه د خپل پوښښ لاندې راولي او 26 سلنه د اوبو جریان لري، دا په حقیقت کې د اورښت نا برابر ویش په ګوته کوي، چې د اوبو پرسرچینو او اوبه اخیستونکو حوزو ناوړه اغېزه کوي او ملي امنیت زیانمن کوي.(٦: ١٠٦)

**4- د هیواد له پولو څخه د سطحې اوبو وتل:** د هیواد له پولو څخه د سطحې اوبه وتل بل لامل دی، چې د هیواد پرملي امنیت ناوړه اغېزه کوي. سره له دې چې مونږ په داسې یو هیواد کې ژوندکوو، چې د وچ اقلیم لرونکی دی او زیاتو اوبو ته اړتیا لرو، مګر دا ارزښتمنه اونه راګرځېدونکې شتمنې دهر ډول ګټې اخیستنې پرته د سوځونکو دښتو، وچو او شاړو ځمکو څخه په وړیا ډول تیریږي او د هیواد له پولو وځي، چې په هره ثانیه کې 1000 متر مکعب خوږې او قیمتي اوبه دلاسه ورکوو او د ګاونډیانو په اختیارکې یې ورکوو، خو هرکال ددې سرچینو د ابخیزۍ او سیلابونو له امله ډېرى ویجاړۍ او ویرانۍ د هیوادوالو په برخه کېږي او دا طبیعي شمتنې د هیوادوالو د رنځ نه دوا کېږي. افغانستان چې د سوېلې آسیا او منځنۍ آسیا ترمنځ پروت دی، د نړۍ د بلې هرې سیمې په پرتله په راتلونکي کې دلته د اوبو پر سر د شخړو زیاته شونتیا لیدل کېږي. په دې سیمه کې د منځنۍ آسیا د هېوادونو ترمنځ د اوبو پرسر شخړې، د افغانستان او منځنۍ آسیا هېوادونو اوپه تېره بیا له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د اوبو پرسر شخړې اوهمدارنګه له ایران او پاکستان سره د اوبو پرسر د شخړو زیاته شونتیا لیدل کېږي، چې دا پخپله وار سره پرملي امنیت ناوړه اغېزه کوي او د نا امنۍ لمن پراخوي، که چیرې دا وضعه په همدې منوال دوام وکړي په راتلونکې کې به د ډېرى ټولنیزو، اقتصادي او امنیتي ګواښونو شاهدان واوسو.

د چاپیریال ساتنې ادراې د څېړنو پربنسټ ویل کېږي، چې د هیواد خاوره او اسمان د اوبو او وچکالۍ د کړکیچ سره مخ دی، په داسې حال کې چې د وګړو د ژوندانه زیاته برخه د اوبو پورې تړلې ده، که په هیوادکې د اوبو سرچینې په درست ډول مدیریت نه شي، نو پایله به یې کډوالي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیز کړکیچونه وي.

**5- د اوبو ککړتیا:** د اوبو ککړتیا بل لامل دی، چې په هیواد کې د نا امنۍ په رامنځته کولو کې اغېزمن رول تر سره کوي. په هیوادکې په غیرفني ډول دښاري فاضلابونو او صنعتي چټلیو دفع کول د اوبو سرچینې ککړوي. د ملگرو ملتونو سازمان د راپور له مخې د اوبو نړیوال لگښت په وروستیو 50 کلونوکې درې برابره زیات شوی، چې ورسره جوښت د اوبو ککړتیا هم زیاته شوې ده. همدا اوس د نړۍ 2.5 میلیارد وگړي په کال کې یوه میاشت د اوبو له کمښت سره مخ وي، چې په ټوله کې 2.5 میلیارد وگړي غیر روغتیایي اوبو ته د لاس رسي په خاطر په ډول ډول ناروغیو اخته کېږي، چې له دې څخه 2 میلیون تنه هرکال خپل ژوند دلاسه هم ورکوي. همدارنگه په 2003م کال کې د ټول هیواد په کچه 23 سلنه وگړو پاکو اوبو ته لاس رسی درلود، په داسې حال په 2011م کال کې دهیواد 57 سلنه جمعیت دڅښاک پاکو اوبو ته لاس رسی درلود. د افغانستان د 2014م کال دښاري بیوزلۍ په یوه څېړنیز راپور کې راغلي دي، چې د پایپ لین اوبو ته د وگړو لاس رسی په کندهارکې 5 سلنه، مزار شریف کې31 سلنه، کابل کې 34 سلنه، جلال اباد کې 38سلنه او هرات 50 کې سلنه وو، پرهمدې بنسټ په هیوادکې دمړینې کچه لوړه ده، چې ستر لامل یې د ککړو اوبو څخه گټه اخیستنه گڼل شوې ده. (۷: ۲۰۵)

هغه څېړنې چې د اوبو د ککړتیا په اړه ترسره شوې، څرگنده شوې، چې دکابل ښار (80 ـ 90) سلنه ترځمکې سطحې لاندې اوبه ککړې شوې دي. همدارنگه د بي بي سي د یوه ټیم له خوا دکابل ښار په هغو سیموکې چې اوبه یې پاکې گڼل کیدې ازمایل شوي، چې په (100) سي سي اوبو کې یې گڼې بکتریاوې تثبیت شوې، چې دا د اندیښنې وړخبره ده. د نړیوال روغتیایي سازمان د نورم له مخې په (100) سي سي اوبو کې باید هیڅ ډول بکتریاوې شتون ونه لري او له دې ډول اوبو څخه گټه اخیستنه په انسان کې د معدې ټپ، اسهال، محرقه، تور زیړی او ځینې نورې مرگونې ناروغۍ رامنځته کوي. چې دا ټول په راتلونکې کې پر ملي امنیت ناوړه اغېزه کوي او کړکیچ پراخوي.(۹: ۱۸۴)

6- **د اوبیزو سرچینو زیات تبخیر:** د اوبیزو سرچینو زیات تبخیر بله ستونزه ده، چې د هیواد پرملي امنیت ناوړه اغېزه کوي، د هیواد زیاته برخه د وچې او دښتي اب وهوا لرونکې ده، نو له همدې امله د تبخیر ضریب یې لوړ دی او له ۵۰ سلنې زیات جوي

اورښتونه يې په مختلفو بڼو بيرته فضا ته منعکس کېږي او زمونږ د لاسونو وځي، نو پرهمدې بنسټ د ابیارۍ د نويو ميتودونو او الاتو څخه د هيواد د اقليم مطابق ګټه اخيستنه يوه مبرمه اړتيا ده. د تبخير د درجې زياتوالی د اوبو د کمښت مسئله نوره هم پيچيلې کوي، چې په سيمه ييزه اوملي کچه د شخړو په رامنځته کيدو کې مهم رول ترسره کوي او ملي امنيت زيانمن کوي او سوله ييز ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي.

(۴) جدول: لاندې جدول د هيوا په مختلفو سيموکې د تبخير او تعرق پوټانشيل راپيژني. (٦: ۱۱۲)

| ستیشن نوم | اورښت | تبخیراو تعرق | ورځنی تبخیر اوتعرق | | | تودوخې درجه | باد | لګېدو زاویه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | منځنی اندازه | توله | منځنی اندازه | په میاشت کې زیاته اندازه | میاشت کې لږه اندازه | منځنی اندازه | سرعت | منځنی اندازه |
| | mm | mm | mm | mm | mm | سانتي ګرید | m/s | نسبت |
| بست | ۷,۹۲ | ۱۵۸۵ | ۴۰,۴ | ۹۰,۷ | ۲۰,۱ | ۵,۱۹ | ۸,۱ | ۷۳,۰ |
| فیض اباد | ۳,۵۰۱ | ۹۲۵ | ۲,۵۷ | ٦.۰۷ | ۰.۲۷ | ۱۳,۲ | ۰,۹ | ۰,۵۴ |
| فراه | ۹۰,۱ | ۱۴٦۸ | ۴,۰۸ | ۸,۲۷ | ۰,۹۰ | ۱۹,۷ | ۱,۴ | ۰,۷۴ |
| غزنی | ۲۸۴۸ | ۱۳۵۹ | ۳,۷۸ | ۷,۵۷ | ۰,۵۷ | ۹,۵ | ۳,۱ | ۰,۷۳ |

| لعل | کندوز | خوست | میدان هوايي کندهار | میدان هوایی کابل | جلال اباد | جبل السراج | هرات | غلمین |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲۷,۴ | ۳۳٦ | ۴۴۹,۹ | ۱٦۱,۴ | ۳۱٦,۰ | ۱۷۱,۲ | ۵٦۴,۲ | ۲۲۲,۵ | ۲۱۹,۹ |
| ٦۹۵ | ۱۲۸۵ | ۱۲۰۵ | ۱٦,۴۴ | ۱۱۷۳ | ۱۲۷۴ | ۱۴۰۹ | ۱۷۳۷ | ۹۰۵ |
| ۱,۹۳ | ۳,۵۷ | ۳,۳۵ | ۴,۵۷ | ۳,۲٦ | ۳,۵۴ | ۳,۹۱ | ۴,۸۳ | ۲,۵۱ |
| ۴,۳۳ | ۸,۱۳ | ٦,۳۷ | ۸,۲۷ | ۷,۵۷ | ٦,۸ | ۸,۴۰ | ۱۱,۰۳ | ٦ |
| ۰,۲۰ | ۰,۴۳ | ۰,۹۳ | ۱,۳۰ | ۰,۴۳ | ۰,۷۰ | ۰,٦۷ | ۰,۸۷ | ۰,۳۷ |
| ۲,۹ | ۱٦,۵ | ۱۷ | ۱۹ | ۱۲,۵ | ۲۱,۵ | ۱۵ | ۱٦,۳ | ۷۸ |
| ۱,۲ | ۱,۸ | ۱,۷ | ۲,۱ | ۱,۷ | ۱ | ۲,۵ | ۲,۹ | ۱,۴ |
| ۰,٦۹ | ۰,۵۸ | ۰,٦۷ | ۰,۷۸ | ۰,۷۰ | ۰,٦۸ | ۰,٦۹ | ۰,٦۲ | ۰,٦۲ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مزار شریف | ۱۸۹,۱ | ۱۳۷۶ | ۳,۸۳ | ۸,۴۷ | ۰,۵۷ | ۱۸ | ۲,۲ | ۰,۵۹ |
| میمنه | ۳۵۳,۶ | ۱۲۰۲ | ۳,۳۴ | ۷,۲۰ | ۰,۶۰ | ۱۴,۴ | ۱,۹ | ۰,۶۲ |
| قادیس | ۳۴۴۸ | ۱۰۹۰ | ۳,۰۳ | ۶,۱۰ | ۱,۰۳ | ۱۲,۱ | ۱,۹ | ۰,۶۲ |
| شبرغان | ۲۳۱ | ۱۳۶۴ | ۳,۷۹ | ۷,۹۰ | ۰,۷۳ | ۱۶,۴ | ۲,۲ | ۰,۶۰ |

**7- د ځمکې لاندې اوبو د سطحې ټیټوالی:** د ځمکې لاندې اوبو د سطحې ټیټوالی بله ستونزه ده، چې په هیواد کې امنیتي ستونزې رامنځته کوي. افغانستان د ځمکې سطحې لاندې اوبو له پلوه فقیر هیواد دی اوبلن پوړونه یې ډېرې لږې اوبه لري، چې د ځمکې سطحې لاندې اوبو د تغذیې د نامناسبو شرایطو پورې اړه لري، لږ او نامنظم اورښت او د سطحې اوبو شدید تبخیر د ځمکې سطحې لاندې اوبو د کمزورې تشکیل لاملونه ګڼل کېږي. د څېړونکو او په ځانګړي ډول د ورستر او سلشتر په اند د هیواد د ځمکې سطحې لاندې اوبو ټول حجم یو میلیون متر مکعب ته رسیږي، چې زیاته برخه یې د کابل په حوزه، د هندوکش شمالي سیمو، سهیل او سهیل لویدیځو برخو کې ځای پرځای شوې ده. (۳: ۱۰۵)

څېړنې په ګوته کوي، چې په هیوادکې دځمکې لاندې اوبو سطحه له (۱۹۸۲م) کال څخه تر (۲۰۰٦م) کال پورې په اصغري ډول یو متر، په اعظمي ډول ۱۰ متره او په منځني ډول ۵ متره ښکته تللې ده. پخوا داسې اټکل کیده، چې د کابل ښار په یوه ثانیه کې باالقوه د استخراجي اعظمي پوتنشیل وړتیا (۵،٦۳) متر مکعب وه، پردې مهال د اړتیا وړ اوبه د کابل د دوه میلیون ښاریانو (۱۹۸۴ کال راپور) لپاره په یوه ثانیه کې د (٦،۲) متر مکعب په شاوخوا کې ( د هغه مهال منل شوی نورم یوه تن

لپاره په یوه شپه او ورځ کې ۲۵۰ لیتره) اټکل شوې وي، چې د همغه مهال موجوده پوټنشیل ته په کتو سره په یوه ثانیه کې (۰٫۵۷) متر مکعب کمښت په ګوته کوي. د ځینو راپورونو له مخې داسې اټکل کېږي چې تر (۲۰۳۰م) کال پورې به د کابل ښار نفوس ۷ میلیون تنو ته لوړ شي او د اوبو اړتیا به د ښاري اړتیاؤ د لیرې کولو لپاره په یوه ثانیه کې ۱۰ متره مکعب وي، چې د یوه تن د یوې شپې او ورځې د ۱۲۰ لیتره نورم په نظر کې نیولو سره چې د ۵۰ سلنې په شاوخوا کې پخوانی نورم و، منل شوی دی.(۱۱ : ۷)

همدارنګه هغه څېړنې چې په دې وروستیو کلونو کې ترسره شوې، د هیواد په زیاترو برخوکې د ځمکې لاندې اوبو سطحه ټیټه شوې. د هغو څېړنو پربنسټ چې په (1977- 2012م) کلونو کې د (W.S.U) د بنسټ له خوا د هیواد په شمالي او نورو برخو کې ترسره شوې، د هیواد په شمال او په ځانګړي ډول په ختیځو برخو کې د اوبو سطحه شپږ متره او په ځینو ځایونو کې اته متره ښکته تللې ده، چې ستر لامل یې په غیر فني ډول د څاه ګانو کیندل، د شنو سیمو له منځه وړل او د نفوذ وړ پوړونو سمنټ کول ګڼل شوې دي، چې دا پخپله د هیواد پرملي امنیت ناوړه اغېزه کوي او شخړې رامنځته کوي.

**پایله**

د مقالې په پای کې دې نتیجې ته رسیږو، چې اوبیزې سرچینې د هیواد پرملي امنیت له اغېزمنو لاملونو څخه ګڼل کېږي، چې د ملي امنیت په پیاوړتیا او کمزورتیا کې اغېزمن رول ترسره کوي. سره له دې چې افغانستان د اوبو پراخې سرچینې لري، مګر د ملي امنیت د تامین په برخه کې ورڅخه په سم ډول ګټه نه ده ترلاسه شوې، که چېرې د هیواد اوبیزې سرچینې په درست ډول مدیریت او مهار نه شي، نو د اوبیزو سرچینو پرسر کړکیچونه به نور هم پراخ او پیچلې شي. د څېړنې موندنې ښیې چې په هیواد کې د وګړو ترمنځ د اوبو پرسر کړکیچونه او اختلافات د هرې ورځې په تیریدو سره زیاتوالی مومي او د هیواد ملي امنیت زیانمن کوي او د ناامنۍ لمن پراخوي، چې د سرې سر اوبو کمښت او د اوربښت نامنظم ویش داچاره نوره هم پیاوړې کوي. همدارنګه د څېړنې موندنې په ګوته کوي، چې د هیواد له پولو څخه په زیاته کچه د

روانو اوبو وتل او د ګاونډیو هیوادونو پر وړاندې د اوبیزو تړونونو نه شتون د شخړو د رامنځته کیدو شونتیا نوره هم زیاته کړې او په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه یې د هیواد ملي امنیت زیانمن کړی او دکړکیچ د پراخیدو زمینه یې برابره کړې ده. د هیواد د موجوده ناامنیـد لاملونو څخه یو هم اوبیزې سرچینې دي، چې د هیواد پرملي امنیت ناوړه اغېزه کوي.

**وړاندیزونه**

د پورتنۍ لیکنې په اړه لاندې وړاندیزونه ترسره کېږي.

۱- د هیواد اوبیزې سرچینې دې په درست مدیریت او مهار شي او د ملي امنیت د تامین په برخه کې دې ترې په سم ډول ګټه ترلاسه شي.

۲- څرنګه چې په هیواد کې د سړې سر اوبو کمښت مخ په زیاتیدو دی، نو ددې ستونزې د حل په خاطر دې د هیواد په بیلابیلو برخو کې اوبیز بندونه جوړ شي، ترڅو دا ستونزه حل شي.

۳- د هیواد هغه سیمې چې د اوبو د کمښت سره مخ دي، ژر تر ژره دې د اوبو د تنظیم اداري دې ستونزې د حل لارې ولټوي او وګړو ته دې پاکې اوبه برابرې کړي.

**ماخذونه**


1 - اداره منابع، استراتیژي انکشاف ملی افغانستان، سال ۱۳۸۷- ۱۳۹۱ کابل.

2 - بختانی خدمتگار، عبدالرحیم، (۱۳۹۰).اب های جاری افغانستان ومنابع آن.کابل: اکاډمي علوم. تعداد صفحات ۱۷۷.

3 - سلاوین، (۱۹۸۴) ، جیولوجي عمومی با اساسات جیولوجي افغانستان. انتشارات میر مسکو.

4 - عراقي ، سید عباس ، (۱۳۹۳) .دیپلماسی اب از منازعه تا همکاری. فصلنامه علمی – پژوهشی سیاست جهانی، دوره سوم، شماره چهارم، تعداد صفحات ۳۷.

5 - عسکري ، محمود (۱۳۸۱). نسبت نوین منابع آبی و امنیت ملی، فصلنامه مطالعات راهبردی و شماره دوم ، ایران، تعداد صفحات ۴۹.

6- عظیمی، محمد عظیم، (۱۳۹۱). مدخلی برجغرافیای سیاسی افغانستان. کابل: انتشارات خراسان. تعداد صفحات ۴۴۸.

7- عظیمی، محمد عظیم، (۱۳۹۵). در آمدی بر امنیت ملی افغانستان (جغرافیا ومحیط زیست). کابل: نشر نگار.تعداد صفحات ۲٦۲.

8 -علیزاده، جعفر، (۱۳۸۳). هیرمند وتاثیر آن بر روابط سیاسی ایران و افغانستان، پایان نامه کارشناسی ارشد ، دانشگاه تربیت مدرس. تعداد صفحات ۲۷.

9 - یاسین، فرهمند. (۱۳۸۸). بررسی مختصر وضع محیط زیست در شهرکابل. طبیعت، شماره مسلسل (۱۴) ، کابل: اکاډمی علوم.

10- Mollinga,p.p(2001), Water and Politics, rational choie and South Indian canal irrigation, Futures, No 3. P 735.

11- Qureshi, Asad Sarwar, Water Resource Management in Afghanistan the Issues and options, Pakistan. 2002. P 7.

12- Allan, A. (Water Security Policies and Global Systems for Water-scarce Region, World Bank.

13- Water Politics in the Middle East, op.cit, P 21.

نوماند څېړنیار عبدالصبور مبارز

# د افغانستان د مدني قانون له نظره په عقد کې اکراه او تاثیرات یې

**لنډیز**

عقد د ټولنیز ژوند له مهمو اساساتو څخه ګڼل کیږي، ویلی شو چې د انسانانو ټوله راکړه ورکړه په عقد ولاړه ده او عقد بیا د دوه ارادو یا څو ارادو په توافق ولاړ دی، خو شرط دادی چې عقد به د طرفینو په رضایت ترسره شوی وي او له هر ډول عیب څخه به پاک وي. که چېرته د عقد په رضایت کې خلل واقع شي او یا هم رضایت عیبجن شي؛ نو بیا عقد هم درست نه پاتې کیږي او په عقد کې د رضایت د عیبونو له جملې څخه یو هم اکراه ده. یعنې کله چې په یو عقد کې رضایت د یو چا د زور له لارې ترلاسه شي؛ نو دا رضایت درست نه ګڼل کېږي، موږ هم په عقد کې د اکراه اړوند احکام په دې لیکنه کې څېړو.

په دې تحلیلي لیکنه کې د اکراه په تعریف، ډولونو، شرایطو او د اکراه په آثارو بحث شوی دی. اکراه هم په جزایي مسایلو کې راتلای شي او هم په مدني مسایلو کې او په دواړو برخو کې اکراه ددې لامل کیږي چې په ترسره شوو اعمالو باندې خپل اثر وغورځوي. په عقد کې اکراه د عقد د فسخه کېدو لامل کیږي، یعنې کله چې په عقد کې اکراه رامنځ ته شي یعنې یو کس بل کس مجبور کړي چې یو عقد ترسره کړي نو دا عقد د فسخه کېدو وړ دی او په دې باندې اسلامي فقهاء او وضعي قوانین یوه خوله دي او په هم دې موضوع باندې زموږ دا ټوله لیکنه راڅرخي، چې د دې لیکنې له لوستلو وروسته به د اړوندې موضوع په اړه لوستونکي پوره او بشپړ معلومات ولري.

کلیدي کلمې (Key Words): عقد، اکراه، رضایت

**سریزه**

عقد په یوه ټولنه کې د انسانانو د راکړې ـ ورکړې ارتباطي تار دی. که چیرې انسانان په خپلو منځو کې عقدونه ترسره نه کړي؛ نو د ژوند لومړني ضروريات يې نه شي پوره کېدلای. نو په همدې موخه اړینه ده چې عقدونه ترسره کړي. خو د عقد د ترسره کولو پرمهال باید دا په نظر کې ونیسي چې د طرفینو رضایت باید په کامل ډول موجود وي او په هېڅ ډول به د زور له لارې نه وي ترسره شوی. که چیرې یو عقد د زور له لارې ترسره شي نو عقد خپل صحت له لاسه ورکوي او زور لیدونکی شخص کولای شي چې د افغانستان د مدني قانون له نظره د عقد فسخې ته اقدام وکړي. دا چې په کوم ډول اکراه رامنځ ته کېږي؟ او څنګه شخص کولای شي چې عقد فسخه کړي؟ په همدې موخه مو د افغانستان د مدني قانون له نظره په عقد کې د اکراه تاثیراتو او د اکراه په پېژندنه دا څېړنه راځرخولې ده. تر پورتني عنوان لاندې به په دې بحث کې د مدني قانون له نظره د اکراه په پېژندنه، ډولونو او دا چې په عقد به يې تاثير څه وي؟ څېړنه کوو.

**د موضوع اهمیت او مبرمیت**

نن ورځ انسانان دې ته اړتیا لري چې عقدونه ترسره کړي او پرته له عقدونو نه شي کولای ځینې اهم ضروريات رفعه کړي. کله کله داسې کيږي چې یو څوک بل کس د یو عقد په ترسره کولو په زوره سره مجبور کړي چې په دې سره د ټولنې نظم ګډوډيږي. د عقد د صحت لپاره یو شرط د طرفینو رضایت او توافق دی. کله چې د دوی ترمنځ دغه شرط مراعات نه شي، عقد فاسديږي چې په پایله کې د دنیوي زیان او اخروي عذاب سبب ګرځي.

د دې لپاره چې د عقد طرفین؛ د عقد اړوند احکام وپېژني، د دغه موضوع لوستل ورته ډېر اړین دي. په معاملاتو کې د عقد د اکراه اړوند احکام خورا ارزښت لري.

د موضوع موخې

زموږ دا موضوع لاندې اهداف لري:

١. په دې باید پوه شو چې په عقدکې اکراه څه ته ویل کیږي.

٢. په دې باید پوه شو چې که په عقدکې اکراه ترسره شي نو کوم اثرات به منځ ته راوړي.

۳. او تر ټولو اهم هدف يې دادی چې د اکراه اړوند به د افغانستان د مدني قانون په احکامو باندې علم ترلاسه کړو.

## د موضوع د ليکلو کړنلاره

په دې موضوع کې د کتابتوني څېړنې له ډول او د مرکې له مېتود څخه استفاده شوې ده، يعنې لومړی د معتبرو مراجعو څخه په استفادې موضوع را ټوله شوې ده او په ځينو اختلافي موضوعاتو کې له محترمو حقوقپوهانو او استادانو سره مرکې شوي او بيا يې ځواب د متن په شکل ليکل شوی دی.کله چې په دې کې د موضوع اړوند مواد نه دي موندل شوي نو بيا کتابونو، مجلو او انټرنېټي ويبپاڼو ته مراجعه شوې ده. مأخذ د کود گذارۍ په مېتود ليکل شوی دی، يعنې په پای کې د مأخذونو عمومي فهرست ترتيب شوی دی او د همغه مأخذ شماره او د هغه صفحه، د کود په شکل د متن په منځ کې ليکل شوي دي. په پای کې له موضوع نه لاس ته راغلې پايله ليکل شوې ده او په همدې مېتود تر پايه تگ شوی او موضوع تکميل شوې ده.

په عقد کې اکراه

د عقد بنسټ د عقد د طرفينو رضايت جوړوي، نو که دا بنسټ عيب ونه لري، عقد صحيح دی او د آثارو د منځ ته راتلو لامل گرځي، خو کله د عقد د طرفينو په رضايت کې خلل پيداکېږي، عقد معيوبوي او آثار منځ ته نه راځي، د افغانستان د مدني قانون له ليده په عقد کې د رضايت عيبونه په څلورو ډولونو ويشل کيږي چې دا دي: اکراه، غلطي، غبن او دوکه. چې دلته زموږ د بحث موضوع په عقد کې اکراه ده او موږ پر همدې موضوع تفصيلي بحث کوو:

د اکراه تعريف: اکراه په لغت کې مجبورولو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې په ناحقه په داسې کار باندې د يو شخص مجبورول دي چې هغه پرې راضي نه وي.

همدا تعريف د افغانستان مدني قانون هم په ۵۵۱ ماده کې راخيستی دی او وايي: (زور عبارت دی د يو شخص له مجبورولو څخه په ناحقه، د داسې کار په کولو چې ورباندې راضي نه وي، عام له دې چې زور مادي يا معنوي وي.) (۸: ۵۵۱ ماده)

د افغانستان د سوداگريزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون په (۲۸) ماده کې اکراه داسې تعريف شوې ده: (له حق پرته د شخص مجبورول دي د قرارداد د

عقدولو لپاره د هغه ځان، مال يا يې حيثيت ته د باالفعل خطر د اعمالولو يا د سخت او حتمي خطر د گواښ په وسيله او يا د هغه والدينو، اطفالو، مېړه يا ميرمنې، ورور يا خور ته د زيان رسولو په منظور په دې شرط چې گواښول شوی شخص د گواښنې په ترڅ کې په معقولو او منطقي دلايلو سره پر لاندې حالاتو باوري شوی وي:

۱ـ گواښوونکی پر گواښ او د هغه په عملي کولو باندې قادر وي.

۲ـ که چيرې گواښل شوی شخص هغه قرارداد چې عقد ته يې اړ اېستل شوی و، عقد کړی نه وای، گواښ يې په اړه عملي کېده.) (۷: ۲۸ ماده)

دکتور وهبة الزحيلي اکراه په لغت کې داسې تعريفوي: (حمل الغير علي امر لايرضاه قهراً) ژباړه: د يوه شخص مجبورول دي، د قهر په حالت کې په يوه داسې کاربانديې چې دی پرې راضي نه وي.

په اصطلاح کې: (حمل الغير علي ان يفعل مالا يرضاه ولا يختار مبا شرة ) ژباړه: د يوه شخص مجبورول دي د داسې کار په اجراء کولو باندې چې دی پرې ر اضي نه وي او نه د هغه کار ترسره کول غوره کوي. (۴: ۵٦۸ مخ )

د حقوقي اصطلاحاتو قاموس بيا اکراه داسې تعريفوي: (اکراه د غير قانوني مادي او معنوي فشار اچول دي چې يو شخص له رضا او ميل پرته، د جرمي عمل يا مدني تخلف سرته رسولو ته اړ باسي.) (۱: ۲۱ مخ)

اکراه داده چې يو څوک په يو کار باندې مجبور کړای شي، که هغه د عقد په انعقاد وي او يا هم په کوم بل فعل يا قول باندې، دا جبر يا زور به يا جسمي او يا نفسي وي، جسمي اکراه له وهلو ټکولو او وژلو څخه عبارت ده او نفسي اکراه د يوه شخص د بندي کولو، وژلو او يا وهلو له وېرې څخه عبارت ده چې په خپله د شخص ځان ته او يا هم د هغه نږدې خپلوانو ته متوجه وي.(۹: ۳۴ مخ)

له پورتنيو تعريفاتو څخه داسې څرگنديږي چې کله په يو عقد کې د يو شخص اراده، اختيار او رضايت موجود وي نو هغه وخت عقد پرته له اکراه منعقد شوی دی، خو که چيرې يې اراده عېبجنه او رضايت او اختيار يې له منځه لاړ نو بيا اکراه مطرح کېږي. دا چې اراده، اختيار او رضايت څه شی دی، دلته يې په لنډ ډول تعريفوو:

**اراده**: اراده د یو فعل د مجرد سرته رسولو او هغه ته له پام کولو څخه عبارت ده او یا هم د یوه ټاکلي کار په اړه د تصور او د هغه د ګټې تر تصدیق وروسته، د هغه په لوري د نفس حرکت دی.(۱: ۱۱ مخ)

د ارادې په ظاهرولو هغه وخت اثر مرتب کېږي چې مقابل لوری په هغې پوره علم ترلاسه کړي او د ارادې په مفهوم پوه شي، په دې اړه د افغانستان مدني قانون ۵۱۱ ماده وایي: ((د ارادې په ظاهرولو هغه وخت اثرونه مرتب کېږي چې مقابلې خوا وربانديې علم حاصل کړی وي. مقابلې خوا ته د ارادې د ظاهرولو رسيدل د هغې د علم د حاصلېدو قرينه ګڼل کېږي مګر دا چې د هغې په خلاف کوم دليل پيدا وي.)) (۸: ۵۱۱ ماده)

همدرانګه اراده کېدلای شي چې د وينا، ليک يا د اشارو په ذريعه ظاهره شي. په دې اړه د افغانستان مدني قانون ۵۰۹ ماده داسې صراحت لري: ((د ارادې ظاهرول د وينا، ليک يا د داسې اشارو په وسيله چې په عرف کې مروج وي کېږي. همدارنګه د ورکړې راکړې د ارادې ظاهرول چې د یوه عقد په حقيقت باندې په صراحت سره دلالت وکړي صورت نيولی شي.)) (۸: ۵۰۹ ماده)

خو که چیرې اراده د بیهوشۍ یا عقلي اختلال په صورت کې ظاهره شي باطله ګڼل کېږي، په دې اړه د افغانستان مدني قانون ۵۱۳ ماده وایي: ((د ارادې ظاهرول د بیهوشۍ یا د داسې عقلي اختلال په حالت کې چې د مميزې قوې د نشتوالي موجوب وګرځي، که څه هم دا اختلال مؤقتي وي؛ باطل ګڼل کېږي.)) (۸: ۵۱۳ ماده)

**اختيار**: اختيار د يوه عمل د سرته رسولو او يا پرېښودلو له قدرت څخه عبارت دی او يا هم په عقدونو او تصرفاتو کې د رد، قبلولو او ټاکنو کې د شخص د قول او فعل څرګندولو د صلاحيت درلودلو ته ويل کېږي. (۱:۹ مخ)

**رضايت**: رضايت د شخص د ارادې توافق دی چې د هغه شتون د عقدونو د انعقاد لپاره شرط دی.(۱: ۱۸۱ مخ)

امام بزدوي رح د رضا د تعريف په اړه وايي: (الرضاء امتلاء الاختيار أی بلوغه نهايته بحيث يقضی أثره الی الظاهر من ظهور البشاشه في الوجه...) يعنې رضا (خوښه) د

کمال نهايي پړاو ته له رسېدلو څخه عبارت ده چې د هغې اثر په څېره کې خوښي وځليږي يا ښکاره شي.

رضاء، په ميني سره د يو فعل له سرته رسولو سره له ميني او نسبت هغه ته له راحت احساس کولو څخه عبارت ده. مثال: که چيرې يو ځوک د هغه نظام په عسکري خدمت کې شامل شو چې عسکري په کې جبري وي او مالي عوض هم نه ورکوي، داسې شخص په عسکري خدمت کې د شاملېدو اراده لري خو په دې کار کې يې اختيار نه شته، خو که چيرې د عسکرۍ د خدمت په بدل کې عوض قبول شي، نو په دې صورت کې هغه شخص په دې خپل عمل کې مختار دی. يعنې په داسې حالت کې هم اراده لري او هم اختيار لري چې عسکري وکړي او يا يې پريږدي. (۱۱:۱۱۹ مخ)

**د اکراه ډولونه:** د افغانستان مدني قانون اکراه په دوه ډوله تقسيموي، په دې اړه د ياد قانون (۵۵۲) ماده وايي: (( زور په دوه نوعه ده: پوره او ناقص)) (۸: ۵۵۲ ماده)

د افغانستان مدني قانون په (۵۵۳) ماده کې تامه او ناقصه اکراه داسې تعريف شوې ده: ((پوره زور عبارت دی د فاحش بدني يا مالي خطر د تهديدولو څخه. په غير فاحش خطر باندې تهديدولو ته؛ ناقص زور ويل کېږي.)) (۸: ۵۵۳ ماده)

پوره زور رضا له منځه وړي او اختيار فاسدوي. ناقص زور رضا له مينځه وړي خو اختيار نه فاسدوي. (۸: ۵۵۴ ماده)

همدارنګه د افغانستان د مدني قانون د ۵۵۱ مادې له مخې داسې معلوميږي چې د اکراه يو بل تقسيم هم شته چې هغه: مادي اکراه او معنوي اکراه ده، ياده ماده وايي: ((زور عبارت دی د يو شخص د مجبورولو څخه په ناحقه، د داسې کار په کولو چې ورباندې راضي نه وي، عام له دې چې زور مادي وي يا معنوي.)) (۸: ۵۵۱ ماده)

د مدني قانون له پورتنۍ مادې څخه داسې معلوميږي چې اکراه په دوه ډوله مادي اکراه او معنوي اکراه باندې ويشل کېږي چې دواړه دلته لنډ تعريفوو:

لومړی - مادي اکراه: هغه اکراه ده چې په کې فشار عملاً او مادتاً شتون ولري او د انسان، ځان، مال او شتمنۍ ته متوجه وي. (۳:۲۴٦ مخ)

دوهم - معنوي اکراه: هغه اکراه ده چې فشار عملاً او مادتاً شخص ته متوجه وي، خو د انسان جسم، مال او شتمنی ته متوجه نه وي؛ بلکې د هغه حیثیت، وقار او ابرو ته تهدید وي. (۳:۲۷۲ مخ)

**د اکراه د تحقق شرایط**: یوه اساسي پوښتنه چې دلته پیداکېږي؛ هغه داده چې آیا په عقد کې هره اکراه د دې وړ ده چې له امله یې عقد فاسد شي او که نه؟ څه شرایط لري؟ د دې پوښتنې په ځواب کې ویلی شو چې نه؛ هره اکراه د عقد دفسخې لامل نه ګرځي، بلکې یو څه شرایط لري که چیرې دغه شرایط پوره شي؛ نو وروسته له هغې عقد فسخه کېږي او هغه شرایط په لاندې ډول دي:

لومړی شرط - اکراه باید باالفعل موجوده وي. یعنې اکراه باید نه په راتلونکي وخت پورې تړلې وي او نه هم په تېرې زمانې پورې اړونده وي، بلکې بالفعل باید موجوده وي.

دوهم شرط: اکراه باید غیر قانوني وي. په دې معنی چې زور باید د قانون له حکمونو سره په تضاد کې واقع شوی وي او د قانون اجازه د هغه په اړه موجوده نه وي. دا شرط ځکه د یادونې وړ دی چې په ځینو حالاتو کې سره له دې چې په عقد کې رضایت د فشار او اکراه لاندې راغلی وي، خو بیا هم یاده اکراه د رضایت له عیبونو څخه نه ګڼل کیږي، مثلاً: یو پور ورکونکی خپل پوروړي ته ووایي چې باید د یو قرارداد له مخې تعهد وکړي چې خپل پور به په یوې ټاکلې مودې کې اداء کوي، پرته له دې به نوموړی پور ورکونکی د خپل پور د ترلاسه کولو لپاره محکمې ته مراجعه وکړي، سره له دې چې دلته اکراه او زور موجود دی، خو دا ډول اکراه غیرقانوني نه ګڼل کیږي او عقد نه فسخه کیږي. (۲: ٦۸ مخ)

دریم شرط - اکراه باید د عقد مستقیم سبب وي. یعنې د همدې اکراه له امله عقد منعقد شوی وي، یعنې داسې نه وي چې اکراه ترسره شوې وي خو اکراه د دې سبب نه وي ګرځېدلې چې له امله یې عقد منعقد شي، بلکې د عقد په انعقاد یې هیڅ ډول تاثیر نه وي وارد کړی، که چیرې اکراه د عقد مستقیم سبب نه وي، عقد نه فسخه کیږي.

څلورم شرط - د اکراه ترسره کوونکی به د ګواښ پر عملي کولو قادر وي. د اکراه ترسره کوونکی باید د هغه څه په ترسره کولو باندې قدرت ولري چې ګواښ یې کړی دی که

چېرې داسې یو توان او قدرت یې نه درلود او اکراه کېدونکی (مفعول) هم د هغه پر ناتوانی باندې خبر وي، په دې حالت کې اکراه معتبره نه ده. (۱۱۰:٦ مخ)

په دې اړه د مجلة الاحکام (۱۰۰۳) ماده وایي: ((یشترط ان یکون المجبر مقتدرا علی ایقاع تهدیده، بناء علیه من لم یکن مقتدرا علی ایقاع تهدیده و اجرائه لا یعتبر اکراهه)). ژباړه: شرط دی چې مجبر (اکراه کوونکی) د تهدید په اجراء باندې مقتدر وي، بناءً که چیرې یو شخص د تهدید په اجراکولو باندې مقتدر نه وي نو اکراه یې اعتبار نه لري. (۱۰: ۱۰۰۳ ماده)

### د عقد په صحت باندې د اکراه تأثیرات

په دې اړه د افغانستان د مدني قانون ۵۵۸ ماده وایي: (( که د عقد په تړون کې د زور د یوې نوعې واقع کېدل ثابت شي، عقد صحیح نه دی.)) (۸: ۵۵۸ ماده)

همدرانګه کوم شخص چې تر زور لاندې راغلی دی او تهدید شوی دی؛ د هغه عقد د تهدید پرمهال په فاسد ډول منعقد کېږي. په دې معنی چې د تهدید له لرې کېدو وروسته کولای شي چې عقد له منځه یوسي او یا هم ورته ادامه ورکړي. په دې اړه د افغانستان د مدني قانون ٥٦٠ مه ماده وایي: (( د تهدید شوي شخص عقد په فاسد صورت منعقد کېږي، که د تهدید د لرې کېدو وروسته تهدید شوی شخص په ضمني یا صریحه توګه دهغې اجازه ورکړي، عقد صحیح دی.)) (۸: ٥٦٠ ماده)

همدارنګه که چیرې زور په داسې یو عقد کې کوو چې هغه فسخه کېدلای شو، نو د فسخې دا حق د عقد د طرفینو په مرګ لمنځه نه ځي او هغه کېدلای شي چې وارثانو ته پاتې شي او بیا وراثان د قایم مقام په توګه عقد فسخه کړي او یا هم ورته ادامه ورکړي؛ په دې اړه د افغانستان مدني قانون ۵۵۹ مه ماده وایي: (که زور د فسخ کېدو وړ عقدونو د جملې څخه په کوم یو کې صورت موندلی وي؛ تهدید شوی کولی شي د هغې د دعوی وروسته عقد فسخه کړي. دا حق د تهدید کوونکي د مرګ سره یا د عقد د دواړو خواوو څخه د یوه په مرګ د منځه نه ځي، د مړي وارثان د هغه قایم مقام پېژندل کېږي.) (۸: ۵۵۹ ماده)

همدارنګه د مجلة الاحکام (۱۰۰٦) ماده په دې اړه وایي: ( لایعتبر البیع الذي وقع بالاکراه المعتبر، ولا الشراء، ولا الاجاره، ولا الهبة، ولا الفراغ، ولا الصلح، والاقرار،

الابراء عن مال، ولا تأجيل الدين، ولا اسقاط الشفعة ملجئاً كان الاكراه او غير ملجئی ء. ولکن لو اجاز المکره ما ذکر بعد زوال الاکراه یعتبر.)

ژباړه: د اکراه په حالت کې هیڅ یو عقد لکه: اخیستل، خرڅول، هبه، اجاره، صلح، اقرار،له مال څخه ابراء، د دین تأجیل او د شفعې اسقاط، ا عتبار نه لري که هغه ملجی ء اکراه وي او که غیر ملجی ء. مګر کله چې مکره، د اکراه له زوال څخه وروسته عقد ادامې ته اجازه ورکړه، معتبر ګڼل کیږي.) (۱۰: ۱۰۰٦ ماده)

پایله

د افغانستان د مدني قانون له نظره که چیرې یو څوک په ناحقه په داسې کار مجبور کړای شي چې هغه پرې راضي نه وي نو دغه عمل زور ګڼل کېږي. که چېرې دغه زور قوي وي او تهدید کوونکی شخص د تهدید د عمل په کولو قادر وي او هغه څوک چې تهدید شوی وي د تهدید د نه اجراء کېدو په صورت کې؛ د زور واقع کېدل هرو مرو وګڼي؛ نو په داسې حالت کې مدني قانون دا ډول عقد صحیح نه ګڼي او د فسخې حکم پرې ورکوي. چې د مدني قانون په اساس تر تهدید لاندې راغلی شخص کولای شي چې د تهدید له پای ته رسېدو وروسته عقد له منځه یوسي او یا هم کولای شي چې عقد ته ادامه ورکړي. لنډه دا چې که چیرې په یو عقد کې د زور یوه نوعه واقع شي عقد خپل صحت له لاسه ورکوي. نو لازمه ده چې باید د طرفینو ترمنځ داسې عقد ترسره شي چې دواړه پرې کاملاً راضي وي.

**مأخذونه**


۱. حقوقي اصطلاحات قاموس، کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، (۱۳۸۷ هـ ش کال).

۲. خالقیار، بشیر احمد، قواعد عمومی عقود وقراردادها، انتشارات سعید: کابل، ۱۳۹۱ هـ ش کال.

۳. دانش، حفیظ الله، د وجایبو حقوق، کابل: انتشارات سیرت، ۱۳۹۴ هـ ش کال.

۴. زحیلي، وهبه، الفقه السلامي وادلته، دارالفکر سوریه: دمشق، ج ۴.

٥. سلیم، احمدشاه، د بیعې پېژندنه او ارکان، قضاء مجله، پنځم کال، دریمه گڼه، ۱۳۸۷ هـ ش کال.
٦. شاداب، سید عنایت الله،د اسلامي حقوقو بنسټونه (دوهم ټوک) ، ژباړن: محمد اصف فدايي، مستقبل خپرندویه ټولنه، ۱۳۹٥ هـ ش کال.
٧. عدلیې وزارت رسمي جریده، (۱۳۹۳ هـ ش کال)، د سوداگریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، پرله پسې گڼه (۱۱٥۰).
۸. عدلیې وزارت رسمي جریده، (۱۳٥٥ هـ ش کال)، مدني قانون (دوهم ټوک).
۹. عوده، عبدالقادر، د اسلام جنائي تشریع او وضعي قوانین، ژباړن: عبدالهادي هدایت، پیغام خپرندویه مرکز، ۱۳۸۷ هـ ش کال.
۱۰. مجلة الاحکام العدلیة (دویم ټوک)، کابل، کمیسیون مستقل اصلاحات عدلی و قضائی دارالانشاء، ۱۳۸۱ هـ ش کال.
۱۱. نذیر، داد محمد، د اسلامي حقوقو اساسات (دوهم ټوک)، ژباړن: عبدالحمید وردگ، انتشارات رسالت، ۱۳۹۳ هـ ش کال.

**څېړنوال سلطانی منګل**

# قدرت د برتراند آرتور ویلیام راسل له نظره

**لنډیز**

قدرت یو فلسفي مفهوم دی چې د فلسفې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د برتانوي فیلسوف برتر اند راسل له خوا په فلسفي مفهوم سره وکارول شو او د قدرت د مفهوم بېلابېل اړخونه یې تشریح کړل . د قدرت مفهوم لکه چې په فزیک کې د انرژي په نوم زیات کارول شوی ، په فلسفي مفهوم سره هم کولای شو، هغه وکاروو .

د راسل له نظره انسانان دوه غښتلې غریزې لري، یوه یې د شتمنۍ د زېرمه کولو غریزه ده او بله هم د قدرت د تر لاسه کولو غریزه ده . قدرت یو فلسفي مفهوم دی. خو په ټولنیزو او سیاسي علومو کې یې یو ځانګړی محوري ځای نیولی دی .

قدرت کېدای شي په یوې ټولنیزې طبقې کې د غړیتوب یا د یوه سیاسي نقش د قبلولو له لارې تر لاسه شي. قدرت پرته له جنګ څخه هم ترلاسه کیدای شي. کیدای شي چې د ټولټاکنو له لارې یو انسان قدرت ته ورسیږي.

**سریزه**

د تاریخ په اوږدوکې د قدرت له پاره مبارزه شوې او د قدرت د لاس ته راوړلو له پاره زیاتې ستونزې ګالل شوي دي  چې په نتیجه کې قدرت ترلاسه شوې دی.

قدرت د جنګ، جګړو او ټولټاکنو په نتیجه کې رامنځ ته کېږي. ځکه چې قدرت له تناقضاتو او ضدینو پرته رامنځ ته کېدای نه شي. د دې کلمې تر شا د فلسفي عام او کلي قوانین شته چې هغه که څوک وغواړي او که یې ونه غواړي، عمل کوي. فلسفه په خپل ذات کې له عامو او کلي قوانینو څخه بحث کوي ، نو قدرت هم د جګړې د ضدینو د مبارزو د اخ او ډب پایله ده چې موږ یې د فلسفې د دغو عامو قوانینو په رڼا کې څېړو . قدرت ته رسیدل د فلسفې د عامو قوانینو د ضدینو د مبارزو پوره او بشپړه

برخه تمثیلوي یعنې له دوو متضادو اړخونو څخه د یوه نفې او د بل بریالیتوب رامنځ ته کوي قدرت ته رسیدل او یا د هغه ترلاسه کول په جنګ کې بریالیتوب دی یعنې هغه څوک چې قوي وي او پر کمزوري بریالی شي ، قدرت د هماغه سرړي په نصیب شي.

انګریزي لیکوال او فیلسوف برتر اند راسل په خپل اثر « قدرت » کې د سیاستوالو په اړه لیکلي دي چې د بشري سیاسي واکمنو هدف تر ټولو زیات د قدرت ترلاسه کول دي . دغه راز په اجساموکې د جاذبې قانون حاکم دی ... یوازې د دې رمز په کشفولو سره چې قدرت غوښتنه د سیاسي مهمو فعالیتونو ټاکونکی عامل دی. کولای شو چې د تاریخي ، بشري او سیاسي تحولاتو پیل له پخوانیو زمانو څخه بیا تر معاصرې زمانې پورې توجیه او تفسیر کړو . د فزیک په علم کې « انرژي » بېلابېل اړخونه لري چې پوځ او جګړه ییزې وسلې او تجهیزات هم په ځان کې رانغاړي.
باید وویل شي چې قدرت د عمل کولو له پاره لازم ظرفیت دی. ظرفیت یعنې د تولید پراخوالی یا د یوې ډلې د ظرفیت په اړه عمل کول په دې معنا دي چې هغوی په دې باندې بریالي شوي دي چې د قدرت له پاره منابع او سرچینې را جمع او هغه ته پراختیا ورکړي.
قدرت د عمل کولو میلان دی ، باید په ډله کې د عمل کولو ژمنه موجوده وي . که چیرې یوه پوځي ډله د عمل کولو له پاره پر لازمې وړتیا سربېره مهمات او د وړتیا وړ ځواک هم ولري، خو د جګړې ډګر ته د تللو اراده او تصمیم په کې نه وي، خو هغوی بیا هم په کمزوري حالت کې واقع وي. د دې له پاره چې په پیاوړتیا سره عمل وکړو، باید ظرفیت او همزمانه وړتیا موجوده وي. په یوه ښار، سیمه، قبیله یا هیواد کې هیڅ وخت کوم بدلون نه رامنځ ته کیږي چې خلک او بنسټونه یې ظرفیت، وړتیا او د عمل کولو له پاره اراده ونه لري او هڅې و نه کړي. په دغه صورت کې کیدای شي هغوي پیاوړي شي چې د ظرفیت، وړتیا او عمل کولو له پاره اراده پیداکړي.
**د موضوع مبرمیت:** د انساني ټولنې په چوکات کې د قدرت غوښتنې مسأله یوه بنیادي او اصلي غریزوي کړنه ده چې هر انسان په بېلابېلو بڼو د قدرت د تر لاسه کولو له پاره هلې ځلې کوي، نو له همدې کبله د قدرت مسأله یوفلسفي موضوع ده چې د برتراند آرتور ویلیام راسل له خوا په فلسفي مفهوم سره بیان شوې ده او مختلف

اړخونه په ځان کې رانغاړي. قدرت او د هغه مختلف اړخونه باید توضیح شي، ځکه دا غوښتنه د انسان غریزوي غوښتنه ده چې د قدرت د تیوري په اساس په ټولنیزو او سیاسي علوموکې یو ځانګړی ځای نیولی دی، د قدرت مسأله ډیره مهمه ده  چې باید په یوې څېړنیزې مقالې کې روښانه شي.

**موخې:** د دې مقالې موخه دا ده چې د قدرت اصطلاح او په فلسفي مفهوم سره دهغې کارول توضیح کړو. همدارنګه قدرت د جنګ، جګړو او ټولټاکنو په نتیجه کې لاس ته راځي، ځکه چې جنګ او جګړې د تناقضاتو  او ضدینو په نتیجه کې رامنځ ته شوي دي چې زورو په کمزوري بریالی کېږي او په پایله کې قدرت ترلاسه کوي. د قدرت د کلمې تر شا فلسفي عام او کلي قوانین شته او فلسفه هم د دغو عامو قوانینو څېړنه او له هغو څخه بحث کوي، نو قدرت هم د دغو عامو قوانینو د ضدینو د مبارزو د یووالي نتیجه ده چې یو نفې کوي او بل بریالیتوب ته رسوي. دغه اصطلاح په دقیقه توګه د فلسفې له خوا باید تحلیل او ارزیابي شي، نو د قدرت د پلي کېدلو له پاره باید له همدغو قوانینو څخه استفاده وکړو او په ټولنه کې یې د شرایطو په درک سره عملي کړو.

**د موضوع د څېړني میتود:** د مقالې په لیکنه کې له تشریحي او تحلیلي میتودونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د قدرت تعریف:** په لغت نامه د هخدا کې قدرت د «توانستن» او «توانایی داشتن» په معنا راغلی دی (۲: ۱۱۱)، خو په پښتو کې د قدرت اصطلاح د «وس» ، «ظرفیت» او «ځواک لرلو» په معنا کارول کېږي. مورګانتا قدرت داسې تعریف کړی دی: قدرت د هغو واحدونو چې قدرت اعمالوي او د هغو واحدونو چې قدرت پر هغوی عملي کېږي، تر منځ له اړیکې څخه عبارت دی. دغه اړیکه له دریو سرچېنو یعنې ګټې، وېرې او احساس سره تړاو لري چې د تهدید، جاذبې یا روحاني قدسیت له لارې عملي کېږي (۱: ۳۱مخ)

ریمون آرون د قدرت په تعریف کې د اقدام یا له منځه وړلو له پاره ځواکمنتوب معیار ګرځولی دی او زیاتوي: کله چې وګړی خپل قدرت له نورو سره په اړیکه کې عملي کوي، د سیاست د ریښتنی مفهوم شکل اخلي. (۱: ۳۱ مخ)

قدرت يو ډول څواکمنتوب په دی چې د پام وړ اغيزو د رامنځ ته کيدو وس لري او په دې توګه قدرت د کمي مفهوم پيدا کوي. (۳:۲٦مخ)

راسل د «قدرت » د مفهوم د تعريف او توضيح له پاره اساسي مساله د قدرت انګيزه بولي. راسل وايي: له هغه ځايه چې حيوانات يواځې په ژوند کولو او د مثل په توليد باندې قناعت او بسنه کوي ، خو دا د انسان له پاره د غوښتنو پيل دی او دغه غوښتنې د خيال په ساحه کې په داسې توګه چې کيدونکي دي محدوديږي ، هر انسان دې ته ميلان لري چې تر خپل وس پورې د خداي ځواک په څير پرمختګ وکړي او يواځي لږ شمير شته چې د دغه کار نه کيدل مني. (۳:۲۳مخ)

برتراند ارتور ويليام راسل (۱۸ می۱۸۷۲ ـ ۲ فيبروري ۱۹۷۰)، فيلسوف، منطق پوه، رياضي پوه، تاريخ پوه، اروا پوه، د نوبل د جايزې وړونکی او د برتانيې د سولې خوځند او فعال شخصيت و او په شلمه پېړۍ کې يې ژوند کاوه چې د جګړې او تاوتريخوالي ډېر سخت مخالف و.

راسل، قدرت د انرژي له علمي پديدې سره ورته بولي او د« قدرت» له ټولنيزې پېښې سره يې تر بحث لاندې نيولی او داسې توضيحات ورکوي: د فزيک په علم کې «انرژي» په عامه معنا سره علت العلل واقع کېږي او د ټولنې په طبيعت کې هم «قدرت» په کلي مفهوم سره د ټولنيزو بدلونونو اصلي محرک دی. هماغسې چې «انرژي» بېلابېل ډولونه لکه: ميخانيکي، الکترونيکي، کيمياوي، حرارتي، نوري، اتومي او نور لري «قدرت» هم په بېلابېلو بڼو وجود لري لکه: دوديز قدرت، اقتصادي قدرت، مذهبي قدرت يا روحاني قدرت، سياسي او نظامي قدرت او نور...

هابس هم په (تاريخ فلسفه سياسی غرب) اثر کې د قدرت په اړه داسې وايي:

د قدرت په اړه هڅې د خلکو د عمومي ميل لومړۍ خوځنده هيله ګڼم. دغه ميل دی چې يوازې په مرګ سره پای ته رسيږي. د دې وضعې لامل همېشه هماغه نه دی چې شخص له هغه خوند اخلي او لټوي يې او په معتدل قدرت باندې نه خوشحاليږي، بلکې دا دی چې هغه نه شي کولای چې قدرت او خپله شته وسيله د ښه ژوند کولو لپاره وساتي، پرته له دې چې قدرت په لاس راوړي. (۵: ۲۳۸ مخ )

راسل هم د قدرت په اړه وايي: انسان محدودې غوښتنې لري چې د بشر له نا محدودو غرايزو او غوښتنو څخه ډېر مهم يې دوه ډوله احساس دی: لومړی د قدرت

غوښتنه او دوهم د ویاړ تر لاسه کول. دغه دوه حسه له هغو ټولو پرله پسې والي سره سره په یوه کچه کې نه دي. د مثال په توګه په یوه متعادله ټولنه کې له سلطنتي رژیم سره چې په دموکراتیک ډول اداره کېږي د دغې قاعدې د ښه توضیح له پاره دا مثال راوړي چې د صدراعظم د مقام قدرت له ویاړ څخه زیات دی. په داسې حال کې چې په سلطنتي مقام کې ویاړ له قدرت څخه زیات وي.
په (اموزش دانش سیاسی مبانی علم سیاست نظری و  تأسیسی) اثر کې لیکوال بشیریه د قدرت په اړه داسې نظر لري:
قدرت د منابعو مجموعه او جبري او غیر جبري ابزار او وسایل دي چې حکومتونه د خپلو ځانګړو کارونو له پاره له هغو څخه ګټه اخلي او هغه په کار اچوي. قدرت او واک د منابعو ساتل، د هغه وېش او د هغه د نیولو له پاره مبارزه د سیاسي پوهنې یو له غوره بحثونو څخه ګڼل کېږي. ( ۱ : ۳۳مخ)
ډاکټرعلی صباغیان په (دین و اندیشه) مقاله کې لیکي چې: د سیاسي قدرت مفهوم له مهمو مفهومونو څخه دی په داسې توګه چې هغه د سیاست د جوهر په نامه یاد کړی دی. قدرت د سیاسي فلسفې په معنا په نورو باندې د هغوی د میل خلاف د یوه فرد د ارادې د تحمیل د توانمندۍ په معنا دی. قدرت اساساً د ټولنپوهنې  یو فلسفي مفهوم دی چې هم فزیکي قدرت او هم سیاسي قدرت په کې راځي او په یوه ټولنیز وضعیت کې څرګندېږي (۹: انترنت)
راسل چې د «قدرت» د بحث په طرحه کې د شلمې پېړۍ په سیاسي فلسفه کې مخکښ دی، د ده له نظره په ټولنه کې سیاسي قدرت له بېلابېلو ډولو سره راڅرګندېږي او له بېلابېلو سر چېنو څخه خړوبېږي، تر یوه کلي ماهیت لاندې د دغو ټولو بڼو د تفسیر په نتیجه کې باید په داسې توګه وي چې وکولای شي یو په بل باندې د قدرت د بېلابېلو بڼو ټول تغیرات او بدلونونه بیان کړي، ځکه چې قدرت هم د کمیت له پلوه ډېر زیات مصادیق لري او د یوه پراخ تفسیر له لرلو څخه پرته یو له بل سره د قدرت د  زیاتو بڼو سنجش او په هغو کې د قدرت د اندازې یا کمیت ټاکل له ستونزو سره مخامخ کېږي. (۳:۴۳مخ)
رابرت ګرین د خپلو کتابونو په سریزو کې قدرت تعریف کړی دی ځکه نوموړی په دې باور دی چې که خلک ونه پوهېږي چې قدرت څه شی دی، نو نه شي کولای چې

هغه لاس ته راوړي، نو له همدې کبله رابرت ګرین د قدرت په اړه داسې نظر لري او لیکي: قدرت، ستاسو د چاپېریال د وګړو پر ژوندانه، افعالو او رفتار باندې ستاسو د کنترول د میزان سنجش دی. د قدرت شتون دقیقاً داسې مهارت دی چې د انسان د طبیعت د ژور درد، د خلکو د انګېزو د درک او لازمې سمې چارې، د پرمختګ او یا د خپلې موضع ساتنه ده... قدرت هغه وخت زیاتېږي چې په غیر مستقیمه توګه اعمال شي، هېڅکله نه باید چې نور خلک په مستقیم ډول د یو کار سرته رسېدو ته مجبور کړي د زیات قدرت د کارېدو په ځای باید داسې کار وکړي چې هغوی په داوطلبانه ډول ستاسو د غوښتنو په طرف کې فعالیت وکړي. (۸: انترنت)

راسل مثال راوړي او دوه انځورګران په نظر کې نیسي چې دا دواړه هیله او میل لري چې یو تکړه هنرمند شي او بل یوازې شتمن شي، خو په عمل کې له دواړو څخه یو تکړه او بریالی هنرمند شي او بل یو یوازې شتمن شي. په دغه ځاي کې هېڅ داسې معیار په واک کې نه لرو چې د هغه په وسیله څېړنه وکړو، له دغو دوو تنو څخه کوم یو زیات قدرت لري، نو په واک کې د پرتله کېدو د وسیلې له لرلو څخه پرته کولای شو حکم وکړو چې که چېرې الف کس له ب کس څخه په زیاته اندازه خپلو غوښتنو ته تحقق ورکړي، نو الف له ب څخه ډېر زیات قدرتمند دی. (۳:۲۸ مخ)

همدارنګه راسل وایي چې: داسې وګړي موندل کېږي چې تبلیغات د قدرت موندنې اساسي عامل ګڼي. که څه هم دا ډول باور نوی نه دی او دغه فکر په یوه لرغوني متل کې تجسم موندلی چې وایي: د شهیدانو اوښکې د کلیسا نهالګی اوبه کوي. (۳:۲۸مخ)

په اوسني وخت کې دولتونه د تېرو په نسبت له زښت زیات اقتدار څخه برخمن دي او له بلې خوا د حکومت د سازمان طرز او د هغه د پراختیا کچه د زیات نفوذ او اغېزې غوښتونکي دي. د مثال په توګه د نظامي استبداد پر بنسټ حکومتونه، د روحانیونو حکومت او د شتمنو حکومت (الیګار شي) یو له بل سره بېل او توپیر لرونکي دي. همدارنګه د قدرت تحصیل د بېلابېلو لارو چارو د نقطه نظر له پلوه هم یو له بله سره توپیر لري. مثلاً یو شمېر خلک ستر کلیسایي حکومت رامنځ ته کوي. همدارنګه دموکراسي بیا بل ډول حکومت رامنځ ته کوي او دیکتاتوري حکومت بیا ځان ته بېلې پایلې رامنځ ته کوي. له هغه ځایه چې د حکومت په ټولنیزو سازمانونو لکه

ارستوکراسي او ماکیا ولستي کې دا ډول خنډونه نه شته چې د هغو کسانو په مخ کې یې محدودیتونه وضع کړي وي چې قدرت ته د رسېدو له پاره هڅې کوي، زیات شمېر خلک چې د قدرت د تر لاسه کولو له پاره ډېر زیات تمایل لري، د قدرت په ګدۍ تکیه کوي. په همدې ډول په یوه «دموکراتیک» ټولنیز سازمان کې د مقاماتو ترکیب او د قدرت مرکزونه معمولاً له ځانګړو وګړو څخه دي چې له عادي خلکو څخه بېل دي او هغوی د سردارۍ «سیادت» غوښتنې د روحیې لرونکي دي.

که څه هم قدرت غوښتنه د بشر له ډېرو قوي تمایلاتو څخه ده، خو د بشر په منځ کې په یو نواخت ډول نه دي وېشل شوي او په ډېر شمېر وګړو کې بېلابېل تمایلات لکه راحت طلبي، لذت غوښتنه او کله هم تایید او تسلیم ته میل هم هغه محدود کوي. د ډارنو کسانو په روحیه کې د قدرت غوښتنه و قدرتمند مخکښ ته د تسلیم تمایل په بڼه تظاهر کوي او په نتیجه کې د زړورو سردارۍ لټوونکو له پاره د ویاړ ډګر د هر وخت له پاره پرانیستی پاتېږي.

راسل وایي: هغه کسان چې  د قدرت غوښتنې غریزه یې زیات شدت نه لري، پر ټولنیزو تحولاتو ډېره لږه اغېزه اچولې او هغه کسان چې هغوی د ټولنیزو پېښو رامنځ ته کوونکي دي او دغه ډول کړنو ته میل په خپل ځان کې په ډېر قوت سره احساس کوي، د دا ډول خلکو له مشخصه ځانګړتیاوو څخه د ځان مهم ښودل دي. (۳:۳۰مخ)

سره له دې که چېرې د قدرت غوښتنې غریزه په ټولنیزو بدلونونو کې یوازې د محرک اصلي عامل فرض شي، مسلماً له  تېروتنې څخه به خالي نه وي. راسل د «قدرت» د مفهوم په اړه یوه بله مهمه مساله مطرح کوي چې هغه د رهبرانو او پیروانو مساله ده. د قدرت د مفهوم په تحصیل کې دوه ډلې یا دوه کتګورۍ وګړي تشخیص کوي: یوه ډله د قدرت خاوندان، مخکښان یا رهبران او بله ډله پیروان دي. راسل وایي: د قدرت انګېزه په دوو بېلابېلو ډولو را څرګندیږي یا په پرانیستي (باز) او صریح حالت په رهبرانو کې  لیدل کېږي او یا په « تړلي یا ضمني » بڼه چې په پیروانو کې لیدل کېږي. کله چې یوه ډله په خپله خوښه د یوه پېشوا یا مخکښ تابعیت کوي او هغه په دې دلیل دي چې د هغه قدرت ته یې سترګې نیولي دي چې هغه د نوموړي رهبر تر مشرتابه لاندې لاس ته راوړلی شي. یعنې په حقیقت کې د ده مادي ګټې یا

د هغه روحي تمايلات د مخکښ يا رهبر په بريالیتوب کې تر لاسه کېدای شي. (۳:۳۲مخ)

راسل د اروا‌پوه «ادلر» له نظره دا خبره يادوي چې هغه په خپل يوه اثر «د بشري طبعو پېژندګلوي» کې ليکلي ده: د انسانانو په خټه خميره کې دوه متمايزې بېلګې يعنې فرمان چلوونکی او فرمان وړونکی طبيعت شته. نوکرمآب هغه څوک دی چې هر وخت دې ته متمايل دی چې د يوه بادار مطيع او منقاد وي. پر دې بنسټ په ټولو حالاتو کې له دغه دروني کيفيت سره سم د دندې غوښتونکی وي. برخلاف هغه څوک چې د آمر د ټيپ او اروا درلودونکي وي په دايمي توګه د خپلې خټې خميرې د برياليتوب له پاره په جوش او خروش کې وي او په هغو ډګرونو کې چې د پيشوايانو يا مخکښانو راڅرګنديدل ممکن کوي، هلې ځلې کوي او هڅه کوي چې په انقلابونو او پاڅونونو کې د رهبر نقش ولوبوي (۴:۱۴مخ)

د تاريخ په شهادت له ډېرو غښتلو ټولنيزو رهبرانو څخه ځينو په انقلابي حالاتو کې وده کړې ده چې د کرامول، ناپليون او لينن نومونه يادولاي شو. دغو درېواړو په بحراني حالاتو کې په خپلو هېوادونو باندې تسلط موندلی او د مقتدرو وګړو له خوښې او رغبت سره يو ځای يې د باور او اعتماد جلب وکاوه چې د خپلې خټې خميرې او طبيعت پر حکم مطيع او فرمان بردار نه وو . دغو درېواړو شخصيتونو خارق العاده شجاعت او په خپل نفس اعتماد درلود او دغه اوصاف له هغو ځانګړتياوو سره ملګري وو چې د ده چارچاپېره کسانو هغوی په حساسو او بحراني شېبو کې د ارزښتناکو قواوو په توګه منلي وو.

راسل دغې موضوع ته په اشاره سره ليکي: د کرامول او لينن په طبيعت کې يو ډول خصوصيات څرګند وو او د ناپليون په خټه او طبيعت کې بل ډول ځانګړتياوو وجود درلود. لومړي دوه تنه تعقيب آميزه اعتقادات لري چې کرامول د مذهب اسير و او لينن د مسلک بنده و. دواړو د دې ادعا لرله چې بشري لوړو غوښتنو او ارزوګانو ته د تحقق ورکولو له پاره رسالت لري او په همدې دليل د قدرت غوښتنې د انګېزې په حقانيت يې باور درلود. د ناپليون وضع له دغو دوو تنو څخه بېله وه. ناپليون د يوه نيکمرغه سرتيري عالي بېلګه وه، انقلاب هغه خپل مراد ته ورساوه، بيا وروسته يې په هغه تکيه وکړه. دی لکه انقلاب د خپل قدرت غوښتنې طبيعت د ارضا په خاطر د

فرانسي له حالاتو څخه ګټه پورته کړله. د ده بریالیتوبونه د ده د خارق العاده دماغي ځانګړتیاوو مرهون نه وو، بلکې د بشپړو جنګي وړتیاوو له امله وو چې نورو به د ده په مقابل کې ماتې خوړله. (۳:۴۷مخ)

راسل له رهبرانو او پیروانو څخه پرته د یوې دریمې ډلې یادونه هم کوي، د ده له نظره: په ټولنه کې د وګړو دریمه ډله هم شته چې د دغو دوو ډلو د خصایصو په مقابل کې عقب نشیني کوي. داسې کسان شته چې د اوامرو د دفع قدرت لري یعنې د هغه اقتدار لرونکي دي چې د نورو د قدرت ژغ په خپلو اوږو نه پرېږدي او له بلې خوا د برترۍ غوښتنې او فرمانروایي حس هم لري. دغه ډله وګړي په آسانۍ سره د یوه ټولنیز سازمان غړیتوب نه مني او په هر موقعیت کې د محفوظ او آرام موقعیت او پناه په لټه کې وي، تر څو د انزوا او آزادۍ له خوند څخه برخمن وي. (۳ : ۴۷مخ)

د راسل له نظره یو عامل چې یو عادي انسان یوه رهبر ته تسلیموي او د هغه د رهبرۍ قدرت ته غاړه ږدي، هغه د وېرې احساس دی. په دغه مورد کې وایي: کله چې یو رهبر د خپل مراد په مرکب سپور شو، کولای شي په پیرو وګړو کې د وېرې او ډار احساس تولید کړي. وروسته له دې څخه چې موقعیت یې د رهبر په عنوان تحکیم شو او اکثریتو د ده مشرتوب ومانه، نور نو د وېرې القا په ډېرې آسانۍ سره امکان لري. د رهبر د بریالیتوب د تر لاسه کېدو له پاره باید نوموړی شخص د لازمو کیفیتو لرونکی وي؛ لکه په نفس اعتماد، په تصمیم نیولو کې وړتیا، له مناسبو موقعیتونو څخه ګټه اخیستنه او نور. (۷: ۵٦مخ)

په دې توګه وېره او کمزوري د قدرت غوښتنې انګېزه محدود او په پایله کې د فردي تګلارو د تعقیب آرزو هم محصور کېږي. دا چې قدرت انسان د خپلو ارزوګانو په تحقق باندې بریالی کوي او له هغه ځایه چې قدرت احترام را پیدا کوي او قدرت غوښتنه تر هغې اندازې پورې چې د انسان شهامت اجازه ورکوي یعنې د وېرې د مداخلې تر کچې پورې، یو طبیعي کار دی او د دغه مسؤلیت د منلو له امله دغه وېره کمښت پیدا کوي او له هغه سره موازي، شجاعت شدت پیدا کوي. په داسې ډول چې دغه بهیر د قدرت غوښتنې د غریزیې د ارتقا اسباب برابر وي. د هر شقاوت، استبداد او د وینې تویېدل د ټولنې په وګړو کې دوه ډوله اغېزې کوي: هغوی چې ډارن او تسلیم کېدونکې دي ، فرار غوره کوي او منزوي کېږي. خو هغوی چې

شجاعت او مېړانه لري، تحریک کېږي او هر وخت د مناسب موقعیت مترصد وي چې د هغو بې رحمیو غچ واخلي چې تحمل کړي یې دي .

جان کینت ګالبرایت د اناتومي قدرت په اثر کې د قدرت په اړه لیکي :

برتر اند راسل په پاي کې دې نظر ته ورسېد چې قدرت د لویې په شمول د بشر له خورا لوړې هیلې څخه دی او د هغه تر ټولو لویه ډالی وه او ده. (٦: ٧ مخ )

## پایله

په پایله کې ویلای شو چې د قدرت مفهوم یو سیاسي فلسفي مهفوم دی او د فلسفې په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره انګلیسي فیلسوف برتر اند راسل په فلسفي لحاظ وکاراوه. د فزیک په علم کې «انرژي» بېلابېل اړخونه لري چې یو له هغو څخه د اضدادو او تناقضاتو فلسفه ده چې د هغوی څخه په طبیعي اجسامو کې د جاذبې قانون حاکم دی، همدارنګه په ټولنیزو پدیدو کې هم د علمي فلسفې د عامو قوانیو په رڼا کې د یووالي او اضدادو قوانین شته دي چې په یوه شي کې د جذب او دفع دنده پر غاړه لري قدرت هم د دوو متضادو قواوو څخه رامنځ ته شوی دی چې د زور او کمزوري ترمنځ د مبارزې پر دوام ټینګار کوي چې په پایله کې زورور په کمزوري بریالی کېږي او د کمزوري څخه زورور قدرت ترلاسه کوي.

قدرت د عمل کولو لپاره لازم ظرفیت دی. ظرفیت یعنې د تولید پراخوالی یا د یوې ډلې د ظرفیت په اړه عمل کول. په دې معنا چې هغوی په دې باندې بریالي شوي دي چې د قدرت له پاره منابع او سرچېنې راجمع او هغوی ته پراختیا ورکړي.

قدرت د عمل کولو وړتیا ده، په دغه وړتیا کې استعداد او د مطلوب کار په اړه صلاحیت لرل هم اړین دي، خو قدرت نه ښه دی او نه بد.

هغه څه چې قدرت ښه او بد کوي، اراده او ژمنه ده چې د قدرت خاوندان هغه پلی کوي. نو د قدرت غوښتنې مسئله یوه بنیادي او اصلي غریزوي کړنه ده چې هر انسان په بېلابېلو بڼو د قدرت د ترلاسه کولو له پاره هلې ځلې کوي، ترڅو چې په هرډول وي ترلاسه یې کړي، هغه که له مشروع لارې وي او که له غیر مشروع لارې وي. خو ښه دا ده چې قدرت نه باید د زور ، نفوذ او نه له نامشروع لارې څخه تر لاسه

شي، بلکې د آزادو ټاکنو له لارې باید قدرت ته ځانونه ورسوو چې دا د اوسنیو پرمختللو نظامونو د دیموکراسۍ ډېر اعلی او پرمختللی شکل دی.

**وړاندیزونه :**

۱- هر انسان په غریزوي لحاظ د قدرت د تر لاسه کیدو له پاره هلې ځلې کوي. له همدې امله دولت د ټولنیزو رسنیو له لارې باید داسې تبلیغات وکړي او ټول خلک په دې پوه کړي چې قدرت له مشروع لارې تر لاسه کړي.

۲- علومو اکاډمي که پر دغې مسالې باندې یو علمي سیمینار جوړ کړي، نو له دې لارې به یې د دموکراسۍ د اساساتو د بنسټیزه کېدو له پاره محکم گام پورته کړی وي .

**مآخذ:**


۱ ـ بشیریه، حسین. آموزش دانش سیاسي مبانی علم سیاست نظری و تأسیسی، تهران: موسسه نگاه معاصر،۱۳۸۲.

۲ ـ دهخدا، علي اکبر. لغتنامه دهخدا. مؤسسه لغت نامه دهخدا، ناشر: دانشگاه تهران: دوره جدید، ۱۳۷۷.

۳ ـ راسل، برتر اندآرتور ویلیام. قدرت، د هوشنگ منتظری ژباړه، تهران: مؤسسه مطبوعاتی عطایی، ۱۳۴۶.

۴ ـ طلوعی، محمود، فرهنگ جامع سیاسي. چاپ سوم موسسه نشراتی، تهران: ۱۳۸۵.

۵ ـ عالم، عبدالرحمن. تاریخ فلسفه سیاسي غرب (عصر جدید وسدهٔ نوزدهم)، د بهرنیو چارو وزارت، تهران: د خپرونو او چاپ مرکز، ۱۳۷۷.

٦ ـ گالبرایت، جان کینت «اناتمې قدرت» ترجمه: محبوبه مهاجر، تهران: سروش، ۱۳۷۱.

۷ ـ مینو افشاري راد بخشي علي اقا. فرهنگ علوم سیاسي، تهران: ۱۳۸۳.

۸ ـ http:\ occident study.ihcs.as.ir بازشناسی مفهوم قدرت در اندیشه فوکو (نوسیندگان : هیرش قادر زاده ، هادی نوری، عباس نعیمی).

۹ ـ http:\ hamshahri on line .ir دین و اندیشه ، همشهری آنلاین : داکتر علی صباغیان.

***Senior Research Fellow Shir Ali Tazri***

# The importance of Lajward (Azure) Road for The Development of Commerce in Afghanistan

**Abstract:**

To overcome the transit challenges with the neighboring countries and to reach to the free water zone, Afghanistan, in 24 Aqrab 1394, proposed the rebuilding of the historical Azure Road to the neighboring countries and fortunately the proposal has been accepted. For the landlocked countries, the rebuilding of this kind of roads is very important. Besides its important role in economic and commercial developments of countries, situated alongside the way, this historical road will also play important role in connecting the South Asia with the Europe that will expand the political, cultural, security and military relationships among them and it will pave the way for attracting tourists as well. Finally, it is expected that this road help the countries to overcome the regional conflicts and challenges.

The Azure Road Agreement will facilitate the commerce and will easy the condition for the business and investors in Afghanistan. With the establishment of this way, once again Afghanistan will become the hub for regional and international transits. Beside the optimistic view for the road, one should not ignore the challenges existed in front of the road, which are briefly pointed out in this paper.

---

***Senior Research Fellow Sharif zadran***

# Khoshal Khatak and History writing

**Abstract:**

Khushal khan Khattak (1613_1691) lived and resisted during the three indian Gorkani rulers: Noor U Din Mohammad Jahangeer (1605_1627), Shahab U Din Mohammad Shah Jahan (1627_1659) and Mahi U Din Awrangzeb Alamgeer (1659_ 1707) era.

Khushal Khan on one hand fought for the independence of the country against Moghols and on other hand he has immensely contributed to the fields of education, philosophy, science, literature and written history.

He has portrayed a very accurate and strong history of his period in his poems and Qaseda.

"Bayan" is a collection of Khushal Khan's notes about different historical events of his time and Afzal Khan Khattak has used them while writing history.

Although Khushal Khan does not have any specific published work in the field of history, but while writing Dastar Nama he had promised to publish a history book after his release from jail, and he fulfilled this promise by naming his history ‘' Murfey" which later after his death, his grandson Afzal Khan, published an important historical work under the same title.

---

***Research Fellow Dr. Farooq Ansari***

# A hesitation on the situation of the social layers in Ghaznavi's period

**Abstract:**

The social situation during the period of Ghaznavi's, especially, discussion on its layers' condition conducted in this research inscription; because during the kingdom period of Ghaznains (351-444 AH), positive and negative changes and evolutions occurred in different aspects, such as; political, economic and social lifetime in Ghazni and Afghanistan. Including the opening and conquests to two sides, Iran and India, multiple booties and vast wealth transferred to Ghazni, in the same condition, three layers formed among the society; 1. Best layer (includes, the king, ministers, grandee, noblesse), 2. Middle layer (includes, advisors, businessmen, owners and large clerics), 3. Low layer (includes, the majority of labor people and tenderer farmers, taxpayers and slaves), while the grandee and noblesse rewarded by all privileges, also the middle layerwas not tolerate high difficulties by relying on their own wealth and asset. The third layer or low layer of society excluded of all privileges, it seems they born to provide tax, slaving, and expectations and anxieties for above layers. All of the mentioned topics are study and review in this research.

***Senior Research Fellow Naqibullah Saqib***

# A Research on; the contribution of modern technology in the determination of identity in Afghanistan

**Abstract:**

When the determination of identity takes place due to modern technology in Afghanistan, it will be lucidly cleared that how easily we can find out the exact DNA of the people. The identification of DNA on the determination of identity has favorable role across the globe specifically in Afghanistan. Fortunately, due to the modern technology we can easily find out significant information through which we restrain the multilateral conflicts of the day and the days to come. In a result of the DNA checkup due to modern technology, the identity of the suspect person will be easily determined. Consequently, through this way we can upkeep the social and criminal justice which itself is delighted news for the development of the society.

---

***Assistant Research Mohammad Musa Hajizada***

# President crimes and it's procedures in Afghanistan Legal System

**Abstract:**

Generally, there are three kinds of courts, public, exclusive and special courts in Afghanistan legal system. Special courts has been specified for special persons, like president,

ministers, chief and supreme court members courts in constitutional law that if they commit crimes then the special courts will handle it. In this essay the main discussions are evaluating, criticizing and specifying the president crimes and it's procedures in constitutional law. It seems that president court is a political court and doesn't have any freedom in justice procedures. There are some legal problems in compound, procedure, verdict, communication of verdict and other issues that are needed to get significant and legalize solutions.

---

***Assistant Research Abdulkhaliq ferdaus***

# Types of lawsuit

**Abstract:**

Lawsuit or claim has different types, from the point of corrected and uncorrected it is divided into two types the first is corrected lawsuit (in this type of lawsuit, all conditions of accuracy are completed, in court it is acceptable) the second is uncorrected lawsuit (it is not corrected in principle, in court it is unacceptable and also cannot be corrected).

From the point of object it is divided into five types (claim of object or things, claim of dept., claim of sharia law, criminal claim and computation claim). When the subject of lawsuit is object it called object claim, when the subject of lawsuit is dept it is called the dept. claim, when the subject of law is the sharia law it’s called sharia law claim, when the subject of the lawsuit is criminal issue it’s called the criminal claim and when the someone crack some obligatory action and to accomplish forbidden act the government submit the claim, it’s called computation claim.

---

***Assistant Research Khoshal Tasel***

# The Significance of "CASA 1000 Project" on Afghanistan's Economic Development

**Abstract:**

The "CASA 1000 Project" is the title of a great economical and commercial project in the region which can connect four countries such as Qarghazistan, Tajikistan, Afghanistan and Pakistan which provides a big commercial market of electricity on regional level. This project is passing through central Asia (Qarghazistan and Tajikistan) countries in order to transfer its electricity to Afghanistan and Pakistan.

The "CASA 1000 Project" estimated value is of USD $1.2 million in which Afghanistan's share has been calculated of USD $ 404 million. The length of this project is about 765 Km which only 562 Km goes through the Afghanistan land to Pakistan where two Connector Stations will be built in Tajikistan and Pakistan respectively. The "CASA 1000 Project" will goes through 700 localities, 23 districts and 7 provinces in Afghanistan. This project under the title of "Community Support" will provide public projects with a value of USD $40 million for 152000 families who are stilled in a sequence of 2 kilometers far away from this project. This will be implemented by the Ministry of Rural and Rehabilitation based on demand of people and those families who are affecting by the implementation of this project should have benefited from this project.

On the other hand, implementation of this project would help the people to find jobs in the short and long run as well. Moreover, the financial resources being obtained annually from this project will be around USD $ 2 million that will be used for the infrastructure of this project in the area.

However, Afghanistan will annually earn USD $ 45 to $ 50 million from this project and if the electricity power transformation extends more than 6 months, then the annual revenue will increases to USD $ 100 million.

---

***Researcher Shah Sanam Omri Jabar khail***

# Edjucation and Training in modern Osmani society

**Abstract**:

In the history of the Ottoman Empire, they have called a period t adjustment or the era of new reforms that was a major evolution happened in replacing the old institutions with new institutions and sometimes taken from Western-patterns institutions and there was a major evolutions occurred in education and expansion of educational institutions on that time.

The development of schools as educational institutes, the Ottomans was as whole, powerful as the institutions of scientific and culture life influenced by the authority of central government. The political stability and economic well-being that the state created in the community encouraged the most European Scholars to coming to Istanbul and work there.

---

***Assistant Prof Mohammad rahim (khaksar)***

# The Afghanistan's water resources and its effect of national security

**Abstract:**

Water has very important role in the life, Quran karim also relate the life of human with water, in today's world the water is the essential element of human development.

All the countries try to have the water resources in their hand, in international security and politics when the water resources become strategic then the international obstinacy and difficulty has just start, therefore water and its resources become the potential of obstinacy.

Even before Second World War the water resources was the best knot for the attackers, the water resources also has its important role in national security from different angles, but unfortunately we did not take benefit of water properly, in this piece of writing we discussed the role of water resources on national security.

---

***Assistant Research Abdul Sabor Mobariz***

# Reluctance and its effects on a Contract from the perspective of Afghanistan Civil Law

**Abstract:**

Contract is considered one of crucial elements of social life, it would be quite fair to say that all human relations are subject to contracts and are based on two or more than two wills provide these wills must be free of any flaws. Should a Contract Willpower be defected or flawed, it directly affects a contract– subject to inaccuracy. One of the flaws that effect a

Contract Will is reluctance, it means that when a [will] is issued due to someone else's coercion, this [will] is deemed imperfect, I have discussed issues related to the existence of reluctance in a contract in my research. The following issues have been discussed in this analytical piece of writing: definition of reluctance, types, conditions and the effects of reluctance. Reluctance could occur both in criminal and civil issues, consequently can affect actions carried out in both areas. A contract is revoked if reluctance occurs within it, whenever reluctance occurs in a contract: a person forces another person to sign a contract, is revocable; both Islamic jurisprudence and state laws agree on this. All my writing circulates on this issue; the readers would acquire adequate information and well elaborated insight after reading it.

---

***Research Fellow Sultani Mangal***

# The study of Power from Rossal perspective

Abstract

Power is a philosophic concept which is used for the first time by the British philosophe Barter Andhra Rossal as a philosophic concept in philosophy history, explained various sides of power concept. Concept of power as it is used in physic on the name of energy can use it with philosophic name too.

According to Rossal, humans have two stout natures; the first one – the nature of seeking materials and fortune and the second one, seeking and occupying of the power. As aforementioned, power is a philosophic concept can be used in human and natural sciences that attracted human's attention

in life but it has so much remarkable position in social and political sciences.

Power can be achieved through a membership or political role in a society; the struggles of folks, rich and despotism can help in achieving the power.

# List of content


| No | Title | Author | Page |
|---|---|---|---|
| 1 | The importance of Lajward (Azure) Road… | *Shir Ali Tazri* | 180 |
| 2 | Khoshal Khatak and History writing | *Sharif zadran* | 181 |
| 3 | A hesitation on the situation of the social layers… | *Farooq Ansari* | 182 |
| 4 | A Research on; the contribution of modern... | *Naqibullah Saqib* | 183 |
| 5 | President crimes and it's procedures in Afghanistan Legal… | *Mohammad Musa Hajizada* | 183 |
| 6 | Types of lawsuit | *Abdulkhaliq ferdaus* | 184 |
| 7 | The Significance of "CASA 1000 Project"… | *Khoshal Tasel* | 185 |
| 8 | Edjucation and Training in modern Osmani… | *Shah Sanam Omri Jabar khail* | 186 |
| 9 | The Afghanistan's water resources and it's… | *Mohammad rahim (khaksar)* | 187 |
| 10 | Reluctance and its effects on a Contract… | *Abdul Sabor Mobariz* | 187 |
| 11 | The study of Power from Rossal perspective | *Sultani Mangal* | 188 |

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Senior Research Fellow Shah Mohammad Maihanwerd

**AS. Editor:** Rafiullah Irfan

**Editorial board:**

Senior research fellow Sher Ali Tazari

Senior research fellow Abdul Jabar Abed

Senior research fellow Muhammad Mosa Rahimee

Research fellow Farooq Ansari

Research fellow Wajih ullah Shpoon

**Composed & Designed By:**

Rafiullah Irfan

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.